فتاویٰ یعقوبیہ

تالیف

ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الباہر

شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ نوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ کوئٹہ



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

فتاوٰی

یعقوبیہ

جلد (٤)

تألیف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریظ

شیخ الحدیث و التفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن .

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اھتدیٰ بھدیہ المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیہہ المفتی النبیہ الشیخ عبدالرازق زید مجدہ المدیر باالمدرسة المحمدیة فی کویتہ و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاھم آشغالی و تفاقم ھمومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منھا عثرت علی تفوقہ و عموم و قوفہ فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقہ الحنفی دقا وجلا و من ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیہ ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السھلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جھودہ و مساعیہ فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفھا قبلھا ووفقہ لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوھا و یستفیدوا منھا خذما نظرت ودع شیئا سمعت بہ . فی طلعة الشمس ما یغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد لله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوا الالباب وصلوات ربي و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چې ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چې پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چې د ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص دا وویل چې صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چې ډیری داسې جدیده مسائل پکښې سته چې متقدمینو نه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی باکستان .

الحمد للہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ ؐ علیٰ آلہ واصحابہ نجوم الھدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ اما بعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعی من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہو کر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اور اردو زبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات وتراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود بیوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالی اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

فهرست


فتاوی

یعقوبیہ

جلد ٤

تالیف

[illegible]



[illegible]

[illegible]

[illegible]

دکتاب لنډه پيژند ګلوي

****

دکتاب نوم: کتاب الطهارة
مؤلف: مفتي عبدُالرّازق ګدنوي
کمپوزر: راز محمّد راز،مرکز کتابت کوټه
دخپريدو کال: ۲۰۲۰ عيسوي
صفحات: (   )

﴿مایتعلق بالحدیث﴾

لولاك لماخلقت الافلاك حدیث صحیح دی که نه؟

سوال: ......یو مولوي صاحب په مسجد کي درس قرآن ورکاوه په هغه کي یې دیو نعت خوان د لاندیني اشعارو تردید وکړی:

نہ زمین ہوتی نہ آسمان ہوتا
نہ عرش ہوتا نہ کرسی ہوتی
نہ لوح محفوظ ہوت
ی نہ خدای کی خدائی ہوتی

مولوي صاحب وویل چي دغسي ویل گناه کبیره ده او حدیث لولاک لما خلقت الافلاک یې موضوعي وباله، په دغه مسجد کي جګړه وسوه، نو تاسي واضح وفرمایي چي د مولوي صاحب دغه ارشاد صحیح دی که نه؟

جواب: ......اوس وخت د پاکستان اکثریت عوام په افراط تفریط کي مبتلا دي. نعت خوان هم غلو کوي او د هغه په جواب کي یوځه علماء هم غلو کوي د اعتدال څخه کار اخیستل ضروري دي. د لولاک لما خلقت الافلاک الفاظ موضوع دي لیکن مفهوم یې صحیح دی.

حدیث نجد او محمد بن عبد الوهابؒ:

سوال: ......په مشکوة شریف کي دي چي حضورؐ د ملک شام او یمن دپاره

دعـائې خیـر وکـړلـه یـو صـحـابيؓ عـرض وکـړی چې زمـوږ و نجد تـه هم دعا وفـرمـایـلـه نـو حـضـور ﷺ وفـرمـایـل د هغـه ځای شخه بـه فتنې او زلزلې پـورتـه سي او هلتـه بـه د شیطـان سینګ (ښکـر) پیدا سي نو آیا نجد پـه یمن کـې دی؟ او ددغـه پېش کـویـي مـصـداق محمد بن عبد الوهاب دی یا اسود عنسي؟ آیا ټول اهل حدیث د محمد بن عبد الوهاب ګروه او ډله ده؟

جواب: ...... د مشـکـوة شـریف حـدیث صـحیح دی مګر د دغـه حدیث څخه محمد بن عبد الوهاب مراد اخیستل صحیح نه دي .

او خـاص دا چـې نـجـد پـه یمن کې نه دی او غـیر مقلدین د محمد بن عبد الوهاب جماعت یا ډله بلل هم بلا تحقیق خبره ده . فقط والله اعلم .

"والله لا ادری ما یفعل بی

" حدیث سته یانه:

سوال: ......زیـد وایـي "والـلـه لا ادری ما یفعل بی و لا بکم" حدیث دی عمر وایـي چې دا حـدیـث نـه دی او دغـه تـه حدیث ویل هم صحیح نه دي . تاسو صحیح صورت بیان کړئ؟

جواب: ...... و دغـه تـه د قریب قریب الفاظ اعلان . . . . حضورؐ سره پـه قرآن مـجـیـد کـې کـړل سـوی دی پـه سورة احقاف کې دی . ﴿قُلْ مَا كُنتُ بِدْعاً مِّنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِىْ مَا يُفْعَلُ بِىْ وَلَا بِكُم﴾ (الایة) پـه یو بل حدیث کې دا الفاظ دي:

"والـلـه لا ادری و انا رسول اللّٰه ما یفعل بی" الحدیث اخرجه احمد، ابن کثیر ج ٤ ص ١٥٥، وفـی روایة مـا ادری و انـا رسـول اللّٰه مـا یفعل بـه ـ اهـ الحدیث .

پـس د دې الـفـاظـو څـخـه انـکـار کـول غلط دی . حدیث خو خیر پـه قرآن

حکيم کي ددغو الفاظو اعلان کړل سوی دی . د قرآن حکيم الفاظ خو بلا شبه ثابت دي پس انکار يې غلط دی هو! صحيح معنی يې معلومه کړئ .

حضرت حسن بصريؒ وغيره حضراتو څخه منقول دي چې د دې څخه مراد د نوي انجام څخه د لا علمي اظهار دی چې نه ده معلومه چې زه به د مکې څخه و ايستل سم که نه . طبعي مرګ به راسي که شهادت . و غيره ذلک . د دغو امورو په باره کي د علم نه درلودلو بيان کړل سوی دی اخروي انجام خو حق جل شانه ورښوولی وو او هغه معلوم وو .

د عليؓ د ښار(شهر) د علم دروازه ده دغه حديث موضوع دی:

سوال :......حضورؐ وفرمايل زه د علم شهر (ښار) يم . أبو بکرؓ يې بازار دی عمرؓ د هغه عمارت دی عثمانؓ د هغه زينت دی او حضرت عليؓ يې دروازه ده . يو صاحب وايي دا حديث غلط دی . هغه دا وايي چې حديث صرف داسي دی چې زه د علم ښار يم عليؓ د هغه دروازه ده . باقي ټوله غلط دی .

جواب :......د آنحضرت ﷺ څخه په دغه الفاظو صحيح يا ضعيفه حديث ثابت نه دی . د دمشق لوی واعظ پر ممبر ناست وو دغه يې تيار کړی وو . لږ په الفاظو کي يې تغير سته خلکو چې د هغه څخه د سند مطالبه وکړه نو هغه هيڅ سند يې نه سو پيشولای .

خلاصه دا چې دا يو حديث نه دی . د قصې ويونکو مبالغې دي . (اللآلی المصنوعة ج ۱، ص ۲۳٦)

په يو آيت او حديث كي تطبيق:

سوال: ......څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په باره كي چي رب تعالى (ج) په خپل كلام كي فرمايي: فمن يعمل مثقال ذرة خيرا الخ و من يعمل مثقال ذرة شرا الخ اه په يو حديث شريف كي راغلي دي چي كوم سړى باوجود طاقت مالي بدلي د حج له سعادت څخه مستفيض نه سي د هغو خاتمه به پر يهوديت او نصرانيت كيږي . او كما قال . نو د حديث شريف څخه معلومه سوه چي مذكوره سړى چي حج ادا نه كړي نو د هغه بقيه اعمال فرائض به باطل وي .او د آيت كريمه مضمون ددغه برعكس دى، ددې تعارض تطبيق به څنګه وي؟

جواب: ...... د آيت مطلب دا دى چي كومه ګناه معاف نه سوه دهغې سزا به ضرور ميلاويږي . او كومه نېكي چي ضائع نه سوه نو د هغې جزاء به ضرور ميلاويږي لكه چي د نورو آيتو او أحاديثو څخه هم ثابته ده . د اسلام د قبلولو څخه مخته ډېري ګناهوي وي ليكن د اسلام د قبلولو څخه هغه ټولي ختميږي .

قال الله تعالى :(ان الله يغفر الذنوب جميعاً)

و قال رسول الله ﷺ: ان الاسلام يهدم ما كان قبله

دغه رنګه الله تعالى ارشاد فرمايي:(و من يكفر بالايمان فقد حبط عمله) نو معلومه سوه چي د ارتداد څخه حبط اعمال كيږي . الغرض په آيت كي د نورو نصوصو په رڼا كي قيد مذكور لازم دى .

او د حديث شريف مطلب دا دى چي د استطاعت د درلودلو باوجود حج نه كول د ناشكري، ارتداد، يهوديت او نصرانيت اختيارولو سبب كېداى سي او د ارتداد څخه حبط اعمال (عمل ضائع كېدل) كېداى سي . ګواكي د هغه نېكياني ضائع سوې او په آيت كي پر داسي نېكيانو د جزا ذكر دى چي هغه ضائع سوي نه وي پس په آيت او حديث كي هيڅ تعارض نسته .

☆......دويم جواب دا دى:

چي حديث پر مبالغه او تشديد باندي محمول دى:

”و هو من باب المبالغة و التشديد و الايذان بمعظمة شان الحج كذا فى بعض الحواشى“ . او امام ترمذي دغه حديث متكلم فيه بللى دى او فرمايي :

”و فى إسناده مقال و هلال بن عبد الله مجهول ، والحارث يضعف فى الحديث “ .

دا خبره دي واضح وي چي ترک حج ارتداد نه دى، نه ترک حج څخه سابقه نېک اعمال ضائع كيږي .

هو ! د حج نه كول استطاعت درلودلو باوجود ناشكري ده او دغه ناشكري د الله تعالى د حفاظت خاصه د وتلو او ارتداد سبب جوړېداى سي او د ارتداد څخه ضياع كيږي . ګواكي ترک حج څخه حبط اعمال خو نه وسو ليكن اندېښه يې ضرور لاحقه سوه .

نوټ: . دغه آيت چي پر ظاهر كښېږدې صرف د حديث سره معارضه نه قائميږي بلكه د ډېرو آيتو سره به معارض سي مثلا: ﴿ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيّاً ـ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحاً فَأُوْلَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئاً ﴾

آنحضرتؐ ته درې پېغلو نجونو د شېدو ورکولو روایت بلاسند دی:

سوال: ...... یو امام مسجد دروانِ خطبه دا وویل چې کله نبیؐ پیدا سو نو د جناب بي بي حلیمهؓ څخه علاوه نورو درو پېغلو نجونو (غیر شادي شده) حضورؐ ور پورته کی او د هغو شیدې ښکاره سوې دغه شیدې حضورؐ وچیښلې . آیا دغه واقعه صحیح ده؟

جواب: ......سیرت حلبیه (ص ۴۵) کي بلا سنده د عیون المعارف للقاضي څخه نقل کړي دي چې آنحضرت ﷺ ته درو پېغلو نجونو شیدې ور کړې . او دا احتمال هم سته چې دغه درو نجونو دي حضورؐ تي ته اچولی وي، تی دي ور کړی وي مګر حضورؐ دي شیدې نه وي ځیني خوړلې تر څه وخته چي صحیح سند موجود نه وي تر هغه وخته داسي ویل صحیح نه دي .

طلب العلم فریضة څخه علم، علم دین مراد دی:

سوال: ......حدیث طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة څخه څه مراد دی؟

په دې حدیث کې چې لفظ علم دی له دې څخه کوم علم مراد دی؟ علم دین یا موجوده سائنسي علم ؟

نیز د دغه حدیث شان ورود څه دی، کوم سړی چې ددغه حدیث څخه انګریزي یا ساینسي وغیره علم واخلي نو آیا هغه محرف فی الحدیث دی که نه؟

جواب: ...... په دغه حدیث کې 'العلم' څخه مراد علم دین دی ابن عبدا لبر

داسحاق بن راهویه څخه نقل کړي دي .
"ان معناه انه یلزمه طلب العلم ما یحتاج إلیه من وضوئه و صلوته و زکوته ان کان له مال و کذلك الحج و غیره "(جامع بیان العلم ص ۹) .
په عهد رسول الله او عهد صحابه کي عام طور باندي د علم اطلاق پر علم دین باندي کېدی . و مقام سرغ ته چي ورسېدل نو حضرت عمرؓ مشوره ورکړه چي په شام کي طاعون دی نو موږ له څه پکار ده چي شام ته لاړ سو یا واپس سو . په مشوره کي اختلاف سو حضرت عبد الرحمن بن عوفؓ وفرمایل: ان عندی علماً سمعت رسول الله ﷺ (الحدیث مؤطا ص ۳۶۲)
الحاصل په مذکوره حدیث کي د علم څخه مراد علم دین دی او دغه امر په آخر کي دی چي شریعت په درجه ضرورت کي علوم دنیویه زده کړه هم ضروري بللي ده دپاره ددې چي امت مسلمه د نورو محتاجه نه وي او د نورو زېردسته نه وي او په دغه حدیث کي "مسلمة" لفظ ثابت نه دی . قاله السخاوی .

د خوراک بعد د لاسو صفا کولو
د دوو مختلفو روایتو جواب:

سوال: ...... سیرت انور (ص ۱۰۸) باندي حکیم الامت حضرت قاري محمد طیب صاحب مدظله د حضورؐ حالات بیانوي او فرمایي موږ ډېر سنتونه باندي عمل ته کتل او معلومول . . . د خوراک بعد اتوال یا په دسمال لاس وچولو پر ځای همېشه معمول نبويؐ دا وو چي لاسونه به یې د پښو پر تلو موښل او وچول به یې .
او په شمائل نبويؐ، مصنفه سعد حسن ټونکي کي، په مسئله نمبر ۲۴

[illegible]

[illegible]

[illegible]

جواب: [illegible]

سراج امتی أبو حنیفۃ موضوع

سوال: [illegible] ابو حنیفہ [illegible] سراج امتی [illegible] حضور [illegible] صحیح [illegible]

[illegible]

جواب: [illegible] "تذکرۃ الموضوعات" ملا علی قاری [illegible] سراج امتی ابو حنیفۃ موضوع [illegible] حضور [illegible] بلا کسی ثبوت [illegible] حدیث موضوع [illegible]

[illegible] نہیں۔

د "انا نبی وآدم بین الماء والطین" تحقیق

سوال: حدیث "انا نبی وآدم بین الماء والطین" [illegible]

[illegible]

جواب: "انا نبی وآدم بین الماء والطین" [illegible] حدیث [illegible]

[illegible]

{۱} عن أبی هریرة قال قالوا یا رسول الله ﷺ متی وجبت لك النبوة قال وآدم بین الروح والجسد. (رواه الترمذی)

{۲} وعن العرباض بن ساریة عن رسول الله ﷺ انه قال انی عند الله مکتوب خاتم النبیین وان ادم لمنجدل فی طینه الخ (رواه فی شرح السنة کذا فی المشکوة باب فضائل سید المرسلین)

{۳} وروی عن ابن عباس مرفوعا کنت نبیا وآدم بین الروح والجسد. (رواه الطبرانی فی الکبیر. مرقاة ج ۵: ص ۳۶۷)

{٤} په روایت کي "کنت نبیاً" [illegible] آدم میان آب و گل بود. ([illegible]). دغه تول حاصل دا دی چي په ارواحو کي د نبي د نبوت اظهار کړل سوی وو. کما فی شعة اللمعات ج ۴ ص ۴۹۹.

"این چه گفته شد از سبق نبوت آنحضرت چه مراد است از علم و تقدیر الهی مر او است این نبوت همه انبیاء را شامل است و اگر به فعل است آن خود در دنیا خواهد بود. جواب این است که مراد ثبوت نبوت او است ﷺ پیش از وجود عنصری در عالم ارواح".

دا خبره دا واضحوي چي تمام ارواح د آدم د پیدایش څخه مخکښ پیدا سوي وو او په عالم ارواح کي موجود وو. پس د آنحضرت ﷺ روح مبارک هم په عالم ارواح کي موجود وو.

پر امت محمدیه باندي عذاب قبر نه کېدو مطلب:

سوال: په مشکوة شریف (ج ۲ ص ۴۶۰) کتاب الرقاق باب الانذار والتحذیر، په فصل ثاني کي په اول حدیث کي بروایت أبو داؤد دي چي:

"امتی هذه امة مرحومة لیس علیها عذاب الآخرة عذابها فی الدنیا الفتن

والزلازل والقتل" .

شيخ محدث دهلوي ليکلي دي:

"اين همه دليل ونشان آنست که در آخرت بروئے عذاب نه باشد۔ (اشعة اللمعات ج ۴ص۲۷۶)

نو اوس قابل استفسار دا امر دی چي د وعيد په احاديثو کي تطبيق څه دی په يو بل مقام کي محدث دهلويؒ د شفاعت په بيان کي يوه رساله ليکلي:

"مشکل تا آنجا است که اينسبت صحيح نه باشد ورنه صد هزار گنه در پس ايمان به محمدؐ به پرپشه نيرو زدم" په عبارت کي هم هغه اشکال دی .

جواب: ...... اشعة اللمعات زموږ سره موجود نه دی پر تقدير د صحت د حديث په دغه کي هيڅ اشکال نسته بلکه د دې معنی د کېدای سي:

"امتی هذه امة مرحومة ليس عليها عذاب الاخرة (ای عذاب مخلد فی الاخرة)" . يعني دائمي عذاب چي د کافرانو دپاره وي هغه به نه وي لکه: "من قال لا اله إلّا اللّٰه دخل الجنة" . کي دغه مراد دی دخولًا اخرويًا او فی آخر الامر يعني داخل فی الجنة آخر الامر دغسي به دلته هم تاويل کيږي . د پاره ددې چي دغه روايت د نورو رايتو څخه چي هغه وارد دي په باره کي د عذاب دعضاة گنهکارانو مخالف نه سي . .

او د دغه قسم مثالونه ډېر دي کما لا يخفی علی من طالع کتب الحديث او شيخ صاحب د عبارت خط کشيده مطلب هم دغه دی يعني ايمان بالله والرسول که چيري په يو سړي کي موجود وي نو هزار گناه هم ددغه ايمان په مقابل کي هيڅ او پرپشه برابر نه دی . ځکه چي هزار بجائي لاکه کروړ گناه هم دی مخلد فی النار نه سي کېدای بلکه دده ايمان آخر کار به

دی د دوزخ څخه را وباسي .

☆......حاشیه بر مذکوره بالا مسئله:

وروسته کتاب را ته میلا شو ډېر مي تلاش کړی لیکن د مستفتي د لمعات ج ۴ ص ۲۷٦ حواله نه سوه پیدا . لیکن مذکوره حدیث او د حدیث په وعید کي پخپله شیخ عبدالحق محدث دهلويؒ په لمعات ج ۴ ص ۱۹۴ کي داسي تطبیق فرمایلی دی:

"اما ورود احادیث در وعید مرتکب کبیره وتعذیب وے منافات بایں ندارد زیرا که مغفرت غیر شرک در مشیت حق ست عموماً وخصوصاً ولازم نیست که البته واقع گردد لازم نه که بر هر فرد وقوع یابد شاید که بعضے معذب باشد وبعضے مغفور۔ (یفعل الله ما یشاء و یحکم ما یرید) وبالجمله ایں امت مخصوص است بمزید رحمت وعنایت باری تعالی که اقتضائے نجات وعفو ومغفرت ایشان می کند وهمه در مشیت اوست تعالی وواجب نیست بروے چیزے لیکن وفائے وعده مخبر صادق مرجوست۔".

ترجمه: په کومو احادیثو کي چي د کبیرې ګناه مرتکب دپاره وعید او عذاب ورکولو ذکر دی هغه د دغه حدیث منافي نه دی . ددې وجهي د شرک څخه علاوه د ګناهو مغفرت دحق تعالی په منشا کي دی . عموماً و خصوصاً او لازمه نه ده چي واقع دي سي او دا هم لازمه نه ده چي و هر فرد ته دي مغفرت میلاو سي . شاید چي و څو ته دي بخښنه وسي او څو ته دي عذاب ورکول سي .

خلاصه دا ده چي پر دې امت باندي د الله تعالی خصوصي رحمت او عنایت دی چي هغه د نجات ، عفو او مغفرت مقتضي دی او دغه ټوله د الله تعالی پر اراده باندي منحصره دي څه پر هغه واجب نه دي لیکن د مخبر صادق څخه دغه امید دی چي هغه به وعده پوره کړي .

حدیث امر لسد الباب الاباب علیؓ کي تحقیق :

سوال :......زید د مشکوة شریف باب مناقب علیؓ بن أبی طالب، فصل ثالث حدیث: "عن ابن عباسؓ ان رسول اللهﷺ امر بسد الابواب الاباب علی "(رواه الترمذی و قال هذا حدیث غریبٌ . درس ورکاوی او و یې وایی لیکن بکر وایي چي دا حدیث موضوع دی اوزید علی الاعلان د خپل ځان د سني حنفي او دیوبندي والي دعوه کوي . ددې واقعې پیش نظر تاسو فیصله وکړئ چي دغه حدیث صحیح دی که غیر صحیح موضوع دی . د اهل سنت دی یا د اهل تشیع دی ددغه حدیث پر قائل باندي د شیعیت تاثر بلل درست دی یا تعصب دی او په قائل پسي لمونځ کول درست دی که نه؟

جواب :......"و فی تذکرة الموضوعات ص ۹۵ قلت ابن حجر هذا اقدام علی رد الحدیث الصحیحة بمجرد التوهم و فی الألی هو حدیث مشهور له طرق متعددة کل طریق لا یقصر عن رتبة الحسن و لمجموعها یقطع بصحته" .

مذکوره بالا عباراتو څخه معلومه سوه چي دا حدیث موضوع نه دی بلکه متعدد طرق څخه مروي دی هره طریقه د درجه حسن څخه کمه نه ده لهذا د دغه حدیث پر بیانونو والا باندي د شیعیت حکم کول درست نه دی . او ددغه په قائل پسي لمونځ بلا شک و شبه درست دی .

حدیث "من صلی علیّ عند قبری سمعته" ترجمه چي الله (ج) یې ور اوروي څخه کول غطله ده :

سوال :......زید وایي چي حدیث شریف "من صلی علیّ عند قبری سمعته و

من صلی علیّ نائیا ابلغته، جید إسناد دی لکه چي علامه ابن حجرؒ په "فتح الباری" کي او علامه عثمانيؒ په "فتح الملهم" کي لیکلي دي .
ددې حدیث څخه معلومه سوه چي پر روضهٔ اقدس حاضر سړی چي درود ووایي نو حضورؐ په خپله اوري لکه څنګه چي حضرت ګنګوهيؒ فرمایلي دي چي د انبیاء علیهم السلام په سماع کي د هیچا اختلاف نسته او ترجمان السنة (ج ۳) هم دغسي لیکلي دي .
بل طرفته بکر وایي چي کوم سړی چي د روضهٔ اقدس سره درود وایي الله تعالی یې وحضورؐ ته ور اوروي .
تاسو راته وواياست چي د زید خبره صحیح ده که د بکر؟ او آیا د حیات انبیاء مسئله د فروعیاتو څخه ده او آیا حضورؐ په خپل مبارک قبر کي حقیقي ژوندی دی یا روحاني ژوندی دی؟ او دغه حیات د اتصال روح څخه دی یا د دخول روح څخه دی؟ او کوم سړی چي د روحاني حیات قائل وي هغه د حضورؐ قبر سره دا دعا ویل شرک بولي چي یا رسول الله ﷺ زما دپاره دعا وکړه چي الله تعالی زما ګناه را معاف کړي نو آیا دغه سړی د اکابرینو علماء دیوبند مخالف دی؟
جواب :...... د حدیث مذکوره کومه ترجمه چي زید کړې ده هغه صحیح ده د بکر غلطه ده .
د حضورؐ جسد اطهر مبارک په قبر شریف کي بې حس او بې شعره نه دی بلکه لکه چي په حدیث مذکور کي دي دغه رنګه د نورو احادیثو څخه هم ثابته ده حضور ﷺ درود شریف پخپله اوري کله چي و روضهٔ اطهر ته ورسي او هلته روضهٔ اطهر ته درود شریف ووایې .

او دغه رنګه روضۀ اقدس ته چي ورسي او شفاعت طلب کړي دا جائز دی . دا په معتبره کتب د فقه کي مسطور دي . ددغه انکار کول جهل دی . د جسد اطهر حيات په دخول روح سره دی يا په اتصال روح سره دی دواړه امرونه متحمل کېدای سي . ديو قطعي تعيين واجب نه دی کله چي آثار حيات ثبوت تسليم کړل سي .

د حضراتو اکابرو ديوبند دغه مسلک دی . او دغه محقق هم دی .

د قطب ستوري والا روايت صحيح نه دی:

سوال : ...... د زيد بيان دی: و حضور ﷺ ته جبريل امين راغلی نو حضور ﷺ ده ته د کوچني ورور په نامه وويل پر دغه حضرت جبريل عليه السلام ورته وويل چي اې رسول الله زه خو په عمر تر تا غټ يم نو حضور ﷺ سوال وکړی چي جبريلؑ ته چي پيدا سوې تا څه شی وليدی؟ جبرائيل عليه السلام جواب ورکړی چي هغه وخت مځکه آسمان حجر شجر دريا سمندر هيڅ شی نه وو مګر صرف يو چمکداره ستورن مي د قطب پر طرف ليدلی وو نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چي بس هغه زما نور وو . دغه روايت صحيح دی که نه؟

جواب : ...... د زيد په بيان کي چي کوم حديث ذکر کړل سوی دی په يو معتبر کتاب کي د صحيح سند سره نه سو پيدا ، پر ده لازمه ده چي که چيري هغه ددغه حديث د صحت مدعی دی نو ددغه سند دي پېش کړي ورنه پخپله دعوه کي به کاذب وبلل سي .

"انا مِن نور الله" والا روايت موضوع دی:

سوال : ...... د حضور ﷺ په حديث کي دي چي زه د الله د نور څخه يم او د

مومنانو خلقت زما د نوره څخه دی هغه روایت دا دی انا من نور الله والمؤمنون منی، آیا دغه روایت درست دی؟

جواب:......د دغه روایت الفاظ دا دي:

"انا من نور الله والمؤمنون مني الخير فيَّ و في امتي إلى يوم القيمة".

تذکره موضوعاتو کي علامه طاهر گجراتي د یو بل موضوع حدیث په باره کي د علامه ابن تیمیهؒ رایې نقل کوي او لیکي: "قال ابن تیمیة موضوع وهو کما قال وکذا حدیث انا من نور الله". نو معلومه سوه د تذکرة الموضوعاتو په نزد دغه حدیث بې اصل دی حافظ الدنیا علامه ابن حجر عسقلانيؒ ددغه حدیث په باره کي فرمایي: لا اعرفه (تذکره موضوعات ص ۸٦)

د منکرینو د حدیثو د
دوو(۲) اعتراضاتو جواب:

سوال:......بکر و زید ته وویل چي ستا الفاظ پر انکار حدیث مبني دی زید وویل چي سړی د حدیثو د انکار څخه نه کافر کیږي ځکه چي د حدیثو صحت معتبر نه دی، حدیثونه د حضور ﷺ د وفات څخه ۲۰۰ دوه سوه کاله بعد جمع کړل سول او د حدیثو د جمع کولو والاانسانان د خطا او نسیان والا انسانان وو لهذا حدیثونه صحیح نه سم تسلیمولای.

من ترک الصلوة فقد کفر: دغه پخپله ضعیفه دی د زید ددغې دعوې تصدیق یوه عالم دین هم وکړی.

۲﴾......زید د انکار حدیث په ثبوت کي دا هم وویل چي بعض حدیثونه داسي ستة چي د عقل سلیم والا سړی هغه صحیح نسي تسلیمولای

مثلاً داسي حديثونه هم په ذخيره احاديث كي ستـه چي يو سړى د حضور ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړى چي يا رسول الله زما ځخه زنا وسوه حضورؐ پوښتنه ځيني وكړي چي آيا ته په جماعت سره لمونځ نه كوې؟ سائل په جواب كي ورته وويل چي هو ! زه پنځه وخته لمونځ په جماعت باندي كوم . رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي الله تعالى ستا گناه درمعاف كړه د زيد مذكوره حديث و حضورؐ ته منسوب كول درست دي يا زيد د حديث د تحقير دپاره د ځانه حديث جوړ كړى دى؟

جواب: ...... د احاديثو په انكار كي دا ويل چي حديثونه د حضور ﷺ د وفات ځخه دوه سوه (۲۰۰) كاله بعد جمع كړل سوي دي . دا خبره بالكل غلطه او پر جهالت باندي مبني سوې ده . د احاديثو يو معتد به تعداد د حضور ﷺ په زمانه كي ليكل سوى وو و يو صحابي (ابو شاه) ته حضور ﷺ د احاديثو د ليكلو حكم وركړى وو . د احاديثو يوه تحرير شده مجموعه د حضرت عبد الله بن عاصؓ سره موجوده وه په رواياتو كيْ دي چي ده به د آنحضرت هره خبره ليكله د زكوة تفصيلات پخپله آنحضرتؐ په چا وليكي او خپلو بعضو عاملانو ته يې ور واستوى د حضرت علي سره بعض احاديث تحرير شده موجود وو حضرت أبو بكرؓ د حديثو مجموعه جمع كړې وه ددغه رواياتو صحيحه په پيش نظر على الاطلاق داځنگه ويل كيداى سي چي احاديث د حضور ﷺ ځخه دوه سوه كاله بعد جمع كړل سوي دي .

د كتابت احاديث په باره كي دا هل حق د طرفه ځخه څه رسائل شائع سوي دي كه چيري تفصيل مطلوب وي د هغه و طرفته دي مراجعت

وسي .

۲:...... هيڅ صحيح قطعي الدلالة حديث د عقل سليم خلاف نه دی .

باين معنی: چي كوم امر دپاره حديث مذكور مثبت وي . دليل عقلي دي د هغه نفي وكړي يا برعكس .

هو !استبعاد جلا شی دی دا ممكنه ده چي كوم امر د حديث معلول دی د چا عقل دي هغه مستبعد وبولي . ليكن ددغه استبعاد څخه د امر مدلول النص خلاف عقل كېدل نه لازميږي .

دغه رنګه خلګ چي كومو احاديثو ته خلاف عقل وايي په هغو كي هم دغه استبعاد وي مګر دغه خلګ د خپل خبث باطني د وجهي څخه حديثونه په دغه رنګ كي پېشوي چي جهلاء دي دغه خلاف عقل وبولي . كله پخپله په واقعهٔ حديث كي د تحريف او غلط بياني څخه كار اخلي او عوام د حديثو څخه د بد ظنه كولو كوشش كوي . نو دغه د زنا واقعه چي په سوال كي درج ده محض پر كذب بياني مبني ده واقعيت صرف دونه دی چي ديو صحابي څخه به تقاضائې بشريت . . . پردۍ (اجنبي) ښځه مسه بالشهوت يا د مچي اخستلو حركت ځيني سر زد سو فوراً يې ندامت پښېماني وكړه . ډېر ارمان يې وكړی . د حضور ﷺ په خدمت كي حاضر سو ددغه ګناه څخه د پاكېدو درخواست يې وكړی . حضور ﷺ د ده د پښېماني ندامت آثار وليدل چي هغه په حقيقت كي توبه وه يو څو تسلي آميزه كلماتي يې ارشاد وفرمايلې . دغه رنګه حسنات مكفر سئيات پخپله د قرآن څخه ثابتي دي په دغه كي خلاف عقل څه خبره سته عقل سليم په دغه ځای كی تر كومه حده د اجراء

مقتضي دی .

د زيارت روضۂ اطهر متعلق د څلورو حديثو تحقيق :

سوال :.....لانديني څلور حديثونه د سند په لحاظ په کومه درجه کي دي قوي دي يا ضعيف؟

۱:..... من حج فلم يزرنی فقد جفانی۔

۲:..... من زارنی بعد مماتی فكانما زارنی فی حياتی۔

۳:..... من زارنی و زار أبی ابراهيم فی عام واحد ضمنت له الجنة۔

٤:..... من زار قبری وجبت له شفاعتی۔

جواب :..... ۱ ..... نمبر (۱) په باره کي تذكرة الموضوعات (ص ٧٦) کي ليکي :

”لابن عور وجماعته بلفظ منحج ولم يزرنی فقط جفانی ۔ ولا يصح قال الصنعانی موضوع.و فی اللألی قال الزركشی هو ضعيف و بالغ ابن الجوزی فذكر فی الموضوعات“ . تفصيل بالا څخه معلومه سوه چي دغه حديث صحيح نه ضعيف دی .

۲:..... دنمبر (۲) په باره کي بيهقي تضعيف کړی دی :

”وضعفه البيهقی و كذا قال البيهقی طرقه كلها لينه و لكن يتقوی بعضهم ببعضها۔“(تذكرة موضوعات ص ۷۵) .

۳:..... د نمبر (۳) په باره کي ابن تيميۃؒ او نوويؒ فرمايلي دي چي دغه حديث موضوع دی . ددغه هيڅ اصل نسته :

”قال ابن تيميةؒ والنوویؒ انه موضوع لا اصل لها كذا نقل السيوطیؒ فی

الزیلعی عنهما" .

۴: ...... ته ابن خزیمه ضعیف ویلي دي .

"اشار ابن خزیمة إلی تضعیفه "(تذکرة موضوعات ص ۷۵) .

☆ ......نوټ : تنبیه:

د فضائلو په باب کي په ضعیف حدیث استدلال نیول کېدای سي .

د "لو لم تذنبوا لذهب الله بکم" صحیح تشریح :

سوال : ......عن أبی هریرةؓ قال قال رسول الله ﷺ والذی نفسي بیدی لو لم تذنبوا لذهب بکم . د دغه حدیث تشریح یو مولوي صاحب داسي بیان کړه .

یعني تذنبوا و لم استغفروا فاراد به المعنی اللازم فان من لم یذنب ما علیه ان یستغفر والقرینة علیٰ هذا المعنی ذکر الذنب مع الاستغفار فیمابعد . آیا دغه تشریح یې صحیح ده؟

جواب : ......د حدیث شریف دغه تشریح صحیح نه ده .

امام نوويؒ، ملا علي قاريؒ، علامه طیبيؒ وغیره شراح په کلام کي داسي څه نشان (تشریح) موجوده نه ده او ظاهره حدیث هم د دې خلاف دی البته که چیري عوام د غلط فهمۍ څخه د بچاوېدو دپاره چا د دفع وقتي داسي کړې ده نو شاید ملامت به نه وي .

په "نماز حنفي" کي لیکلي د پنځمي کلمې په حدیث ثبوت :

سوال : ......د مولانا خیر محمد صاحب جوړ کړی کتاب نماز حنفي د لیدلو اتفاق وسو یقینا قابل قدر کوښښ دی لیکن یوې خبري په پوښتنه

مجبوره کړم چې عموماً پنځمه کلمه په دې الفاظ مشهوره ده:
استغفرالله ربی من کل ذنب الخ .
او په نماز حنفي کتاب کي پنځمه کلمه په دې الفاظو ده:
اللهم أنت ربی لا اله الاانت خلقتنی . په دې متعلق وضاحت وکړئ چې کومه کلمه ډېره مستنده ده؟

جواب: ......په نماز حنفي کي مذکوره پنځمه کلمه په بخاري شريف کي مروي ده:

"وعن شداد بن اوسؓ قال قال رسول اللهﷺ سيد الاستغفار ان تقول اللهم انت ربی لا اله إلّا انت خلقتنی الخ "(رواه البخاری مشکوة ج ۱ ص ۲٤) .

د ښکنځلو د مذمت

په باره کي څو احاديث:

سوال: ......په کوشنيانو او لويانو کي د ښکنځلو کولو رواج عام سوی دی . څوک ښکنځل بد هم بولي .ما خو دا جائزه اخيستې ده چې زموږ په ملک کي د خدایٰ تعالی نوم تر اخيستلو ښکنځل زيات کيږي پر هره خبره ښکنځل کيږي حتی چي بيخي کوچنيان هم چي لويانو ته ګوري ښکنځل ځيني زده کوي او کوی يې ، حتی چي کوشنيان ولويانو ته هم ښکنځل کوي، بالآخر دغه ښکنځل وجنګ ته ورسيږي . ستاسو څخه درخواست دی چي د ښکنځلو په باره کي چند حديثونه بيان کړئ؟

جواب: ......

۱﴾......**"عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال قال ررسول اللهﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر۔"(بخاری شريف) .**

حضورؐ وفرمايل ومسلمان ته ښكنځل كول سخت گناه ده د هغه سره جنګ كول كفر دى (بخاري شريف)

۲﴾......"عن أبى هريرة رضى الله عنه ان رسول اللهﷺ قال لا ينبغى لصديق ان يكون لعّانا "(مسلم شريف) .

حضورﷺ وفرمايل چې مسلمان بايد لعنت ويونكى يا كونكى نه وي .

۳﴾......"عن انس رضى الله عنه ان رسول اللهﷺ قال المستبان ما قالا فعلى البادى مالم يعتد المظلوم" .

حضورﷺ وفرمايل دوه ښكنځل كوونكي، چې څه په خپل ما بين كې وايې دهغه گناه پر هغه شروع كولو والا ده تر هغه وخته چې مظلوم زياتوالى نه وكړي .

٤﴾......"عن ابن مسعودؓ قال قال رسول اللهﷺ ليس المؤمن بالطعان و لا باللعان ولا الفاحش و إلّا البذى "(ترمذى شريف) .

حضورﷺ وفرمايل كوم سړى چې پر نورو طعنه زني كوي لعنت كوي بيهوده گويې كوي هغه مومن نه دى .

٥﴾......"عن الجاذرؓ قال قال رسول اللهﷺ لا يرمى رجلاً بالفسوق و لا يرميه بالكفر إلّا ارتدت عليه ان لم يكن صاحبه كذلك "(مشكوة ج ص٤١١) .

رسول اللهﷺ وفرمايل كله چې څوک يوچا ته بد كار ووايې كافر ووايې او هغه داسې نه وي نو پخپله ويونكى دغسې جوړيږي .

٦﴾......"عن أبى الدرداء رضى الله عنه قال سمعت رسول اللهﷺ يقول ان العبد إذا لعن شيئا صعدت اللعنة إلى السماء فتغلق ابواب السماء دونها ثم تهبط فتغلق ابوابها دونها ثم تاخذ يمينا و شمالا فاذا لم تجد مساغا رجعت إلى

الذی لعن فان کان ذلك أهلا و إلا رجعت إلی قائلها "(أبو داؤد ، مشکوة ج ۲ ص ٤١١) .

حضور ﷺ وفرمایل چي بنده چي پر یو شي لعنت کوي نو هغه لعنت و اول آسمان ته ځي نو هلته دروازې ورته بندې سي بیا مځکي ته راسي نو د مځکي هم دروازې ورته بندې سي بیا راسته او چپه طرفته ولاړي سي کله چي هیڅ لاره نسي ورته پیدا نو بیا چي پر چا لعنت کول سوی دی و هغه ته ورسي . که چیري هغه ددغه لعنت لائق وي خو صحیح ورنه ویلو والا ته واپس راځي .

بھول کر بھی دیتی نہیں گالی شریفوں کی زبان
یہ کمینوں کی علامت ہے رزیلوں کا نشان

☆☆☆

د حضورؐ د حضرت آدم علیه السلام دمخه د نبي کېدو مطلب :

سوال : ...... یو عالم حدیث "کنت نبیا و آدم بین الماء و الطین" بیاناوه او وېي ویل : چي حضور ﷺ د حضرت آدم د اوبو او خاورو خمیر کېدو په وخت کي نبي وو په اعتبار د شهرت په ملایکه وو کي آیا صرف د نبیؐ صرف آوازه وه یا د راتک شهرت یې هم وو یا پخپله حضور ﷺ موجود وو؟ او یو بل سړي وویل چي دغه حدیث موضوع دی او س تاسي واضح وفرمایي چي آیا دغه حدیث موضوع دی، صحیح دی یا ضعیف دی ؟

جواب : ...... "کنت نبیا و آدم بین الروح والجسد"(رواه البخاری فی تاریخه والحاکم و صححه ، تذکرة الموضوعات :ص ٨٦)

عن أبی هریرةؓ قال قالوا یا رسول الله متی وجبت لك النبوة قال وآدم بین الروح والجسد (رواه الترمذی ، مشکوة ص ٥١٣) .

په الفاظ بالا کي حدیث په کتب حدیث کي موجود دی لیکن چي کوم الفاظ په سوال کي لیکل سوي دي هغه الفاظ ثابت نه دي بلکه موضوع دي . ملا علي قاريؒ په مرقات کي تحریر فرمایي:

"اماما یدور علی الالسنة کنت نبیا وآدم بین الماء والطین فقال السخاوی لم اقف علیه بهذا اللفظ فضلا عن زیادة وکنت نبیا ولا ماء ولا طین ـ قال الحافظ ابن حجر ان الزیادة ضعیفه وما قبلها قوی وقال الزرکشی لااصل له بهذا اللفظ"(مرقاة ج ٥ ص ٣٦٧) .

په تذکرة موضوعاتو کي علامه طاهر پتنيؒ لیکي:

"وفی الزیلعی وکنت نبیا وآدم بین الماء والطین وکنت نبیا ولا آدم ولا ماء ولا طین قال ابن تیمیة موضوع ص ٨٦" .

خلق ادم علیه السلام څخه مخته دآنحضرتؐ نبي کېدل دا په اعتبار د شهرت دي . دیگر انبیاء علیهم السلام . . . . هم د الله تعالی په علم کي موجود وو . مګر د فرشتو په مخکي د هغو اظهار نه وو کړل سوی لیکن دآنحضرتؐ اسم ګرامي او دده عهدهٔ رسالت اظهارؔ او اعلان کړل سوی وو .

صاحب لمعات لیکي:

"جوابش آنست که مراد اظهار نبوت اوست علیہ ﷺ پیش از وجود عنصری وے در ملائکه وارواح چنانکه وارد شده کتاب اسم شریف او بر عرش وغیره۔"(ج ۴ ص ۴۹۹) .

د زنا په باره کي د يو حديث حواله:

سوال: ...... يو سړي د زنا په باره کي د حضور ﷺ ځخه پوښتنه وکړه نو حضور ﷺ وفرمايل چي ته دا برداشت وې چي څوک ستا مور خور لور سره زنا وکړي هغو جواب نه کړی ور، نو حضور ﷺ وفرمايل چي هغه زانيه خو هم ديو چا مور خور لور خو به وي . دا جواب داسي دی چي د ز نا په رد کي تر دغه بهترين جواب نسته، نه کېدای سي ليکن آيا دغه حديث دی، تصديق کول مطلوب دي .

جواب: ...... دغه حديث بروايت أبو امامة رضى الله تعالى عنه امام احمد بيان کړی دی . (ابن کثير ج ۳ ص ۲۸)

سوال: ......خدای تعالى انسان پر خپل صورت پيدا کړی دی ددې مطلب څه دی؟

جواب: ...... خَلَقَ آدم على صورته، مطلب دا دی چي آدم عليه السلام يې پر خپل خوښ صورت پيدا کړی دی يعني په داسي صورت يې پيدا کړی دی چي هغه صورت د الله تعالى خوښ وو مثلا سيده قد، با رونق، ځلېدونکې چهره وغيره .مطابق آيت قرآن : ﴿مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ـ الَّذِيْ خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ـ فِيْ أَيِّ صُورَةٍ مَّا شَاء رَكَّبَكَ﴾ الخ .

په قبر کي عند السوال د آنحضرت ﷺ صورت مثالي پېښېدل يا د پردو ليري کېدو تحقيق:

سوال: ......په قبر کي چي فرشتې د مړي څخه سوال کوي "ما هذا الرجل" نو د هذا اشاره د قريب دپاره ده که د بعيد دپاره ده؟ آيا هغه د حضور ﷺ شکل ور ښکاره کول کيږي يا د مابين څخه پردې ليري کول کيږي او نبي عليه السلام د خپلي روضې مبارکي څخه ورليدل کيږي؟

جواب: ...... هذا اشاره قريبه ده . د دغه ځخه مراد معهود ذهني دى و مړي ته د حضور ﷺ صورت مثالي پېښېدل يا د مابين ځخه پردې ليري كېدو په قول د "صاحب مرقاة المفاتيح" ديو صحيح يا ضعيف حديث ځخه ثبوت نه ملاويږي پوره عبارت داسي دى:

"(ما هذا الرجل الذى بعث فيكم) اى ارسل اليكم يعنون محمد ﷺ و عبر بذلك امتحانا لئلا يتلقن تعظيمه من عبارة القائل والاشارة لما فى الذهن فانه لم يرد حديث صحيح و لا ضعيف فى انه يكشف للميت حتى يرى النبىّ فلاالتفات إلى قول القبورئين و من شاكلمه بان رسول اللهﷺ يشهد بذاته فى الخارج فى قبر كل ميت عند سوال الملكين اهـ" . (مرقاة المفاتيح ج ۲ ص ۴۵۵)

د فضيلت عقل په باره كي

د يو حديث تحقيق:

سوال: ......حديث نبويّ د حضرت عبد الله بن عمرؓ ځخه روايت دى چي حضور ﷺ د لمانځه، روژې، زكوة، حج او عمرې او نورو نېكيانو ذكر كاوى و يې فرمايل چي دغه ټوله كوئ ليكن د قيامت په ورځ ده ته د عقل او فهم مطابق بدله وركول كيږي . (او كما قال عليه السلام))يا دغه حديث صحيح دى، ددغه حديث مطلب څه دى؟

جواب: ......و انما يجزى على قدر عقله " ضعيف"(الى ان قال) و كل حديث و رد فيه ذكر العقل لايثبت (تذكرة الموضوعات) للفتنى ص ۲۹ باب عقل) . دغه حديث خو پوره نه سو راته ميلاو البته نشان زده عبارت ضعيف دى په دغه عبارت كي يوه قاعده بيان سوې ده چي په كوم حديث كي دعقل

ذکر وسي هغه حديث د نبي ؑ څخه ثابت نه دی .

شيدې، خوشبو، او بالښت
نه رد کولو حديث ضعيف دی:

سوال: ......د زيد دا خيال دی چې بالښت، خوشبو او شيدې ددغو درو شيانو څخه يو ځوک يو شی در پېش کړي په اخستلو يې انکار نه کول پکار دي په دين کې ددغه اصل څه دی؟

۱﴾ ...... آيا په حديث کې راغلي دي چې اخستلو څخه يې انکار مه کوئ او دغه شيان قبلوئ .

۲﴾ ...... نو بيا مقدار به څومره وي مثلاً يو سړی پنځه کيلو شيدې پېش کړي يا لس کيلو ورکړي يا په ډېر مقدار عطر (خوشبو) در کړي نو بايد څه وکړل سي؟

جواب: ......" عن ابن عمرؓ قال قال رسول اللهﷺ ثلاث لا ترد الوسائد و الدهن والطيب واللبن" (شمائل ترمذی) .

په حديث شريف کې ددغو درو شيانو څخه انکار نه کول ثابت دي .

۲﴾ ...... په حديث شريف کې د مقدار تصريح نسته بظاهر لږ مقدار معلوميږي چې هغه د اخستلو والا بار محسوس نه کړي .

☆ تنبيه: په دغه حديث کې بعض محدثينو کلام کړی دی . لان فيه عبد الله بن مسلم هرمز المکی کما فی الموضوعات الکبير (ص ۵۷)،

په حديث کې دهن او طيب څخه مراد يو شی دی يعني خوشبودار تېل نو لهذا په بعضو نسخو کې صرف "الطيب" ذکر دي . (حاشيه شمائل ص ۱۴)

د تهجد په مختلفو روایتونو کي بهترين تطبيق

سوال: یو فریق وایي بل فریق وایي، په حدیثونو کې د نبي حضور ﷺ د تهجد په تعداد ډیر زیات اختلاف دی.

یو فریق وایي د رسول مقبول ﷺ څخه د تحیة الوضوء او وترو نه دوولس رکعت تهجد ثابت دي.

او بل فریق وایي د حضور ﷺ څخه تحیة الوضوء او وترو نه اته رکعت تهجد ثابت دي.

وایي چې حضور ﷺ چې څنګه په اته رکعته تهجد مستقیم پاته شوي وو نو زیات د حضور ﷺ څخه ثابت نه دي هغه دواړه فریقه څه دلایل ورسره ذکر کوي.

ستاسو څخه درخواست دی چې د دواړو ډلو په مینځ کې محاکمه وکړئ چې حق کوم یو دی او قوي دلایل د کوم یو دي؟

ج: د دواړو فریقو دلایل

حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي صاحب فرمایي لمونځ د تهجد دوولس رکعته دی. بهشتي زیور حصه دوهمه صفحه ۳ کې فرمایي

مسئله: نیمه شپه پس د پاسیدو لمونځ ډیر ثواب دی دغه ته تهجد وایي دا لمونځ د الله تعالی په نیز ډیر مقبول دی د نورو ټولو نفلو نه زیات ثواب دی د تهجد لمونځ کم نه کم څلور رکعته دی او زیات نه زیات

دوولس ركعته دى .

حضرت مولانا شاه ولى الله په خپل كتاب "انتباه فى سلاسل اولياء الله" كي فرمايي: "ومن جمله وظائف صلوة النوافل او التهجد اوالاشراق والاستخارة والضحىٰ والتجهجد اثنا عشر ركعة"(ص ٤٨) .

دليل ديگر:۔ تصنيف عالم ربانی مقبول بارگاه سبحانی حضرت ثناء الله پانی پتی "مالابد منه" كي فرمايي: "نماز تهجد سنت موكده است پيغمبر عليه السلام گاہے ترک نفرموده واگر احيانا فوت شده دوازده ركعت در روز قضا فرمود۔ ونماز تهجد از چهار ركعت كمتر نيامده واز دوازده ركعت زياده هم به ثبوت نه پيوسته پيغمبر عليه السلام نماز وتر وتهجد ميخواند سنت هميں است" (مالابد منه ص٦٦) .

دليل ديگر:۔ حضرت شيخ المشائخ عبد القادر جيلاني قدس سره په "غنية الطالبين" كي فرمايي: "وروى انه عليه السلام كان يصلى من الليل اثنتى عشر ركعة ثم يوتر بواحدة"(ص ٦٠٢) .

دليل ديگر:۔ مولانا الحاج فقير الله حنفيؒ په "قطب الارشاد" كي فرمايي: "ادنى تهجد ركعتان واكثره اثنا عشرة ركعة من غير وتر كان رسول الله عليه السلام إذا قام من الليل يتهجد"(قطب الارشاد ص ٢٧١) .

دليل ديگر:۔ د دوولسو ركعتو بل دا دليل دى چي حضرت مولانا عبد العزيز صاحب محدث دهلوي فرمايي: ونماز تهجد از دو ركعت تا دوازده ركعت بطور تراويح بايد خواند . (فتوى عزيزى ج ١ ص ١٧٢)

دليل ديگر:۔ د دوولسو ركعتو دا دى چي په حاشيه مدينه كي علامه الشيخ محمد بن سليمان الكروي المدنيؒ فرمايي: "قال ابن الجزرى ورد عنه عليه السلام كا يصلى اثنتى عشر ركعة من الليل"(ج ١ ص ٢٢) .

دلیل دیگر:۔ پـه بـاره د تهـجـد ددوولسـو رکعتو دا دی په نسائی شریف کي دي : "عـن عائشةؓ ان رسول اللهﷺ كان إذا لم يصل من الليل منعه من ذلك نوم غلبته عينه او وجع صلى من النهار اثنتى عشر ركعة ۔"

مـحشـی کـاندهلوی بین السطور محشیؒ فرمايي "يعلم منه ان التهجد ثنتا عشر ركعة" .بل حٰای مـحشيؒ فرمايي: "عـلى قوله صلى من النهار يقضى فى النهار ما فاقه من الليل انتهى"(نسائي شريف ج : ص ۱۹۹)

دلیل دیگر:۔ د دوولسـو رکـعتـو په باره کي په احياء العلوم کي امام غزالي فرمايي :

" الـفائدة الثانية قضاء النوافل اذ قضى رسول اللهﷺ ذلك ولنا فيه اسوة حسـنة و قـالـت عـائشةؓ كـا رسول اللهﷺ إذا غلبه النوم او مرض فلم يقم تلك الليل صلى اول النهار ثنتى عشرة ركعة "(احياء العلوم ج ۱ ص ۱۸٤)

دلیل دیگر:۔ د دوولسو رکعتو دا دی :

عـلامـه ابـن قـيـمؒ په "زاد الـمـعـاد" جلد اول کي فرمايي: " و كان ﷺ إذا غلبه النوم او وجع صلى من النهار ثنتى عشرة ركعة " ج ۱ / ص ۸٦) .

☆...... د فريق ثاني دلائل:

عـلامه شبیر احمد عثمانيؒ په "فتـح الملهم" ج ۲ ص ۲۸۸ کي فرمايي:" ان الـنبـیؐ كان يـفتتـح صلوته بالليل بركعتين خفيفتين و هما مبادى التهجد ثم يصلى ثمان ركعات و هى اصلى تهجد"(فتح الملهم ج ۲ ص ۲۸۸) .

دلیل دیگر:۔ د اتـو (۸) رکـعاتو دلـیل دا دی چي عـلامه شاميؒ په جلد اول کي فـرمـايي:" و هـذا بـنـاءً عـلـى اقـل تـهـجده ﷺ كان ركعتين و ان منتهاه كان ثماني ركعات "(شامي مطبع استنبول ص ٦٤١) .

دلیل دیگر:۔ د اتو (۸) رکعاتو دلیل دا دی چي مولانا رشید احمد گنگوهيؒ فرمایي: الجواب په تهجدو کي کم سې کم دوه رکعته سنت دی او زیات تر زیات څومره قدر چي کولای سي درست او صحیح دی مګر د حضور ﷺ څخه اته رکعته زیات ثابت نه دي (فتاوی رشیدیه ج ۲ ص ۴۸۸) او عرف الشذی کي هم اته رکعته ثابت دي.

غرض دا چي د حضور ﷺ څخه بغیر تحیة الوضوء د وتر دوولس رکعته تهجد ثابت دی که نه؟

جواب:......په صورتِ مسئوله کي دا واضح دي چي په روایاتو کي چي تر ټولو زیات تعداد د رکعتو دی هغه په حواشي منذرئ کي موجود دي. اکثر ما روی فی صلوة اللیل سبع عشر رکعة.

د دغه اختلاف مجموعه بهترین تقریر علامه عثمانيؒ په فتح الملهم کي ذکر کړی دی. د هغه حاصل دا دی چي په اصل کي د تهجد اته رکعته دي لیکن شروع کي حضور ﷺ دوه رکعته خفیفه (مختصر) کول نو دا د اتو سره لس رکعته سو ددغه بعد یې وتر ادا کول ددغه بعد یې بیا په ناستي دوه رکعته کول. هغه توابع وتر ویل پکار دي دا ټوله پنځلس رکعته جوړیږي. ددغه مختصر صورتحال څخه بعد چا چي دیوولسو رکعتو ذکر کړی دی مثلا د حضرت عائشهؓ په روایت کي دي: "کان یصلی باللیل أحدی عشر رکعة"(رواه مسلم). په دغه کي اصل اته رکعته تهجد سو او د درو رکعتو د وترو بیان دی.

۲﴾......چا چي د دیارلسو (۱۳) رکعتو بیان کړی دی مثلا د ابن عباسؓ روایت په بخاري شریف کي دی:" ان صلوته ﷺ من اللیل ثلاث عشر رکعة

و رکعتین بعد الفجر سنة الصبح ۔" .په دغه کي دوه رکعته مبادي تهجد یا توابع وتر شامل دي .

۳﴾...... او کوم چا چي د پنځلسو رکعتو د تهجد ذکر کړی دی هغو مبادي تهجد او توابع وتر شامل کړي دي .

۴﴾...... او کوم چا چي د اولسو (۱۷) رکعتو د تهجد ذکر کړی دی هغوی د سهار دوه سنته هم ور شامل کړي دي چي د هغو تفصیل دا دی:

دوه رکعته مبادي تهجد، اته رکعته اصل تهجد، درې وتر، دوه رکعته توابع وتر، دوه رکعته سنت د سهار .

د مولانا ددغه تحقیق بعد ستاسو اختلاف حل کیږي او ددغه څخه دا فیصله را وزي چي د تهجد کل لمونځ تبع وتر سره پنځلس رکعته دی . او بغیر د ترو دوولس رکعته دی .

په دغه کي اته رکعته داسي دي چي هغه حضور ﷺ بطور تهجد ادا کول ددغه دمخه دوه رکعته مختصرا ادا کول . دغه هغه دوه رکعته دي چي د وترو بعد ادا کېدل هغه به هم مختصر وو . په دغه دوولسو رکعتو کي تحیة الوضوء هم شامله وه .

تحیة الوضوء نیت که چیري په فرض لمانځه کي وسي هم ادا کیږي اول دوه رکعته خفیفتین مبادي تهجد بلل کیږي . په دغه کي نیت د تحیة الوضوء کېدای سي . ددغه څخه علاموه د حضور ﷺ څخه د تحیة الوضوء لمونځ ثابت نه دی .

پس تحیة الوضوء په دغه دوولسو رکعتو کي شامله وه .

انا احمد بلا میم، موضوع روایت دی:

سوال:......څه فرمايي علماء دين و مفتيان شرع متين په دې مسئله کي . بکر وايي چي حضور ﷺ سرور کائنات فرمايلي دي:

"انا احمد بلا ميم" د دې معنی ده چي زه هم احد يم .يعني د خدای تعالی (ج) ذات و صفات بعينه زما ذات اوصفات دي زه د الله تعالی د ذاتي صفاتي کمالاتو واحد مالک يم . بس فرق صرف دونه دی چي د يوه وجود دوه نومونه سول .

ذاتي نوم احد دی او صفاتي نوم يې احمد دی .

بکر دا هم وايي: چي حضور ﷺ فرمايلي دي: "انا عربی بلا عين" . نو چي عين ساقط کړل سي نو لفظ عرب څخه "رب" جوړيږي ګواکي د دواړو حديثو واضح مطلب دا سو چي زه "أحد" هم يم او "رب" هم يم . ځکه چي دواړه احاديث په صحاح ستة کي موجود دي .

ليکن زيد وايي چي دواړه حديثونه غلط او درواغ دي چي پر ذات د رسول الله ﷺ باندي بهتان عظيم دی . پر دغه دواړو حديثو ايمان راوړل د لغوياتو او کفرياتو څخه دي؟ آيا شرعاً د بکر قول صحيح دی که د زيد، که چيري بکر غلط دی نو آيا د بکر دپاره تجديد ايمان ضروري دی که نه؟ د بکر امامت جائز دی که نه؟

جواب:......بکر پر غلطي باندي دی هر دواړه روايته غلط موضوع دي په صحاح ستة او د حديث په معتبرو کتابو کي ددغه نوم و نشان نه سو را ته ميلاو .

د زيد عـقيـده صحيح ده . بكر هر ګز د امامت لائق نه دى دغسي عقيده كفر ده په بكر پسي كړل سوي لمنځو اعاده ضروري او واجب ده . كوم سړى چي دا عقيده ولري چي الله تعالى په حضور ﷺ كي حلول كړى دى هغه د اسلام څخه خارج دى .

"ان الله خلق اٰدم على صورته" حديث دى:

سوال :......يو مشهور حديث دى:" ان اللّه خلق اٰدم على صورته " د دغه څه مطلب دى؟ آيا دغه حديث دى كه نه؟

جواب :...... مذكوره حديث په بخاري او مسلم كي موجود دى مطلب ددغه حديث دا دى چي الله تعالىٰ خپل بعضٰ صفات او اخلاق يو څه حصه آدم و بني آدم و ته عطا كړي دي . (قرطبي)

د معراج په شپه نهه نوي زره (۹۰۰۰۰) كلام وسو، موضوع دى :

سوال :......مشهوره ده چي حضور ﷺ معـراج تـه ولاړى هلتـه يې د الله تعالى سره (۹۰۰۰۰) كلام خبري وكړې، دېرش زره خو ښكاره دي چي د علماء دين سره دي او دېرش زره باطن دي چي د اولياء سره دي ، چي هغه علماء دين جلا شى بولي او دېرش (۳۰۰۰۰) حضور ﷺ و چا ته نه دي ورښولى . كه چيري و چا ته نه يې ور ښوولي نو مقصد د تبليغ د حضور ﷺ فريضه ده هغه فوتيږي ددغه بيانٍ وضاحت وكړه .

جواب :......دغه بالكل غلطٌ او بې بنياده دى . د آنحضرتؐ د ټولو تعليماتو سر چشمه قرآن او حديث دى .

سلمانؓ منا أهل البیت ثبوت :

سوال: ......صاحب اصح السیر (ص ١٨٨) مطبع کراچي کي، په واقعه خندق کي فرمایي: چي په دغه ورځ حضرت سلمان فارسيؓ یوازي تنها د لسو کسانو کار وکړ . مهاجرینؓ به ویل چي سلمانؓ زموږ څخه دی . انصارؓو به ویل چي سلمان زموږ څخه دی . دغه قصه چي کله رسول الله ﷺ ته را ورسېدله نو حضور ﷺ وفرمایل چي سلمانؓ زما اهل بیتو څخه دی .

(٢) ...... کل تقی نقی فهو اهل .

(٣) ...... حضرت ام سلمه عرض وکړی . یا رسول الله انا من أهل البیت فقال بلی انشاء الله .

دغه درې سره احادیثه د اهل سنتو په کومو کتابو کي موجود دي او د سند د لحاظه څنګه دي؟

جواب: ......دغه حدیث په ''البدایة والنهایة ج ۴ ص ۹۹'' کي موجود دی لیکن په دغه حدیث کي دغه تذکره نسته چي حضرت سلمان فارسي په یوه ورځ د لسو کسانو کار کړی وو البته د مهاجرینو او انصارو اختلاف او د آنحضرتؐ دا فرمان چي سلمانؓ زما د اهلیت څخه دی دغه الفاظ موجود دي .

٢﴾...... بعض معتمد حواشي کي بحواله طبراني (بسند ضعیف) دغه حدیث نقل کړی دی .

٣﴾...... ابن کثیر په حواله د امام احمد دا نقل کړی دی چي حضرت ام سلمة

عرض وكړى چي: فقلت و انا يا رسول الله ﷺ و انت . (ج ۳ ص ۴۸۴) .

د حج په سلسله كي د يو حديث تحقيق:

سوال: ...... رب تعالى (ج) په خپل كلام مقدس كي ارشاد فرمايي: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ . وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرّاً يَرَهُ﴾ او په حديث كي دي چي كوم سړى باوجود طاقت مالي و بدني د حج د سعادت څخه مستفيد نه سو نو د هغه خاتمه پر يهوديت او نصرانيت وسوه . او كما قال
نو د حديث شريف څخه معلومه سوه چي مذكوره سړى د حج ادا نه كولو والا باقي اعمال فرائض وغيره باطليږي . د آيت مذكوره مضمون د دغه برعكس دى ددغه تعارض به څه تطبيق وي؟

جواب: ...... د آيت مطلب دا دى چي كومه ګناه معاف نه سي د هغه سزا به ضرور ملاويږي او چي كومه نېكي ضائع نه سي د هغه جزا به ضرور ميلاويږي لكه چي د نورو آيتو او حديثو څخه هم ثابته ده . د اسلام د قبلولو څخه دمخه ډېري ګناهوي كيږي ليكن اسلام هغه منهدمه كوي: قال الله تعالى: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعاً﴾ و قال رسول الله ﷺ: "ان الاسلام يهدم ماكان قبله" .

او دغه رنګه د الله تعالىٰ ارشاد دى: ﴿وَمَن يَكْفُرْ بِالإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ﴾ دا معلومه سوه چي د ارتداد څخه حبط اعمال كيږي .

الغرض په آيت كي د نورو نصوصو په رڼا قيد مذكور لازم دى . او د حديث شريف مطلب دا دى چي باوجود استطاعت حج نه كول دا ناشكري ده چي د ارتداد، يهوديت، نصرانيت سبب جوړېداى سي . او د ارتداد حبط اعمال كيږي . ګويا نېكياني ضائع كيږي او په آيت كي پر داسي نېكيانو د جزا

ذکر دی چي نه وي ضائع سوي پس په آیت او حدیث کي هیڅ تعارض نسته .

﴿۲﴾...... دغه حدیث پر مبالغه او تشدید باندي محمول دی . "و هو من باب المبالغة والتشدید والایذان بعظمة شان الحج کذا فی بعض الحواشی" .

﴿۳﴾......امام ترمذي دغه حدیث متکلم فیه بللی او فرمایي:

"وفي إسناده مقال و هلال بن عبد الله مجهول والحارث یضعف فی الحدیث" . واضحه دي وي چي ترک حج ارتداد نه دی نه د دغه څخه سابقه اعمال ضائع کیږي . هو! دغه ناشکري د الله تعالی د حفاظتِ خاص څخه د وتلو او په ارتداد کي د داخلېدو سبب کېدای سي چي د هغه ضائع کېدل کیږي . ګواکي د ترک حج څخه حبط اعمال خو نه وسو لیکن د ارتداد اندېښه ضرور پیدا سوه .

د اهل بیتو متعلق څو موضوعي احادیث:

سوال :......یو سړي محمود شاه نامي چي خپل ځان محدث هزاروي بولي یو کتاب یې لیکلی دی . د هغه کتاب نوم "السیف الملول" دی په هغه کي دا احادیث درج دي:

﴿۱﴾......اکرموا و وقروا اولادی الصالحون الله والطائحون لی.(ص :۳۸)

﴿۲﴾......اقبلوا عن محسنهم و تجاوزوا عن مسیئهم.(ص:۳۸)

﴿۳﴾......عترتی خلقوا من طینتی و رزقوا فهمی.(ص ۳۸، ٥٤)

﴿٤﴾...... من لم یعرف حق عترتی و الانصار والعرب فهو لأحدی ثلث اما ولد زانیة و اما منافق و اما امرأ حملت به امه فی غیر طهر.(ص۳۸)

د دغه مفهوم څو نور احادیث هم درج دي، نیز د هغه عقائد داسي دي:

د ساداتو سره چي کوم سلوک وکړل سي هغه براه راست د حضور ﷺ سره دي .

او چي څوک د ساداتو تنقیص وکړي هغه کافر او مرتد دی . (السیف المذکور ص ۷)

یو صحیح المنسب حسني و حسیني سید کافر کېدل نا ممکن دي ځکه چي هغه بضعة الرسول دی او د نوع و جز رسول څخه څنګه ممکنه ده چي هغه دي د کفر ارتکاب وکړي لکه څنګه چي د حضور ﷺ تعظیم فرض قطعي دی داسي د ساداتو تعظیم هم فرض قطعي دی . و غیر ذلک .

جواب :......د مذکوره عقائدو د أهل السنة والجماعة په کتابو کي هیڅ نوم و نښان نسته او نه مي تر اوسه دغه احادیث لیدلی، نه مي اورېدلی دی . دغه سړی مبتدع ضال او مضل دی . حدود شرعیه څخه متجاوز او غالي دی . د مسلمانانو له داسي سړي سره بیعت کول جائز نه دی .

پاته سو احترام، اکرام د حضراتو ساداتو کرامو او اعزاز و تعظیم د حدود شریعیه په حدودو کي و هر مسلمان ته په کي اختلاف نسته .

د احادیثو څخه د ابدال ثبوت :

سوال :......د طریقت د عقائدو څخه یوه عقیده دا هم ده چي په دنیا کي هر وخت یو غوث اووه (۷) قطبه او څلوېښت (۴۰) ابداله وي . ددغه څخه مخته درجه د صاحب خدمت حضراتو ده چي د هغو متعین تعداد نسته . ویل کیږي چي د ټوله عالم نظم ضبط د دغه حضراتو په . . . . تدبیر سره انجامیږي . د خیر او شر د قوتو خالق خو الله دی لیکن په دنیا کي ددغه قوتو په نافذولو کي دغه هستیاني مؤثري وي . دغه د عوام الناس د نظر

ځخه پوشیده دي ځکه چي عموماً دغه خلک هم عام خلک دي . و دوی ته د
الله تعالی (ج) د طرف ځخه دغه قوت و ودیعت سوی دی چي د یو ځای
ځخه و بل لیري ځای ته بغیر د یو ظاهري ذریعې آمد و رفت کولای سي.
په مناسبه وقفه کي د دوی حضراتو اجلاس منعقد کیږي . په اجلاس کي
پر بین الاقوامي مسائلو بحث کیږي او د آئنده دپاره پالیسیاني مرتب
کیږي . د یو ابدال یا قطب د وفات بعد ددغې محکمې سربراه (غوث) د
طرفه ځخه فوراً نوی سړی تعینات کیږي . د دغې سلسلې مشهوره قصه
د حضرت غوث سبحاني شیخ عبد القادر جیلانيؒ بیان کیږي چي په
کومه شپه د بغداد قطب فوت سو هغه شپه یو غل د غلا په غرض د
حضرت کره راغلی او هلته روند سو او هلته پاته سو حضرت هغه په یو
نظر د غله ځخه قطب جوړ کړی او فوت شده قطب پر ځای یې مقرر کړ.
او داسي په شیلاوو واقعات ما د علماؤ ځخه اوریدلي دي لیکن په دغه
باره کي اطمینان قلب نه سو راته حاصل . زما څو بزرګان پر دې ټینګ دي
چي زه دي دغه عقیده ومنم .

زه د دوی ځخه شرعي دلیل غواړم لیکن هغوی د دلیل راکولو ځخه
قاصر دي . تاسو پر دې تمامو ځنډو باندي رڼا واچوئ .

جواب :......دا عقیده نه یوه مسئله ده . د ابدال وجود په حدیث ثابت دی:

(۱):......عن علیؓ ان رسول اللهﷺ قال لا تسبوا الشام فان فیهم الابدال۔ (رواه طبرانی وغیره)

(۲):......و اخرج احمد عنه قال سمعت رسول اللهﷺ یقول الابدال بالشام و هم اربعون رجلاً یسقی بهم الغیث و ینتصر بهم علی الاعداء و یصرف عن أهل

الشام بهذا العذاب و غیر ذلك۔ (رسائل ابن عابدین ج ۲ ص ۲۷۰)
ابن جوزيؒ داسي روایاتو ته موضوع ویلي دي . لیکن علامه جلال الدین سیوطيؒ ددغه تردید کړی او لیکلي يې دي: "ان خبر الابدال صحیح و ان شئت قلت متواتر" .
علامه سخاويؒ حدیث نمبر ۲ صحیح بللی او د باقي روایاتو تضعیف يې کړی، نیز د نورو آثارو څخه هم د دغه حضراتو خصوصیت معلومیږي .
د مصائبو عامه دفع: حوائج خلق د پوره کولو په باب کي ددوی دعاوي قبلیږي او نصح للمسلمین د دوی خصوصي وصف دی .
خطیب بغداد نقل کړي دي: " فاذا عرضت الحاجة من امر العاممة ابتهل فیها النقباء ثم النجناء ثم الابدال۔" .
بالا امور ثابت دي لیکن د دغه علاوه د دوی اجتماع، بین الاقوامي مسائلو په باره پالیسیاني جوړول چیري تر نظر نه دي تیر سوي د حق تعالی جل شانه په نزد تمام پالیسیاني د وختي څخه جوړي سوي دي د هغو د طی کولو مزید څه حاجت سته! بظاهر دا صحیح نه دی .

طلب العلم فریضة علی کل مسلم، سند ضعیف دی:

سوال: ......طلب العلم فریضة والا حدیث کي لفظ "مسلمة" سته یا نه، آیا دغه حدیث قوي دی که ضعیف؟

جواب: ...... علامه سخاويؒ په "مقاصد" کي لیکي: چي په دغه حدیث الفاظ د "مسلمة" منقول نه دي .

"و روی البیهقی فی شعب الإیمان إلی قوله و مسلم وقال هذا حدیث متنه مشهور و إسناده ضعیف و قد روی من اوجه کلها ضعیفة اهـ"(ج ۱ ص ٣٤) .

نیـز امـام احـمـد بـن حـنـبـلؒ، ابـن راهـویـه، أبو علی نیشاپوري او حاکم وغیره څخه هم ددغه غیر صحیح منقول دی .

د علامه سیوطيؒ څخه منقول دي چي د امام نوويؒ څخه ددغه حدیث په باره کي پوښتنه وسوه نو هغه وفرمایل دا حدیث سنداً ضعیف دی اګر چه معنیً صحیح دی . (مرقاة ج ۱ ص ۱۹۲)

د غیبت په باره کي د یو حدیث تحقیق :

سوال :...... د کبائرو څخه و غیبت ته اشد من الزنا ویل سوي دي . دغه حدیث دی که مقوله . حالانکه د زنا حد د نص قرآني څخه ثابت، معلوم دی او په دنیا کي لږ کیږي او پټه کیږي او غیبت کثیر الوقوع او علی الاعلان وي او د هغه څخه فسادات خونریزي کیږي نیز هیڅ مقام او مجلس ددغه څخه خالي نه دی باوجود ددغه د نص قرآني څخه هیڅ نه معلومیږي .
دیګر دا هم واضحه کړه چي غیبت حقوق الله دی که حقوق العباد ؟

که چیري د زنا حد ورکول سي نو په دې زمان کي ددغه څه صورت کېدل پکار دي ؟ ځکه چي په حکومت کي اسلامي قواعدي جاري نه دي .

جواب :...... الغیبة اشد من الزنا، حدیث دی، بیهقي کي د حضرت جابرؓ او أبو سعید څخه مروي دی نیز په احیاء العلوم کي هم سته .

"قال انس خطبنا رسول اللهﷺ فذکر الرباء و عظم شانه فقال ان الدرهم لیصیبه الرجل من الربوی اعظم عند الله فی الخطیئة من ست و ثلاثین زینة

يزنيها الرجل و اوبى الوبا عرض الرجل المسلم قال فى حاشية احياء العلوم رواه ابن الدنيا بسند ضعيف" .

په قرآن مجيد كي الله تعالى د غيبت په باره كي فرمايي:

۲ . ﴿أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً﴾

۳ . دا ضروري نه ده چي د هر جرم سزا دي بطور حد ذكر كړل سي . غيبت حقوق العباد څخه دى لهذا ددغه بخشش د هغه سړي څخه وغوښتل سي چي د چا غيبت كړل سوى وي . د حدودو د اجرا كوښښ كول پكار دى . بغير حاكم يا سلطان بل سړى حد نه سي لګولاى .

د انكار حديث په سلسله كي

د شاه عبد العزيز محدث دهلويؒ د يو عبارت وضاحت:

سوال: ......شاه عبد العزيز محدث دهلويؒ په فتاوى عزيزيه كي ليكلي دي

. . .

سوال: ...... د هغه سړي په باره كي څه حكم دى چي د حديث انكار وكړي؟

جواب: ......په دغه مسئله كي څو احتمالات دي:

۱﴾ ...... دحديث انكار ديو غرض فاسد دوجهي نه وي .

۲﴾ ......يادده په دليل كي حديث ديو آيت خلاف ده ته معلوم سي .

۳﴾ ......يا په يوه مناسبه وجه انكار كوي .

۴﴾ ...... په آخر كي يې ليكلي دي چي يو آيت كريمه خلاف وي يا داسي يو مناسبه وجه د انكار د هغه په نزد موجوده وي . د دغسي انكار څه حرج نسته . براه مهرباني دا وليكه چي د شاه صاحب تحقيق درست دى كه نه؟

جواب :……د حضرت شاه صاحب قدس سره تحقیق درست دی د هغه د بیان حاصل دا دی چي یو سړی د یو حدیث انکار دیو غرض فاسده لاندي ه کوي بلکه ددې وجهي څخه یې کوي چي د ده په خیال کې دغه حدیث د یو آیت قرآني خلاف دی یا د یو حدیث خلاف دی نو ددغه کفر نه لازمېږي ځکه چي هغه په اصل کي د حدیث رسول منکر نه دی بلکه چي کومه خبره په عنوا ن د حدیث هغه ته رسېدلې ده د هغه د حدیث کېدو منکر دی په نورو الفاظو کي داسي ووایه چي هغه خبري منکر دی د هغې نسبت حضور ﷺ ته سوی دی . او دا وایي چي و دغه ته حدیث نه ویل په کار دي بخلاف د نن سبا منکرین حدیثو هغه وایي چي قطع نظر ددې څخه چي دغه احادیث د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي که نه . پخپله حدیث حیثیت دا نه دی چي په ده عمل کول ضروري دي که نه بلکه معاذ الله د آنحضرت ﷺ حیثیت صرف محض د یو پیغام رسانده بولي چي آنحضرت ﷺ موږ ته قرآن مجید را ورساوی . اوس مخته چي موږ څنګه سر په خلاصېږی هغسي به عمل پر کوو او حضور ﷺ چي څنګه د هغه تشریح کړې یا یې عمل په کړی دی هغه زموږ دپاره حجت نه دی او ظاهره ده دغه نظریه د بې شماره نصوصو قرآني خلاف ده .

خلاصه دا ده چي حضرت شاه چي کوم انکار ته کفر نه وایي په هغه کي او د موجوده دور د منکرین حدیثو د مځکي او آسمان فرق دی . خاص یو بنیادي فرق دا هم دی چي هغه انکار هوائی نفساني او د یو غرض فاسد تحت نه وي . او د موجوده منکرینو حدیثو بنیاد مقد دا دی چي د حدیثو څخه ګلو خلاصي وکړي او د آیت قرآني چي وغواړي هغه مطلب یې بیان

کړي او چې څنګه وغواړي هغسې دين جوړ کړي . ددغسې نظريې په ګمراهي او ضلالت کې هيڅ شک نشته .

''چهارم آنکه حدیثے را بسبب قوت حدیث دیگر باجهت آنکه اعتماد برقول ناقل ندارد و حدیث تصور نکرد و بانکار آن پرداخته ومنشاء انکار هوائے نفسانی وغرض دنیاوی نباشد وهمچنین سرسبزی کلام خود منظور نداشته باشد وغرضے دیگر از اغراض فاسده مقصود او نباشد بلکه بناء برقواعد اصول حدیث یا مخالفت حدیث مذکور یا کدام آیت قرآنی بگمان منکر یا امثال آن انکار حدیث نموده باشد پس حرجے در آن نیست۔'' (فتاوی عزیزیہ ج اص ۱۵)۔

"علماء امتی کانبیاء بنی اسرائیل" صحیح نه دی:

سوال :......علماء امتی کانبیاء بنی اسرائیل، آیا دغه واقعي صحیح دی که نه؟

جواب :...... علماء امتی کانبیاء بنی اسرائیل قال شیخنا وانورکشی لااصل له ولا یعرف فی معتبر وروی بسند ضعیف ۔ (تذکرة موضوعات ص ۴۰) (موضوعات کبیر ص ۸۲) کې دي:

''علماء امتی کانبیاء بنی اسرائیل قال الدمیری والعسقلانی لااصل له وکذا قال انورکشی وسکت عنه السیوطی'' . دا معلومه سوه چې دا روایت ضعیف دی او بقول بعض چې دې روایت لره هیڅ اصل نشته

"قال علیؓ انا الصدیق الاکبر روایة ودرایة" صحیح نه دی:

سوال :......بعضې شیعه ګان اعتراض کوي، چې صدیق اکبر د حضرت علیؓ لقب دی سُنیانو دغه لقب پخپله پر حضرت أبو بکر منبلولی دی او

پـه دغـه سلسـلـه كـي د ابـن مـاجـه يو روايت هم پيښوي . براه كرم دلاندي ليكل سوي سوالو جوابونه راكړئ:

۱﴿...... و حضرت أبو بكرؓ ته د صديق لقب چا وركړى ؟

۲﴿......دابن ماجه هغه روايت كوم دى او ددوى جواب څه دى؟

جواب : ...... د صـديـق لـقـب د حـضـرت ابـوبـكرؓ دپاره پخپلـه د حضور ﷺ فـرمـوده دى يـو وار حـضـور ﷺ بشمول حضرت أبو بكرؓ حضرت عمرؓ او حـضـرت عـثـمـانؓ د أحـد پـَر غـره وختـل پر غره لړزه راغله نو حضور ﷺ اشارد وفرمايى :

"اسكن أحد فليس عليك إلّا نبى و صديق وشهيدان"(بخارى ج ۱ ص ۵۲۳) .

د بالا روايتـه څـخـه مـعلومه سوه چي د صديق لقب پخپله آنحضرتﷺ د حـضـرت أبـو بـكـرؓ دپـاره استعمال كړى دى . د اهل تشيع كتاب "تفسير قـمـى" ص ۱۵۷ مـطـبـوعه ايران ، كشف الغمه (ص ۲۲۰) كي هم دغه لقب د حضرت أبو بكر دپاره منقول دى .

۲:......دغـه حـديـث پـه ابن ماجه ص ۱۲ (اصح المطابع) كي باين لفظ و سند موجود دى :

"حـدثنا محمد بن اسماعيل الرازى ثنا عبيد الله بن موسى ابنأنا العلاء بن صالح عن الـمـنـعهـال عن عباد بن عبد الله قال قال على انا عبد الله و اخو رسـول اللهﷺ و انـا صـديـق الاكبر لا يـقـولهـا بعدى إلّا كذاب صليت قبل الناس بسبع سنين ـ الحديث ـ" .

د مـذكـوره حـديـث پـه بـاره كـي د مـحـدثـينو رايـه دا ده چي دغـه روايت صحيح نه دى چنانچه علامه جوزيؒ فرمايي:

"موضوع آفته عباد ، والمنهال تركه شعبه" .

عـلامـه ذهبـي پـه خپـل كتـاب "ميزان" كي د عباد حالات ليكي ددغه حديث په باره كي وايي:

"هذا كذاب على على رضى الله تعالى عنه" .

عـلامـه ذهبـي هـم پـه تلخيص المستدرك (ج ۳ ص ۱۱۲) باندي ليكي "حديث باطل" (ما تمس إليه الحاجة ۳۸) .

حـاصل دا چي: دغه روايت محض درواغ او باطل دى . حسب معمول د شيـعـه گانو افتراء ده . ددغـه راوي عـبيد الله بن موسى شيعـه وو . وگورئ كشف الاستار (ص ۷۱) ، تقريب (ص ۱۷۱) .

نيـز مـنهـال بن عـمرو او عباد بن عبد الله هم ضعيف دى (كشف الاسفار ص ۵۲، تقريب ص ۱۲۲)

او درايـة هـم دغـه روايت صحيح نه دى ځكه چي پخپله د حضرت علي څـخه د حضرت أبو بكرؓ افضل الصحابة صراحة منقول دى نيز په دغه كي خـودسـتـائـى هـم سـتـه چـي هـغـه د حـضـرت علي كرم الله د شان څخه ډيره بعـيده ده .

د فضائل درود پر يو حديث باندي اهم علمي اعتراض جواب :

سوال : ......السـلام عـليـكـم ورحـمة الله و بـركـاتـه، بعد از سلام مسنون د حـضرت مفتي كفايت الله صاحب يو عبارت او فضائل درود، مصنفه شيخ الـحـديث حضرت مولانا محمد زكرياؒ څخه يو حديث مع د خپلو اشكالاتو درج وم . ستـاسـو څـخـه درخـواست كـوم چـي ددغـه وضاحت وفرمايي :

حضرت مفتي صاحب تعلیم الاسلام حصه چهارم کي شرک فی الصفات بیانوي او پر نمبر ۳ باندي لیکي: ''شرک فی السمیع و البصیر'' یعني د خدای تعالی په صفت سمیع بصیر کي بل څوک شریک کول مثلاً داعقیده درلودل چي پلانکی پیغمبر یا ولي زموږ ټولي خبري د لیري څخه یا نژدې څخه اوري یا زموږ کارونه د هر ځای څخهویني صفت شرک دی.

ددې څخه معلومه سوه چي د لیري او نژدې څخه ټولي خبري اورېدل د خدای تعالی صفت خاص دی چي په هغه کي هیڅ غیر شریک نسته او په فضائل درود کي په فصل اول کي حضرت شیخ صاحب حدیث نمبر ۷ کي دا نقل کوي.

الله تعالی یو فرشته زما پر قبر باندي مقرره کړې ده و هغه ته یې د ټوله مخلوق د خبرو اورېدلو قدرت ورکړی دی. پس کوم سړی چي د قیامت پوري درود وایي هغه فرشته ماته د هغو د هغو د پلار اخلي او درود یې را رسوي چي پلانکی چي د پلانکي زوی دی هغو پر تا درود را ستولی دی.

ددې څخه معلومه سوه چي دغه فرشته د خدای تعالی په صفت سمیع کي شریکه ده چي د لیري او نژدې څخه زموږ ټولي خبري اوري فرض کړه چي دغه حدیث ضعیف بلکه موضوع دی لیکن دونه خو ثابته ده چي حضرت شیخ صاحبؒ په نزد په غیر الله کي دغه قوت منل شرک نه دی، ورنه هغو به دغه په کتاب کي لیکله هم نه. او که چیري دا وویل سي چي د مفتي صاحب د کلام مطلب دا دی. چي په ذاتي طور باندي و یو غیر الله ته د لیري یا نژدې څخه د تمام خبرو اورېدلو قوت حاصل نه دی بلکه عطائی طور ممکن دی او په حدیث کي د عطائی قوت ذکر دی نو بیا

اشکال دا دی چي نن صبا قبر پرست هم دا وايي چي موږ انبياؤ او اولياؤ دپاره په عطائی طور باندي دغه قوت منو چي د ليري او نژدې څخه هغه زموږ خبري اوري د دوی څه قصور دی؟ چي موږ و دوی ته مشرک وايو . زيات تر زياته موږ بايد دا ووايو چي د دوی عقيده بلا دليله ده لهذا غلطه ده ليکن و دغه عقيدې ته شرک نه سو ويلای شايد ته وفرمايې چي هغه عطائی خو مني ليکن په دغه عطائی قوت کي هغه انبياء او اولياء مستقل او خود مختاره بولي چي دغه شرک دی نو بيا عرض دا دی چي مستقل او د مختار کېدو مطلب واضح وفرماياست ځکه چي په يو اعتبار خو موږ ځانونه په ټوله اختياري افعالو کي مستقل او مختار بولو حالانکه زموږ ادنی حرکت کي هم و اراده الٰهی ته محتاج يو او بغير د ارادې الٰهی او مشيت هيڅ نه سو کولای .

نمبر ۱:...... اشکال مي دونه په تفصيل ددې وجهي وليکی دپاره د دې چي جواب منقح (واضح) وي . او د شرک فی الصفات جامع او مانع تعريف پوهـ سم . د جواب الجواب واری (نوبت) نه سي را؟

جواب :......په دغه حديث کي يو غير معروف او يو مختلف فيه راوي دی چنانچه الترغيب والترهيب (ج ۲ ص ۲۸۰) کي دي :

"قال الحافظ رووه کلهم عن نعيم بن ضمضم و فيه خلاف عن عمران بن الحميری و لا يعرف اهـ" .

۲:...... مراجعت کتب څخه بظاهر معلوميږي چي په دې حديث کي صحيح الفاظ اسماء الخلائق بالهمزه ده چي د اسم جمع ده او اسماع الخلائق بالعين نه دی چي د سمع جمع نه ده چنانچه د ترغيب په (ج ۲ ص ۲۸۰)

مطبوعه اداره الطباعه المنیرة مصریة کي همزه سره دی او د ترغیب په یو بله نسخه کي هم دغسي ده نیز په حاشیه کي ددغه معنی هم دغه کړل سوې ده .

"اسند الاعتماد علیه وجعله نائیا وعرفه اسماء الناس لتبلیغ النبی ﷺ اهـ" . او د حدیث آخر الفاظ "صلی علیک فلان بن فلان هم اسماء بالهمزة مؤیدِ دی . که چیري په یوه نسخه کي اسماع بالعین وي نو دغه والله اعلم تصحیف دی پس د صحیحو الفاظ مطابق ستاسو اشکال پر حدیث نه دی وارد او پر لفظ اسماع بالعین پر تقدیر باندي هم بظاهر ترجمه جوړیږي چي د مخلوق (انسانانو نه) مجموعي قوت سماعت و دغه فرشته ته ورکول سوی دی چي د هغه په ذریعه هغه درود اوري په دغه هم څه خاص اشکال نسته .

ځکه چي داسي قوت سماعت خداوندي قدوس جلا و علاء غیر محدود ، محیط ، ازلي ابدي سمع رسه هغه نسبت هم نه لري . چي د سمندر (دریاب) په مقابله دیوې قطرې د کروړومي حصې ته کېدای سي . د شرکت د مساوات به څه معنی وي؟

د فرشتې دا قوت سماعت دی لکه چي په عام انسانانو کي چي فرق دقلت او کثرت دی الله پاک چي کله په یو مخلوق کي یو محدود قوت پیدا کړي چي هغه د هغه مخلوق و فرض منصبي دپاره ضروري وي نو په هغه کي څه استبعاد نسته .

د ملک الموت دپاره د هغه د ډیوټي د ادا کولو دپاره چي د کوم وسیع علم و تصرف ضرورت وو هغه و هغه ملک الموت ته ورکول سو او دا شرک

نه دى او كله چي ددغه فرشؤ تخليق استماع درود شريف دپاره سو نو ددغه دپاره دغه رنګه قوت سماعت ورکول هم ضروري وو .

د تقريب فهم دپاره د دور حاضر محير العقول آلات او ايجادات بطور مثال پېشېدلاى سي . چي په زرهاوو ميله ليري خبري کيږي او اورېدل کيږي . غير ملکي نشرېدونکي خبرونه ستا رېډيو نسي او تا ته يې در اوروي . خداوند قدوس (ج) که چيري پر قبر نبويٌ باندي داسي قوت مشتمله فرشته مقرره کړي وي چي د انسانانو درود اوري او و نبي عليه السلام ته يې ور رسوي نو په دغه کي څه استبعاد کېداى سي د خداوند تعالى په غيبي نظام کي متحرک خلائى رېډيو ستېشن وجود هم څه قابل انکار شى نه دى خصوصا حديث ګي وارد دي:

"ان الله ملائكة سياحين فى الأرض يبلغونى عن امتى السلام" . او که چيري براه راست د هوا د له رو په ذريعه فرشته (موكل بالقرالشريف) د درود شريف آواز حاصلوي نو دا هم خارج از امکان نه ده ځکه چي کومه ډيوټي چي د يو چا په سپرد کيږي نو د هغې ضروري آلات هم هغه ته ورکول کيږي ، نه په دغه کي استبعاد دى نه شرک . د وائيرليس نظام هم قابل توجه دى واضح دي وي چي په پوره فضا کي يو خلائى ټيپ ريکارډ موجود دى چي دوې ذرې و بل ځاى ته د منتقل کېدو آهټ آواز ريکارډ (ثبتوي) او يو آواز دبل آواز سره د خلطېدو څخه محفوظ ساتي .

ددغه تفصيل څخه بعد د حضرت شيخ صاحب پر ترجمه باندي هم اشکال باقي نه پاته کيږي نيز ددغه ترجمې خط کشيده جمله قضيه مهمله ده چي د قضيۀ جزئيه په حکم کي ده نو حاصل ترجمه به دا وي چي

د انسـانـانو بعضـي خبري مثلا درود شريف د اوريدو طاقت د اوريدو ظاقت ورکـول سـوى دى .او د تـعـليـم اسـلام خـط کـشيـده جمـلـه قضيـهٔ کليـه ده فافهم .

هـو! دا اشـکـال کـيـداى سـي چـي د يو نبي ، ولي دپاره هم د ليري او نژدې څخـه بـعضـي خبري مثلا ندائې غيب اوريدلو قوت که ومنل سي نو آيا دا بـه شـرک نـه وي؟ نـو جـواب دا دى چـي عـلـى الدوام هر انسـان تـه د داسي خبري اوريدلو قوت منل هم شرک کيداى سي .

ځـکه چي دغه سماع قوت ، فوق الفطرت او خلاف عادت دى . الله پاک انسانان داسي نه دي پيدا کړي چي نژدې او ليري څخه دي خبري واوري نو بـطـور خـرق غـادت و کـرامـت و مـعـجـزه ګـاهِ ګـاهِ د داسي کيدو فـي الجملة امکان سته ليکن على الدوام نه .

او فرشته (مؤکل بالقبر الشريف) يې داسي پيدا کړى ده چي دغه رنګه سماع جزئى ګويا د هغه عادت دى نه خرق غادت .

حـاصـل دا مـعـلـوميـږي چـي د مـخلوق دپاره ذاتي علم يا سماع محيط لـکـل شـئـى دا عـلـى الاطـلاق شرک دى او عطائى جزئى سماع ، دوه حاله څـخـه خـالـي نـه ده ، تـحـت الـعـادة ده يا خرق العادة ، بيا دواماً ده يا وقتي ده ثبـاتـه کـړل سي نو دغه به په دا اعتبار شرک وي چي د ليري او نژدې څخه عـلـى الاطـلاق اوريدل (چي خـاصـه خداوندي ده) پـه دغـه کي يې انسان شـريک کـړى دى . حـالانکه و انسان ته دغسي علم و سماع نه دى ورکول سوى نـو بـدون جـعـل خـداونـدي (ج) يـې مـخـلـوق د داسـي وسيـع عـلـم وسـمـاع تسـليـمـول اشـراک دى .ددغـه پـه رڼـا کي د فقهاؤ لانديني

جزئیاتو باندي پوهه کېدل به آسانه وي .

"و فی البزازیه قال علمائنا من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم یکفر"(بحر الرائق ج ٥ص١٣٤) .

"و یتزوجه بشهادة الله و رسوله أیضا "(ج ٥ ص ١٣٠) .

"و هکذا فی الهندیة رجل تزوج امرأة و لم یحضر الشهود قال خدائے را و رسول را گواه کردم کُفِرَ "(ج ٢ ص ٤٨٣) .

علـم مـذکور کفر و شرک بلل سوی دی حالانکه په دغه کي د علم کلي یا علم ذاتي هیڅ اثبات نسته . په "براهین قاطعه" کي دي هیڅ صفت د صفاتو څخه د خدای تعالی په بنده کي نسته چي کوم څه د حپل صفاتو څخه و یو چا ته ورکړي . د الله د ورکړي څخه زیات هر گز ممکنه نه ده و چا ته چي څونه قدر علم قدرت ورکول سو د دغه څخه زیات هیڅ هغه نه سي زیاتېدای .



﴿ما یتعلق بالأنبیاء والصلحاء﴾

د حضورﷺ ولادت هم په معروفه طریقه سوی وو:

سوال:......یو سړي د حضورﷺ میلاد پېښاوی او ویل یې چې حضورﷺ هم ددغه لاري څخه پیدا سوی دی چې موږ او تاسي پیدا سوي یو او تر دغه آسانه لاره کومه کېدای سي. شریعت مطهره پر دغه څه حکم لګوي؟

جواب:......د حضورﷺ ولادت شریفه هم په معروفه طریقه باندي وسو البته کیفیتِ ولادت باندي دغه رنګه بحث کول سوء ادبي ده.

د حضورﷺ سینه چاک کولو تحقیق:

سوال:......د جناب رسالت مآب سینه اقدس د خیرلو او دننه حصه پرېوللو څخه بعد بیرته پر خپل ځای د ایښوولو ذکر په متعددو کتابو کي لیکلی دی.

آیا د یو بل نبي سینه هم دغه رنګه چاک کړه سوې ده؟ او دغه رنګه سینه د چاک کولو ضرورت ولي پېښ سو؟

حضورﷺ وفرمایل: کنت نبیاً و آدم بین الماء والطین. او د الله تعالی ارشاد دی: لو لاک لما خلقت الافلاک، ښکاره سوه چې حضورﷺ د روز اول څخه نبي وو او چې نبي وو نو یقیناً پاک به هم وو بیا یې سینه ولي ور خیري کړه؟

که چیري د الم نشرح لک صدرک مطلب د سینې خیرل وي نو بیا خو حضرت موسیٰ هم د خدای (ج) په حضور کي دا عرض کړی وو چې رب شرح لی صدري، مګر دا هیڅ ځای نه دي لیکلي چې د حضرت موسی

علیه السلام سینه ورخیري کړل سوه او ور پرېولل سوه او بیا ور وګنډل سوه . براه کرم پر دغه روایت رڼا واچوئ .

جواب :......د شق صدر روایات صحیح دي . امام بخاريؒ، امام مسلمؒ و غیرهما په خپلو کتابو کي روایت نقل کړي دي پس د توهمات ذهنیه پر بناء انکار کول خلاف تحقیق و منافي دیانت امر دی په دلائلو چي ددغه وقوع ثابته ده نو صرف پر دغه بنا انکار نه سي کېدای چي ددغه ضرورت زما په سمجهـ کي نه راغلی . واقعه خو سوې ده زموږ په سمجهـ کي راسي یا نه .

د روزمره په ژوند کي هم داسي بعضي واقعاتي راځي یا پېښېږي چي عقل انساني نه د هغه منونکی وي نه د هغه څه توجیهه کولای سي لیکن د عقل انساني د درماندګي څخه په دغه واقعه څه اثر لوېدای سي د دغه کېدل خو اوس په نه کېدو نه سي بدلېدای .

الف:......په دغه کي اختلاف دی چي شق صدر د حضور ﷺ سره خاص دی که نورو انبیاؤ علیهم السلام هم شق صدر سوي وو :

"واختلف هل کان شق صدره وغسله مختصا به او وقع بغیره من الأنبیاء و قد وقع للطبراني فی قصة تابوت بني اسرائیل ان کان فیه الطست التی یغسل فیه القلوب الأنبیاء وهذا مشعر بالمشارکة"(فتح الملهم ج ۱ ص ۳۲۳) .

ب:...... ضرورت بروایت صحیح مسلم دا دی :

"فاستخرج القلب فاستخرج منه علقة" الحدیث (ج۱ ص ۳۲۳) . قلب مبارک پرېولل سو په دغه کي ایمان و حکمت . . . . د روایت الفاظ دا دي:

"ثم جاء بطست من ذهب ممتلئ حکمة و ایمانا فافرها فی صدری" رواه

مسلم فتح الملهم ج ١ ص ٣٢٤) .

او دغه اعتراض لغو دی چي کله دی ﷺ پاک وونو سینه یې ولي ور چاک کړله . قلب پاک دایمان او حکمت ډک کول کیږي نیز د پاکي ډېري بې شماره مراتبې وي د هري پاکي څخه اعلی و بالا او کمال او پاکیزګي وي د کمال مراتبي غیر متناهي وي . د هري مرتبې بعد و حضور ﷺ ته مزید علو و رفعت ور عنایت کیږي . لهذا د نبی کریمؐ سابقه عبادت ددغه نظافت خلاف نه دی لکه څنګه چي کمالات معراج د حضور ﷺ د سابقه کمالاتو خلاف نه دی او نه دا ویل کېدای سي چي د حضور ﷺ ذات ګرامي د معراج څخه دمخه د کمالاتو څخه خالي وو العیاذ بالله .

لو لاک لماخلقت الافلاک : الفاظ د حدیث صحیح الفاظ نه دی بلکه مضمون صحیح دی او ددې له یوه حدیث سره تعارض نسته .

د حق تعالی پر آنحضرت ﷺ د درود استولو معنی:

سوال : ...... الله تعالی څنګه پر نبي اکرمؐ باندي درود استوي هغه صحیح حدیث الفاظ بیان کړئ؟

جواب : ...... زموږ د طرفه څخه د درود شریف حقیقت دا دی چي د حضور ﷺ دپاره د خدای (ج) څخه د رحمت خاصه د نزول دعا وکول سي . او د حق تعالی (ج) د طرف څخه د درود دا معنی ده چي حق جل شانه خپل رحمت خاصه پر حضور ﷺ باندي نازل فرمایي . پس د انسانانو د درود دپاره د الفاظو حاجت وي او د الله تعالی د درود دپاره د الفاظو حاجت

نه وي . لهذا دا سوال غلط دی چي د الله تعالی د درود الفاظ څه دي .

د حضور ﷺ د خاندان د حقوقو تفصيل:

سوال: ......بعضي واعظ حضرات په خپلو تقريرو کي د حضور ﷺ د خاندان د نسبي شرافت څخه انکار کوي او د حضور ﷺ په وجه د اهل بيت کرامو تکريم دی د هغه اعتقاد نلري او که چيري د يو سيد مومنه څخه د يوې ګناه ارتکاب وسي نو د هغه دپاره عام اجلاس کي د . . . سپي الفاظ مذمومه پخپله هم استعمالوي او په سامعينو يې هم استعمالوي او وايي چي ساداتو دپاره د حضور ﷺ نسبي تعلق هيڅ مفيد نه دی . ټوله دار مدار پر عمل صالح باندي دی او حتی دا صفا وايي چي زموږ د سيد او شاه سره هيڅ تعلق نسته او پر موږ د هغو هيڅ احترام و تکريم ضروري نه دی . موږ خو د دين يو د سين (سيد) شين (شاه) نه يو . او صفا وايي چي دخاندان نبوي سه تعلق جوړول هيڅ حکم شرعي نه دی .

د دوی د کلام خلاصه دا ده چي سيد بحيثيت سيد د هيڅ تکريم مستحق نه دی محض عمل سبب د تعظيم دی غرض د دوی د تقريرو څخه د اهل بيتو کرام محبت د خلکو د زړو څخه کميږي او چي د خپل خيال مؤيدات پيښوي بعض حسب ذيل دي:

مثلاً بعض اوقات أبو لهب، أبو جهل، کنعان، آذر قصص بيانوي چا چي اسلام هم نه کی قبول، او و خلکو ته وايي ګورئ و کنعات ته د نوح د خاندان نوبت څخه د کېدو څه فائده نه وسوه اوابو لهب وغيره د حضور ﷺ د خاندان څخه د کېدو و آذر ته د حضرت ابراهيم د خاندان څخه د کېدو هيڅ فائده نه ورکړه .

او بعضي اوقات آیات قرآنیه پېشوي مثلاً "سورة العصر" وايي حالانکه خسر تعلق د مجموعه ايمان او عمل صالح سره دی . نو موږ پوښتنه کوو چي د جميع اعمال صالح سره دی که د بعض سره، که چيري د بعض سره وي ن و پخپله حضرات واعظين هم په خسر کي دي او د الفاظو کنجر، سپي مستحق خو دي نو بيا د سيدانو تخصيص ولي ؟ او نور آيتونه هم په مثل د﴿ يا ايها الناس انا خلقكم من ذكر وانثىٰ الخ﴾ وايي، او کله حديث "اعملي" پېشوي . غرض د حضوراکرمؐ د خانداني شرف د ختمېدو په واسطه آيات قرآنيه پېشوي د دغه تعلق مجموعه ايمان و عمل منتفي څخه دی . د ايمان څخه بعد شرف نسبي منتفي کېدو باندي څه آيت بطور دليل نه راوړي .

اوس امر طلب دا دی چي د خاندان نبويؐ نسبي شرافت اسلام راوړلو څخه بعد سته که نه؟ په اتفاق د علماؤ که چيري جواب په منفي کي وايي نو د نفي صحيح دلائل څه دي؟ او بيا چي کومو کي نسبي شرافت ميلاويږي هغه حسب ذيل دی دذې څه جواب دی:

۱﴾ ...... په بخاري کي کتاب التفسير قوله إلّا المودة فی القربی عن ابن عباس تحت حضرت مولانا احمد علي سهارنپوري تحرير فرمايي:

"قربیٰ اٰل محمدﷺ الآية على امر الخاطبين بان تودوا اقاربه ﷺ و هو عام لجميع المكلفين الخ" .

۲﴾ ......حضورﷺ وفرمايل چي د خلکو نسب به منقطع سي مګر زما نسب به نه منقطع کيږي . (نقل از مرقات حاشيه مشکوة) ددې وجهي څخه حضرت عمرؓ د حضرت عليؓ په کور کي رشته وکړه .

۳﴾ ...... په مسئله زکوة او کفو کي د متقي اوفاسق هیڅ فرق نسته ددې څخه د فقهاء کرامو د نسبي شرافت باقي پاته کېدو مفهوم وي .
۴﴾ ...... حضرت ابراهیم بن رسول الله ﷺ د نابالغتوب په حالت کي وفات سو دعدم شرافت نسبي په ماتحت عام کلیه باندي راځي که به په اعراف کي وي که په خدام . حالانکه د حدیث څخه ددې خلاف مفهوم دی وغیره وغیره إلی الدلائل العشره چي په هغو کي د شرافت نسبي ثبوت ملاوېږي .
جواب : ......د اهل بیت کرامو محبت اتباع کي داسي درجه غلو کول چي د شریعت عظمیٰ لمن د لاسه ولاړه سي رفض و تشیع ده او د دوی سره د بغض و دښمني باعث خسران و علامت خروج دی پس اعتدال واجب دی چي هغه د أهل السنة والجماعة مسلک حق دی . لهذا متنازعه فیه شیانو کي یو څه قدر تفصیل کول کیږي . د امور مذکوره تنقیح دا دی:
(۱) ......د اهل بیت کرام نسبي شرافت شرعاً معتبر دی که نه .
(۲) ...... که چیري معتبر وي نو د اهل اسلام دپاره په دغه باره کي د شارع علیه السلام د طرف څخه څه هدایات ورکول سوي دي او د اهل بیت کرام څه حقوق دي؟
(۳) ...... د معصیت په وجه د دوی پر حقوق اثر لوېږي که نه؟
د تنقیحات بالا جوابونه نمبر وار درج دي:
۱﴾ ......د حضور ﷺ د خاندان او د حضور ﷺ آل نسبي شرافت په بعضو احکامو شرعیه کي اعتبار کړل سوی دی . چنانچه ارشاد نبويّ دی :
"نحن أهل بیت لا تحل لنا الصدقة"(بخاري ، بحر ج ۲ ص ۲۶۵ .

او بل ارشاد دی: ”ان اللّه حرم علیکم یا بنی هاشم غسالة ایدی الناس“ .
د تمام امت دپاره د زکوٰة مال اخیستل درست دي (بشرط فقر) خواه د هر خاندان سره چي يې تعلق وي لیکن خاندان نبوت او د حضور ﷺ د آل دپاره مال زکوٰة حرام کړل سو .

دا مخفي نه ده چي دا مسئله د تمامو فقهاؤ په نزد متفق علیه ده پس د فقهاؤ د کلام څخه په دغه باره کي اقتباسات نقل کول تحصیل د حاصل دی البته بطور نمونه یو عبارت د ”بدائع“ څخه نقل کیږي . د تحریم صدقه د احادیثو نقل کولو بعد د هغه د علت و طرفته اشاره فرمایي او لیکي:

”والمعنی اشار إلیه انها من غسالة الناس فیتمکن فیها الخبث فصان اللّه تعالی بنی هاشم من ذلك تشریفا لهم و اکراماً الخ (دج ٢ ص ٤٩)“ .

په مسئله د کفالت کي هم د شرافت نسب او د هغه د . . . فی الجملة اعتبار کړل سوی دی . کما لا یخفی .

نیز د امامت دپاره د اولیٰ حقداره کېدو کي هم په یوه درجه کي فقهاؤ شرافت نسبي ته اعتبار ورکړی دی . کما فی در مختار شامي (ج ٢ ص ٥٢١)، پس معلومه سوه چي شرافتِ نسب په بعض احکامو کي شرعاً اعتبار کړل سوی دی .

٢﴾ ...... د اهل بیت نبويّ دا حقوق دي چي د دوی سره دي محبت وکړل سي په مشکوٰة کي دي .

”قال رسول اللّه ﷺ احبوا للّه لما یغذوکم من نعمته و احبونی لحب اللّه و احبوا أهل بیتی لحبی“(رواه الترمذی) .

د عترت رسول سره محبت کولو یوه بله نفسیاتي وجه هم سته د هغه و طرفته په حدیث بالا کي اشاره موجوده ده . هغه دا ده چي د حضور ﷺ په محبت مامور بها کېدل او د حضور ﷺ د جمیع امت دپاره محبوب کېدل اظهر من الشمس دي نو ددغه محبت د وجهي څخه د حضور ﷺ د متعلقینو د حضور ﷺ د آل سره محبت کول یو طبعي تقاضا ده او یو ضروري امر دی کله چي د چا سره محبت کېږي د هغه د در دېوال، ګلی کوڅې سره انس محبت تعلق کېږي پس کله چي حضور ﷺ د امت محبوب سو نو د حضور ﷺ آل محبوب کېدل هم لازم دي نو یو حق دار سو چي دوی سره دي محبت وکول سي .

۲﴾...... د اهل بیتو حق دا دی چي په معاشرت کي دي د دوی سره د ادب او احترام خصوصي لحاظ وکړل سي .

په حدیث شریف کي دي:

"اني تارك فيكم ما ان تمسكتم به لن تضلوا بعدى الخ"

په شرح ملا علي قاري کي لیکي:

"والمراد بالاخذ بهم التمسك بمحبتهم و محافظة حرمتهم الخ و قال ابن المبارك و معنى التمسك محبتهم و الاهتداء بهديتهم و سيرتهم زاد السيد جمال الدين لم يكن مخالفا للدين الخ "(مرقاة ج ٥ ص ٦٠٠ طبع قديم) .

۳﴾......د شارحینو د مذکوره بالا عبارت څخه دا هم معلومه سوه چي د محافظت احترام علاموه د اهل بیتو یو بل حق دا دی چي د دوی اتباع دي هم وکړل سي هو چي دوی د دین مخالف نه وي .

۴﴾...... د دوی څلورم حق دا دی چي و دوی ته دي ایذاء ورکولو څخه په

خصوصيت سره ځان وساتل سي . البته د شرعي ضرورت صورتونه له دې څخه مستثنىٰ دي . او حديث "أذكركم الله فى أهل بيتى الخ" . په شرح كي ملا علي قاري ليكي:

"قال الطيبى اى احذركم الله فى شان أهل بيتى و اقول اتقوا الله و لا تؤذوهم واحفظواهم الخ" .

دغه رنګه د اهل بيتو فضيلت او د هغو سره د تعلق ساتلو ضرورت پخپله حضور ﷺ ديو مثال په ذريعه واضح فرمايلى دى ارشاد يې فرمايلى دى:

"الا ان مثل أهل بيتى فيكم مثل سفينة نوح من ركبها نجا و من تخلف عنها هلك"(رواه احمد) .

د دې حديث څخه مراد دا هم دي چي د اهل بيتو محبت او متابعت ضروري وبنيي . كما فى الشروح .

پس د تفصيل بالا څخه دا معلومه سوه چي خانوادۀ نبوت ډېر د فضائلو حامل دى او د هغو خصوصي حقوق د امت پر ذمه ثابت دي .

۳﴾......آيا د هغو ګناه د هغو پر حق اثر انداز ه كيږي، يعني كه د دوى څخه يوه ګناه صادره سي نو د اهل اسلام په ذمه نه د محبت حكم باقي پاته كيږي نه د هغو د توقير او تعظيم حكم باقي پاته كيږي . آيا داسي به وي نو ددغه جواب دا دى چي تر كومه ځايه موږ پوهيږي هغه دا دى چي د دوى د معصيت څخه د دوى حقوق چي د امت په ذمه دي نه ساقطيږي د قواعدو شرعيه وو څخه او د اكابرو د كلام څخه دا معلوميږي چي كه چيري و مطلق معصيت ته مسقط حقوق وبلل سي نو هغه كوم انسان دى د انبياء

عليهم السلام بغيره، چې د هغه څخه دي د معصيت صدور نه کيږي او د اهل بيتو څخه خو هيڅ څوک نبي نه وو سوی نو نتيجه به دا ووزي چې داهل بيت به د امت په ذمه هيڅ حق نه وي حالانکه دا خلاف منصوص دی او که چيري د معصيت څه د تجديد يا تعين وسي نو د هغه دپاره به د دليل ضرورت وي چې تر اوسه پوري زموږ په علم کي هيڅ دليل موجود نه دی . پس د اهل بيتو محبت او د هغوی اکرام و احترام باوجود معمولي معصيت هم مامور به دی .

شيخ عبد الحق محدث دهلويؒ حکيم له ترمذي څخه نقل کړي دي چې د نسبت طيني احترام باقي پاته کيدل په کار دي اګر چه نسبت ديني کمزوری وي . چنانچه فرمايي:

''ہر کہ جامع ایں دو صفت افتاد ونسبت دینی را بہ نسبت طینی جمع گردانید اتم واکمل شد از غیر خود چنانچہ بعضے از اولیاء کہ جامع اند میان علم وسیادت وولایت وباوجود آں رعایت ادب وتعظیم وتقدیم وادائے حقوق نسبت طینی واجب لازم است''

هكذا قال الحكيم (اشعة اللمعات ج ٤ ص ٦٩٦) .

او د هغه دويمه وجه دا هم ده چې شريعت هر سړی د خپلو ذمه واريانو مکلف جوړ کړی دی . ترک معصيت د دوی ذمه داري ده او ادائې حقوق د امت په ذمه واجب دي نو د دوی د تقصير څخه زموږ کوتاهي به قابل عفو نه بلل کيږي . د تعليماتو شرعيه وو څخه دغه ښکاره کيږي چنانچه اولاد، والدين، مصدق و رب المال، مولاة، وولي وغيره باهمي حقوقو ادائيګي په سلسله کي شارع عليه السلام دغه رنګه هدايات کړي دي او و هر فريق ته د خپلي ذمه داری پوره کولو تاکيد کړل سوی دی . ګرچه د

فـریق ثاني د ده په زعـم ظلم کوي . پـه دغـه صورت کي بغض فی الله باندي چي څـو ک مـامـور به وي په دغه باندي د عمل کولو دا صورت کېدای سي چي په زړ ه کي د ده او د اهل بیتو او د مومن والي د وجهي محبت و احترام ولـري لیـکـن د خپل طرف عمل څخه دي د هغو د معاصي مبغوض کېدل دي هم ظاهره کړي .

واضـحه دي وي چي حکم بالا به په دې صورت کي وي چي کله پر سید بـانـدي د معصیت او فسق او فجور غلبه نه وي‌یا د هغه د تعظیم او تکریم څـخـه د عوامو د دیني ضرر اندېښنه نه وي یا هغه سید د یو بدعت داعي نه وي او د مبتـدعیـنـو سـرغـنـه نـه وي ورنه داسي نه کولو په صورت کي به هغه د تعظیم مستحق وي ځکه چي فرمان نبوي ﷺ دی :

”مـن وقـر صـاحـب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام لو کما قال“(مشکوة ص ۳۱) .

نیز دغـه امر دغـه ارشاد نبوي څخه هم ثابت دی:

” احبـوا أهل بیتی لحبی“ . ځـکـه چي له دې ظاهرېږي چي د اهل بیـتـو مـحبت کـولـو حـکـم ددوی د ذات لـه وجهـي څخـه نـه دی بلکـه د هغوی د مـحبـوب ﷺ د وجهي څخه دی . او ښکاره ده چي داسي فاسق، مجاهر او مبتدع د محبت نبوي د شرف څخه سرفراز کېدل هر ګز مستحق نه دی .

پـس هـغـه قـابـل مـحبت او لائـق د تعظیـم نه دی و دې طرفته اشاره سید جمال الدین د یو په تشریح کي لیکلې ده:

”اذا لـم یـکـن مـخالفا للدین“ . قیـدیې زیـات کـړی دی لـکه چي دمخه مفصله مذکور سوه .

الحاصل په دغسي صورت کي هغه سيد مستحق د تعظيم نه دی ليکن ددې مطلب دا نه دی چي هغه مستحق د تذليل او لائق د توهين نه دی هر ګز داسي نه ده بلکه د داسي فاسق او مبتدع د خيالاتو او عقائدو ترديد دي وکړل سي ليکن هغه دي نه ذليل کيږي .

په سوال کي چي کوم الفاظ تقرير درج کړل سوي دي د دغو استعمال هر ګز جائز نه دی .

تنبيه: مخفي دي نه وي چي محبت و اکرام بل شی دی او اتباع بل شی ده د عاصي د تکريم و تعظيم ګنجايش سته ليکن د ديني احکامو په باره کي اتباع دي صرف د شريعت په موجودګي يعني عمل کېدلو کي وکړله سي .

د حضور ﷺ په جنازه کي ځومره تاخير وسو:

سوال: ...... په مختلفو کتابو کي ليکي دي چي د حضور ﷺ جنازې په لمانځه کي درې ورځي کېدلې ځکه چي ځای تنګ وو او خلکو په وار وار لمونځ کاوی دلته سوال دا پيدا کيږي :

١﴾ ...... د جنازې ژر پټولو حکم دي نو بيا جنازه درې ورځي ولي ودرول سوه؟

٢﴾ ...... د جنازې د لمانځه په کور کي نه په خلاص ميدان کي د ادا کولو حکم دی بيا په تنګ ځای کي ولي د جنازې لمونځ ادا کړل سو؟

٣﴾ ...... د جنازې لمونځ فرض کفايه دی که يو سړی يې ادا کړي نو د ټولو ذمه ادا کيږي بيا د ټولو مسلمانانو په انتظار کولو کي درې ورځي جنازه مبارکه درول آيا بې حرمتي نه ده؟

جواب : ......د پیغمبر ﷺ وفات شریف د دوشنبې په ورځ قریب غمرمه یا بعد زوال وسو . کما فی البدایه ج ٥ ص ٢۴۴ .

"و توفی رسول الله ﷺ حین اشتد الضحیٰ من ذلك الیوم(ای یو الاثنین) ناقل - و قیل عند زوال الشمس" . د څو صفحو بعد بیا مصنف علیه رحمه لیکي (ص ٢٥٥)

"وهذا الحدیث فی الصحیح و هو یدل علی ان الوفاة وقعت بعد الزوال" . د حضور ﷺ د وفاته بعد اهم ترینه مسئله دا وه چې د اختلاف او انتشار بغیره او د امامت د و خ . . . . مو مؤثر تدبیر وسي ځکه چې لامرکزیت د مذهب او ملت دپاره زهر قاتل دی چنانچه جنګ جمل او جنګ صفین پر دغه شاهد دي . چې معمولي اختلاف فتنه پروازانو د څومره خطرناکو نتائجو سره دوچار کړ . بهر حال د انتخاب خلیفه فکر پیدا سو صحابه کرامو دیو څه بحث تمحیص څخه بعد حضرت أبو بکرؓ خلیفه منتخب کړی د اهل حل و عقد د اجتماع بحث و تمحیص او د تمامو صحابه وو په بیعت کي د دوشنبې باقي مانده حصه (چې تقریبا یو څو کهنتې وه) او د سه شنبې شپه هم تیره سوه د سه شنبې په ورځ د حضور ﷺ د جنازې لمونځ په انفرادي توګه ادا کېدی . دغه سلسله د سه شنبې تر مابنامه او آئنده متصلې شپې پوري جاري وه او د سه شنبې او چهار شنبې درمیاني شپه چې شرعاً د چهار شنبې شپه ده کي حضور ﷺ دفن (ښخ) کړل سو .

"عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله ﷺ توفی یوم الاثنین و دفن لیلة الأربعاء"(البدایة والنهایة ج ٥ ص ٢٦) .

په دې باره کې په (ج ٥ ص ٢٧١) کې لیکي:

"وهو الذی نص علیه غیر وأحد من الائمة سلفا و خلفا منهم سلیمان بن طرخان التیمی وجعفر بن محمد الصادق وابن اسحق و موسی بن عقبة و غیرهم".

د دغو روایتو څخه ظاهره ده چې په دفن کې د درو (٣) ورځو تاخیر نه دی کړل سوی بلکه وفات شریفه څخه صرف شپږ دېرش (٣٦) ساعته کې دننه دفن مبارک څخه فراغت سوی وو. د درو (٣) ورځو والا د تاخیر روایت معتمد نه دی.

ابن کثیر فرمایي:

"فقوله مکث ثلثة ایام لا یدفن غریب والصحیح انه مکث بقیة یوم الاثنین و یوم الثلثاء بکماله و دفن لیلة الأربعاء کما قدمناه". (بدایة ج ٥ ص ٢٧١).

د تفصیلِ بالا پیش نظر ستاسو د سوالاتو جوابونه بالترتیب دا دي:

١ـ . . . د درو ورځو تاخیر نه وو واقع سوی لهذا د جنازې تر درو ورځو ایښولو یا نه پټولو سوال هم نه پیدا کیږي.

٢ـ . . . د جنازې لمونځ انفراد ادا کړل سو لهذا د هغه دپاره د حجرې شریفي غوندي متبرک ځای پرېښول او وسیع ځای تلاشول بې فائدې وو. ځکه چې په وسیع ځای کې به هم د ده ﷺ لمونځ انفرادي ادا کېدی ځکه چې د حضور ﷺ د جنازې د لمانځه دپاره دغه طریقه (انفرادي) متعینه وه.

٣ـ . . . تر درو ورځو د ایښولو خبره غلطه ده پس ددغه څخه العیاذ بالله د بې حرمتي سوال هم نه پیدا کیږي.

دیو روایت څخه د حضور ﷺ جنازې دغه طریقه تجویز فرموده وه

."کما رواه البیهقی عن ابن مسعود رضی الله عنه و ان نظر فی صحته ابن کثیر". پس شبه دي نه کول کیږي .

بلا وجه توهین رسالت په باره کي سوال کول هم توهین دی .

سوال :......څه فرمایي علماء دین په دې مسئله کي چي یو پروفېسر په خپل کلاس کي د طلباء څخه سوال وکړی چي که یو سړی د حضورؐ په شان کي گستاخي وکړي نو د مسلمانانو به د دغه سړي سره څه معامله کوي؟ دریافت طلب امر دا دی چي د دغه پروفېسر په باره کي څه حکم دی؟

جواب :......د حضور ﷺ په شان کي گستاخانه کلمات ویل او د حضور ﷺ توهین (بې عزتي) کول د مذهب په کتب کي په اشد ترینو جرائمو کي شمارل سوی دی او پر دغسي بد ترین جرم کولو باندي حکومت و مرتکب ته قتل یا پهانسی پوري سزا ورکولای سي لیکن دغه د حکومت کار دی و عوامو ته ددې مجاز نسته . لهذا په دغسي وخت کي و مسلمانانو ته دا رد عمل کول پکار دی چي د حکومت و متعلقه عمل ته دي د مجرم خلاف شکایت وکړي نفس مسئله د معلومولو په غرض په مناسبه طریقه باندي په سوال دریافت کولو کي څه حرج نسته لیکن بلا ضرورت او په نامناسبه طریقه دغسي سوال کول له سوء ادبي څخه خالي نه ده .

زموږ د کالج نوجوانانو دپاره د ساړه دماغ څخه کار اخیستل ضروري او لازم دی او کوم خلک چي وایي چي علماء کرام تنگ دله دي او وایي چي و علماؤ ته وسیع الظرف او فراخ دل کېدل پکار دي چي هر رقم سوال وي پر هغه نه ناراضه کېدل په کار دي وغیره وغیره . زموږ عزیزو او محترمو نوجوانانو ته دي معلومه وي چي سوال هم نصف علم دی . غلط سوال

باندي تنبیهاً ناراضه کېدل طبعاً غصه ور تلل څه د اعتراض خبره نه ده .
دا هم کتل په کار دي چي سوال څنګه سوال دی بطور مثال که چیري یو سړي ته وویل سي چي که چیري زه ستا و پلار ته خر ووایم نو ستا رویه به څه وي . آیا داسي سړی د داسي سوال کولو څخه خوشحاله وي او دغسي سائل ته به عقلمند وایي .
تعجب دی چي پروفېسر داسوال کوي چي د مسلمانانو د پېغمبر توهین وکړل سي نو د مسلمانانو ردعمل به څه وي او داسي سوال نامه په اخباراتو کي شائع سي او پر دغه طبیعت اشتغال نه وي داخو به ډېر بې غیرته سړی وي چي پر داسي سوال خاموشه پاته سي . حضور ﷺ شان خو ډېر اعلی وارفع دی .
که چیري یو سړی دا سوال نامه شائع کړي چي په پاکستان کي یو سړی د مستهر محمد علي جناح ته بنه په اخلاص زبردست بنکنځل وکړي یا و اقبال مرحوم ته بد بلا ووایي نو تاسو ووایاست پاکستانیانو ستاسو به څه ردعمل وي آیا دغه سوال د مسلمانانو د غصې والا سوال نه دی نو دغسي سائل باندي تاسو ته غصه نه درځي؟
د دې وجهي دغه سوال سراسر جهالت او ناداني ده موږ ته تعجب کیږي چي د پاکستان په کالجانو کي داسي عقلمند پروفېسران موجود دي غالبا هغه انتهائی ملحد بد دینه دي چي د مسلمانانو رګ ایمان ته دکهه رسوي .

حضرت یوسف علیه السلام ښومره ښایسته وو :

سوال :......زموږ په کلي کي یوه کوچنئ مدرسه ده هلته مولوي صاحب تقریر کاوی وویل چي یو ځای داسي لیکلي نته چي حضرت یوسف ډېر ښایسته وو . تاو د قرآن او حدیث په رڼا کي فتوی صادره کړئ .

جواب :...... په لاندي لیکل سوي روایات و احادیث څه د حضرت یوسفؑ ډېر ښایست معلومیږي .

په مستدرک حاکم کي دي:

"عن انسؓ عن النبیؐ قال اعطی یوسف و امه شطر الحسن هذا حدیث صحیح" (ج ۲ ص ۵۷) .

۲﴾ ......په دویم حدیث شریف کي دي:

"عن أبی سعید الخدریؓ قال سمعت رسول اللهﷺ یقول و هو یصف یوسف حین راٰه فی السماء الثالث .... قال رأیت رجلاً صورته کصورة القمر لیلة البدر ، قلت یا جبریل من هذا قال هذا اخوك یوسفؑ ـ قال ابن اسحق و کان الله قد اعطی یوسف من الحسن والهیئة ما لم یعطی أحدا من العالمین قبله و لا بعده حتی کان یقال و الله اعلم انه اعطی نصف الحسن و قسم النصف الاخر بین الناس" اهـ . (كذا فی الحاکم ج ۲ ص ۵۷۱)

۳﴾ ...... آیت کریمه : ﴿ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ ﴾ ، إلی آخر الآیة) همدغه دلالت کوي .

د آنحضرت ﷺ د والدينو انتقال په کوم حالت کي وسو:

سوال:……(۱) د حضرت ابراهیمؑ د پلار نوم څه وو؟ او هغه توحید پرست وو یا بت پرست. (۲) د حضورؐ اکرم مور او پلار مسلمان سوي وو که نه؟

جواب:…… د حضرت ابراهیم علیه السلام پلار کافر وو او د آذر په نامه مشهور وو په روایاتو کي دي چي هغه پر کفر مړ سو.

(۲) د حضور ﷺ د والدينو په باره کي بعض روایاتو کي هم دا راځي چي الله تعالی دوی ژوندي کړي وو او هغوی پر حضور ﷺ ایمان راوړی وو مګر د أهل السنة والجماعة مسلک دا دی چي په داسي مسائلو کي ځان اچول او بحث کول جائز نه دي.

"وینبغی ان لا یسأل الانسان عما لا حاجة إلیه کان یقول کیف هبط جبریلؑ الخ وأبو النبی علیه السلام کانا علی ای دین اهـ". (شامي ج ۵ ص ۴۹۷)

حضور ﷺ هم د لوازمات بشریه څخه مستثنیٰ نه وو:

سوال:……یو صاحب مسائلي دغسل بیانولې هغوی وویل چي حضور ﷺ هم غسل جنابت کاوئ. حضور ﷺ ته هم مني ورتله. نو یو مولوي صاحب وویل چي تا د رسول الله ﷺ توهین کړی دی. لهذا ته کافر سوې. سوال دا دی چي حضور ﷺ ته مني ورتله که نه؟ دکفر فتوی ورکولو والا مولوي صاحب حق بجانب دی که نه؟

جواب:…… حضور ﷺ هم د لوازمات بشریه څخه مستثنی نه وو مګر د .... او که چیري یو سړی په غلطي یوه خبره وکړي نو د هغه

تكفير درست نه دى .

د حضرت حوا د حضرت آدم عليه السلام د پښتۍ څخه د پيدا کېدو ثبوت :

سوال :......د حضرت حوا د حضرت آدمؑ د پښتۍ څخه د پيدا کېدو ثبوت څه دى و پښتۍ ته په عربي کي څه وايي . مودودي صاحب د دغه پيدائش منکر دى آيا دغه صحيح ده؟

جواب :......د حضرت حواء د حضرت آدم عليه السلام د پښتۍ څخه د پيدا کېدو دليل صريح حديث دى:

" عن أبى هريرة رضى الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ استوصوا بالنساء خيرا فانهن خلقن من ضلع و ان اعوج شيئ فى الضلع اعلاه فان ذهبت تقيمه كسرته وان تركته لم يزل اعوج فاستوصوا بالنساء"(متفق عليه) (مشكوة ص ٢٨٠ ، باب عشرة النسآء) .

او پښتۍ ته په عربي کي ضلع وايي . تمام اهل لغتو د ضلع معنى د پښتۍ ليکلې ده بطور استشهاد چند حوالې ليکلې کيږي:

الضلع : پښتۍ جمع اضلع و ضلوع و اضلاع راځي . او ضلع د مضبوطي پښتۍ والا سړي ته ويل کيږي . ضالع هغه سړي ته ويل کيږي چي پر پښتۍ وېشتولو والا وي . (مصباح اللغات ص ٨٧٥)

او دغه رنګه په منجد (ص ٤٦٩) کي دي بلکه په منجد کي د پښتۍ نقشه هم ورکول سوې ده .ددې څخه واضحه سوه چي ضلع پښتۍ ته وايي لهذا د مودودي صاحب انکار صحيح نه دى .

د قرآن مجيد په څلورمه سپاره سورة نساء په اوله رکوع کي حق

تعالی (ج) فرمایي (خلق منها زوجها) یعني آدم علیه السلام د (بدنه) د بعضي حصې څخه د هغه ماینه (حوا) پیدا کړه ددغه آیت تفسیر پخپله حضور ﷺ فرمایلی وو چې په جواب کې په مذکور حدیث کې موجود دی لهذا جواب مرقوم صحیح دی .

د حضرت خضر علیه السلام د ملایکه تسلیمولو نفي او انسان منلو په صورت کې د اشکالاتو جواب:

سوال :...... حضرت خضر علیه السلام انسان تسلیمولو په صورت کې یو اشکال پیدا کیږي هغه دا چې هغوی چې کوم درې کاره وکړو د هغو څخه دوه اول کاره د احکام شریعت سره متصادم دی دا خو درسته ده چې هغوی دغه کارونه د الله په حکم کړی وو مګر سوال دا دی چې د الله د دغه احکاماتو چې و حضرت خضر علیه السلام ته ورکول سوي وو نوعیت څه وو ظاهره ده چې دا خو تشریعي احکام نه وو ځکه چې دغه کارونه په هیڅ شریعت کې جایز نه وو . که چیري دغه احکام تکویني وو نو د هغه مخاطب صرف فرشتې وې . دیو انسان دپاره دا ګنجایش نسته چې هغه دي حکم شرعي خلاف وکړي خو و ده ته د الهام په ذریعه ددغه خلاف شرع کار مصلحت هم ور ښوول سوی وو . دا یو داسي خبره ده چې پر هغه علماء شریعت او اکابر صوفیان ټول متفق دي . چنانچه علامه آلوسيؒ په تفصیل عبد الوهاب شعرانيؒ ، محی الدینؒ ابن عربي، مجدد الف ثانيؒ ، شیخ عبد القادر جیلاني، ، جنید بغداديؒ ، سرسقطي أبو الحسن نوريؒ ، أبو سعید الخزازؒ ، أبو العباس احمد الدینوري او امام

غزاليؒ غوندي د نامور بزرګانو اقوال نقل کولو سره دا ثابته کړې ده چي اهل تصوف په نزد هيڅ په داسي الهام عمل کول جائز نه دی چي د نص شرعي خلاف وي . (روح المعاني ج ۱٦ ص ۱٦)

که چيري قرآن په لفظ صريح راغلی وي چي خضرؑ انسان وو نو موږ به منلی وای چي هغه انسان وو او د دغه ضابطې څخه مستثنی وو مګر په قرآن مجيدکي صرف "عبدا من عبادنا" الفاظ راغلي دي دغه الفاظ د انسان مستلزم نه دي .

په حديث کي هم دا صريح ارشاد موجود نه دی چي په هغه ګي دي حضرت خضرؑ د نسل انساني يو فرد بلل سوی وي په دغه باب کي مستند ترين روايت هغه دی چي : عن سعيد بن جبير ، عن ابن عباس عن أبی بن کعب عن رسول الله ﷺ د سند څخه د ائمه وو ته حديثونه رسيدلي دي . په دغه کي حضرت خضرؑ نه رجل (سړی) ويل سوی دی (يا ذکر راغلی دی) مګر دغه هم د انسانانو دپاره مخصوص نه دی پخپله په قرآن کي دغه لفظ د پيريانو (جناتو) دپاره استعمال سوی دی سورة جن کي دي:

﴿وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ﴾ (الاية) او دا هم ښکاره ده چي جن يا فرشته يا يو غير مرئی وجود يې کله چي د انسانانو په شکل کي راسي نو هغه ته به انسان ويل کيږي لکه چي په سورة مريم کي راغي دي : ﴿فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَراً سَوِيّاً﴾ .

الحاصل دغه پيچدکي يا مشکل د رفع کولو دپاره يو صورت سته چي خضر عليه السلام انسان نه وبلل سي بلکه د فرشتو څخه يا دي د الله د يو بل مخلوق څخه وبلل سي .

متقدمینو څخه هم بعضو دا رایه ظاهره کړې ده بلکه ابن کثیرؒ په خپل تفسیر ماوردي په حواله نقل کړي دي . تاسو په علمي تحقیق سره زما خلجان لیري کړئ او د حضرت خضر علیه السلام صحیح پوزیشن واضح کړئ .

جواب :...... د جمهورو علماء سلف په نزد حضرت خضرؑ نبي وو د هغه د شریعت زیات تعلق د حقائقو باطنیه شرعیه سره وو . حضرت موسی علیه السلام علی هذا اکثرو انبیاؤ علیهم السلام د شرائعو تعلق د احکام ظاهریه سره وو . د حضرت خضرؑ هغه افعال هم من عند الله شریعت وو او هغه منزل وو . په دې وجه چي کله حضرت خضرؑ و فرمایل "و ما فعلته من امری" نو حضرت موسی علیه السلام انکار نه وکړی:

"قد نص العلماء على ان غالب الأنبياء انما بعثوا ليحكموا بالظاهر دون ما يطلعوا عليه من بواطن الامور و حقائقها وبعث الخضر يحكم عليه من بواطن الامور و حقائقها اهـ۔

و فی تفسیر ابن حبان والجمهور علی ان الخضر نبی و کان علمه معرفة بواطن امور اوحيت إليه اهـ "(روح البيان ج ۵ ، ص ۲۸۱) . حضرت خضر علیه السلام په ملائکو کي شمارل قول ضعیف و غریب دی .

علامه عینيؒ لیکي:

"و اغرب ما قيل انه من الملائكة و الصحيح انه بنی وجزم به جماعة و قال الثعلبی هو نبی علی جمیع الاقوال معمر محجوب عن الابصار و صححه ابن الجوزی أيضا فی کتابه اهـ "(عمدة القاری ج ۱ ص ٤٤٧) فقط .

د حضرت علي كرم الله وجهه
د طرفه څخه د يو كرامت نسبت:

سوال:......د حضرت علي كرم الله وجهه په باره كي ويل كيږي چي ده به د آس په يو ركاب كي پښه كښېښوله او د دويمي پښي اېښوو لو څخه دمخه به يې قرآن مجيد ختم كړى . او دغه د هغوى كرامت ښودل كيږي . آيا دغه خبره صحيح كه غلطه ده؟

جواب:...... ددغه سوال دجواب دپاره متعدد كتابونه مي وكتل ليكن په يو معتمد كتاب كي يې ذكر نه سو راته ميلاو . تر كومه ځاى چي ددغه كرامت د ممكنه كېدو تعلق دى نو دا خو يوه بعيده خبره نه ده چي نامكنه دي وي .

الله تعالى عزوجل بسا اوقات كرامةً په وخت كي داسي بركت اچوي چي په لږ وخت كي سړى دومره لوى كار كوي . چي هغه صرف نا ممكن نه بلكه نا قابل فهم هم وي . حضرت داؤدؑ پر آس د ځين د راكښېدو حكم كاوى او د زبور تلاوت به يې شروع كاوى . ځين د اېښوو لو څخه دمخه يې زبور ختماوى . (بخاري)

په عمدة القاري شرح بخاري كي د داسي واقعې تحت د څو نورو داسي خلكو واقعاتي ليكلي دي چي په لږ وخت كي به يې ډېر كار كاوى .

"وفيه الدلالة على ان الله تعالى يطوى الزمان لمن يشاء من عباده كما يطوى المكان وهذا لا سبيل إلى ادراكه إلّا بالفيض الربانى وجاء فى الحديث ان البركة قد تعلق فى الزمن اليسير حتى يقع فى العمل الكثير وقال النووى اكثر ما بلغنا من ذلك من كان يقرأ أربع ختمات بالليل و أربعاً بالنهار۔

انتهی۔ و لقد رأیت رجلا حافظا قرأ ثلاث ختمات فی الوتر فی کل رکعة ختمة فی لیلة القدر"(عمدة القاری ج ۷ ص ٤٢١) .

د حضرت عیسی علیه السلام
بغیره پلاره د پیدا کېدو حکمت:

سوال :......د خدای پاک د حضرت عیسی علیه السلام د پلار بغیره د پیدا کېدو څه حکمت وو؟ حالانکه قانون د قدرت دې چې د مورو پلار د ملاویدو څخه بچی پیدا کیږي نو خلاف قانون کېدو څه ضرورت پېښ سو؟ که چیري دا وویل سي چې خدای پاک خپل قدرت ښکاره کاوه چې پر خلاف قانون قادره دی نو هغه خو حضرت آدم علیه السلام یې پیدا کړی وو نو اوس د تحقیق خبره دا ده چې حضر ت عیسی علیه السلام بغیره پلاره د پیدا کېدو ضرورت ولي پېښ سو؟

جواب :......کله چې دا واضحه سوه چې الله تبارک و تعالی خلاف عادت کول د اظهار قدرت دپاره دي نو واضحه دي وي چې خلاف عادت (خلاف قانون) عقلي طور باندي پر درې قسمو متصور کېدای سي:

۱ . بلا مور پلار ۲ . بلا مور ۳ . بلا پلار .

نو دغه درې صورته الله په دنیا کي ښکار کړو چې الله تبارک و تعالی ددغه معهوده عادت خلاف (چې د مور او پلار په واسطه سره اولاد وي) کول بجمیع صور عقلیه متصوره قادر دی چنانچه آدم علیه السلام د مور او پلار بغیره او حوا علیها السلام بغیر موره پیدا کړه او حضرت عیسیٰ د پلار بغیره پیدا کولو سره د قدرت اظهاریې تام کړی .

نیز دغه رنګه سوالونه منشاء الله تعالی د فاعل او مختار کېدو کي د

شک اظهار دی . د دې وجهي په دغسي مسائلو کي په جواب کلي بحث خو مناسب دی چي الله تعالی فاعل مختار تسليموي يا نه . ليکن جزوي بحث چي الله تعالیٰ ولي دا کار وکړی په دغه کي بحث لا حاصل دی . ځکه چي په کمه کمه جزئيه په باره کي ته حکمت تلاشوې او ويلای سې .

آيا آنحضرتؐ مختون (سنت سوی) پيدا سوی وو :

سوال : ...... عام مشهوره ده چي حضور ﷺ مختون پيدا سوی وو که چيري دغه خبره مستنده وي نو د هغه حواله تصديق کړئ؟

جواب : ...... په دې سلسله کي يو صحيح روايت منقول نه دی بلکه علامه شاميؒ د بعض محققينو څخه نقل کړي دي: چي درسته دا ده چي حضور ﷺ غير مختون پيدا سوی وو . و الله اعلم بالصواب .

"و قد اختلف الرواة والحفاظ فی ولادة نبينا ﷺ مختونا و لم يصح فيه شيئ و اطال الذهبی فی رد قول الحاکم انه تواترت به الرواية و قد ثبت عندهم ضعف الحديث به و قال بعض المحققين من الحفاظ الاشبه بالصواب انه لم يولد مختونا " (شامی ج ٥ ص ٤٩٦) .

قرآن افضله دی که محمد ﷺ:

سوال : ......قرآن افضله دی که حضور ﷺ؟

جواب : ......دا مسئله مختلف فيه ده و يو جانب ته ترجيح نه سي ورکول کيدای . مع هذا دا ضروريات دين څخه نه دي . ددې وجهي فقهاء په دې مسئله کي د توقف حکم فرمايلی دی .

"و عنه علیه السلام القرآن احب إلی الله تعالی من السموات سبع و الأرض و من فیهن "(در مختار) "قوله و من فیهن ظاهره یعم النبی علیه السلام والمسئلة ذات خلاف والاحوط الوقف "(شامی ج ۱ ص ٦٥) .

د حضرت خدیجهؓ او
حضرت عائشهؓ سره د نکاح په وخت کي د نبيؐ عمر :

سوال :......چي څه وخت د حضرت محمدؐ د حضرت خدیجهؓ سره واده وسو هغه وخت د حضور ﷺ عمر څو کاله وو او څه وخت چي د حضرت محمدؐ د حضرت عائشهؓ سره واده وسو هغه وخت د حضور ﷺ عمر څو کاله وو او د حضرت عائشهؓ عمر څو کاله وو؟ په ذریعه د حوالې تحریر ولیکئ زه ستا مشکور او ممنون یم دپاره ددې چي بې یقیني مي په یقین بدله سي .

جواب : ...... د حضور پاک ﷺ نکاح چي کله د ام المؤمنین حضرت خدیجهؓ سره وسوه هغه وخت د حضور ﷺ عمر پنځویشت کاله دوې میاشتي او لس ورځي وو او د حضرت خدیجهؓ عمر څلوېښت کاله وو .
(تاریخ اسلام حصه اول ۳۷)

او کله چي د حضرت عائشهؓ سره نکاح وسوه نو هغه وخت د حضور ﷺ عمر پنځوس کاله او شپږ میاشتي وو او د حضرت عائشهؓ عمر شپږ کاله وو او د رخصتي په وخت کي د حضرت عائشهؓ عمر نهه (۹) کاله وو . (تاریخ اسلام حصه اول ص ۱۴)

فضلات نبویه پاک دي :

سوال :......بکر د تقریر په دوران دا حدیث بیان کړی چي یو صحابیهؓ د سرور عالم ﷺ بولي (میچازي) مبارکي وچښلې یا چښلې وې .

حـضـور ﷺ وفـرمـایـل ستـا نـس به درد نه کوي . زید ددغـه پـه جواب کي وایـي دغـه فـالتـو خبـره ده کـلـه چـي و زید تـه وویل سول چي وحدیث تـه بـکـواس وویل نوزید وویل چي و واقعهٔ حدیث ته مي بکـواس نه دي ویلي بـلـکـه ودغـه واقـعهٔ تقریر ته مي بکواس ویلي دي .اوس د زید پـه باره کي څـه حـکم دی؟ دلوړي مسئلې د ثبوت دپاره وزید ته مي مدارج النبوت (ج ۱ ص ۲۱) څخه حدیث پېش کړی زید فوراً وویل چي زه دغـه حدیث نه منم .

جواب : ......دغـه واقـعـه صـحـیـح ده او د عـلـماء أهل السنة والجماعة دغـه مـذهـب دی چـي د حـضـور ﷺ فـضـلات بول وبزار طاهر دي . د زید انکار کـول پـر جـهـالت مبنیٰ دي . چونکه نن سبا د علم کمی ده نو چي زید وایي چـي زمـا د واقـعـې څـخـه د انـکـار مقصد وو د حدیث توهین مې مطلب نه وونـو مـوږ پر زید د کفر یا فسق فتوی نه سو لګولای د یو سړي پر ذات باندي پـه فتوی لګـولو کي د ډېر احتیاط ضرورت دی البته زید باید توبه وکاږي .

آیا پخپله په آنحضرت ﷺ باندي هم درود ویل واجب وو :

سوال : ......څـه فـرمـایـي عـلماء دین پـه دې مسئله کي چي آیا پر حضور ﷺ بـاندي پـر خپـل ځان درود ویل واجب وو . لکه چي د آیت یا ایها الذین آمنو صلوا علیه وسلموا تسلیما څخه عموم معلومیږي؟

جواب : ......پـخـپـلـه حـضـور ﷺ ددې آیـت څخه مستثنی وو دغـه خطاب د حضـور ﷺ څخه علاوه وتمامو مؤمنینو ته وو .

"وفی المجتبیٰ لا یجب علی النبیّ ان یصلی علی نفسه اهـ" (در مختار) .

"وفی الشامیة لانه غیر مراد بخطاب صلوا ولا داخل تحت ضمیره کما هو

المتبادر من ترکیب صلوا علیه وقال فی النهر لا یجب بناء علی ان یا ایها الذین آمنوا لا یتناول الرسولؐ بخلاف یا ایها الذین الناس ، یا عبادی کماعرف فی الاصول اهـ.

والحکمة فیه و الله تعالی اعلم انها دعاء و کل شخص مجهول علی الدعاء لنفسه و طلب الخیر لها فلم یکن فیه کاسفة والایجاب من خطاب التکلیف لا یکون إلّا فیما فیه کلمة و مشقة علی النفس و منافرة لطبعها لیتحقق الابتلاء اهـ"(ج ۱ ص ۴۸۱) .

د حضورﷺ څخه صرف عمامه (لنګوټه) او صرف ټوپۍ(خولۍ) اغوستل ثابت دي:

سوال:...... حضور پُر نور ﷺ په خپله مبارکه زندګي کي بغیر د لنګوټې خولۍ پر سر کړې ده که نه؟ او بغیره د خولۍ یې لنګوټه تړلې ده که نه ؟ سره د حوالې یې ولیکئ . بینوا توجروا .

جواب:......حضور ﷺ صرف خولۍ او صرف لنګوټه تړلې ده (زاد المعاد ج ۱ ص ۳۴) کي دي:

"و کان یلبس القلنسوة بغیر عمامة و یلبس العمامة بغیر قلنسوة اهـ ـ و لا بأس بلبس القلانس و قد صح انه ﷺ کان یلبسها (کذا فی العالمگیری) و فی الترمذی کانت کمام اصحاب رسول الله ﷺ بطحاً ـ" .

د آدم علیه السلام و طرفته د معصیت نسبت بمعنی معروف صحیح نه دی:

سوال:......یوه سړي د توبې د فضیلت بیان کاوئ . دا قصه یې شروع کړه چي خدای پاک چي دا حکم وکړ و ملائکو ته چي و آدم علیه السلام ته

سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه مګر شیطان سجده و نه کړه . شیطان توبه نه وکړه . الله تعالی د خپل درباره وشاړئ لعین . او و آدم علیه السلام ته یې وفرمایل :(لا تقربا هذه الشجرة) (الآیة) د حضرت آدم علیه السلام څخه خطا وسوه ځکه چې الله تعالی بالمشافه (مخامخ) و حضرت آدم علیه السلام ته دغه حکم ورکړی وو نو د ابلیس څخه هم خطا وسوه او د حضرت آدم علیه السلام څخهٔ هم خطا وسوه لیکن حضرت آدمؑ توبه وکړه او ابلیس توبه و نه کړه نو حضرت آدمؑ د توبې بعد پر خپله ذنبه پاته سو او شیطان رانده سو دغه بیان صحیح دی که نه؟

جواب :...... د حضرت آدم علیه السلام په فعل کې او شیطان په عصیان ي د شیطان او آدم علیه السلام فرق ستـه . د حضرت آدمؑ ودغه ظاهري غلطي ته سنګین جرم ویل هم سنګین جرم دی . د حضرت آدمؑ عصیان د نسیان (هیري) پر بنیادوو . شیطان چې کله د خدای (ج) قسم واخستی نو په آدمؑ په دهوکه کې راغلی او دا فکر یې وو چې څوک د خدای په نامه د دروا غو قسم نه سي اخیستای او دغه هم درحقیقت د الله تعالی د نامه احترام او اطاعت وو . ګواکي د صورت د لحاظ څخه حکم عدولي وو او پر دغه بنیاد عتاب ورکول سو ، ورنه پخپله الله تعالی د آدم علیه السلام په صفایي کې ارشاد فرمایي: ﴿ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْماً ﴾ (الآیة) چې د آدم علیه السلام هیر سو اوچې څه یې وکړو د عزم او ارادې څخه یې نه دي کړي او د معصیت دپاره دا ضروري ده . واعظ ته په کار ده چې توبه وکاږي .

حضرت جبريلؑ د حضراتو شيخينو څخه افضله دى :

سوال : ……زيد وايي چي جناب أبو بكرؓ د حضرت جبريلؑ څخه افضله دى او بكر ددغه عقيدې مخالفت كوي او وايي چي تمام انبياء عليهم السلام خو ضرور د حضرت جبريلؑ څخه افضله دي ليكن هيڅوك غير نبي د حضرت جبريلؑ څخه افضله نه سي كېداى . زيد وايي عوام مومنين د عوام ملائكه څخه افضله دي او خواص د مومنينو د خواصو د ملائكه څخه افضله دي . له دواړو څخه كوم يو صادق دى بمعه دلائل تحريره كړه .

۲﴾ ……يو سړى وايي چي حضور ﷺ تمسخر فرمايي . عام مومنان دغه سړى نه خوښوي او وايي چي د سرور كائنات ﷺ و طرفته د تمسخر نسبت كول توهين دى آيا هغه سړى حق په جانب دى كه عالم مومنان چي دى نه خوښوي؟

جواب : ……حضرت جبريل عليه السلام د حضراتو شيخنوؓ څخه افضله دى .

”كما قال فى رد المختار : عن الروضة اجمعت الامة على ان الأنبياء أفضل الخليفة وان نبينا عليه السلام أفضلهم وان أفضل الخلائق بعد الأنبياء الملائكة الأربعة ……… وان الصحابة و التابعين ……… أفضل من سائر الملائكة الخ ……… حاصله ان قسم البشر إلى ثلاثة اقسام خواص كالأنبياء و اوساط كالصالحين من الصحابة و غيره و عوام كباقى الناس ……… و جعل خواص البشر أفضل من الملائكة خاصهم و عامهم بعدهم فى الفضل خواص الملائكة فهم أفضل من الباقى البشر اوساطهم و عوامهم و بعدهم اوساط البشر فهم

أفضل عن عدا خواص الملائكة الخ"(ج ۲ ص ۴۹۲) .

۲﴾...... د آنحضرتﷺ و طرفته د تمسخر نسبت کول بې ادبي او ګستاخي ده لهذا پر قائل باندي توبه کښل لازم دي . تمسخر د بازار د خلګو فعل دی خوش طبعي جلا شی دی .

په خوب کي هم انبیاء کرامؑ د شیطاني اثراتو څخه محفوظه وو :

سوال : ......وانبیاء کرامو علیهم السلام ته به د نورو انسانانو په شان جنابت پېښېدی که نه؟ مذکوره حالت د راتلو بعد انبیاء کرام باندي یا پر حضورﷺ باندي غسل جنابت فرض دی ؟

جواب : ......حضراتو انبیاء کرامو ته په حالت خوب کي د اثر شیطاني څخه جنابت نه کیږي حق سبحانه و تعالی دغه مقدسي هستیاني ددې اثراتو څخه محفوظه کړي دي البته له مباشرت او جماع څخه بعد به پر دغه حضراتو غسل کول ضروري وو . حضورﷺ به په داسي حالت کي غسل کاوئ لکه چي د رویت څخه معلومیږي:

"عن أبی رابع ان النبیﷺ طاف ذات یوم علی نسائه یغتسل عند هذه "(الحدیث ، رواه ابوداؤد ص ۲۹)۔ عن غضیف بن الحارث قال قلت لعائشةؓ ارأیت رسول اللهﷺ کان یغتسل من الجنابة فی اول اللیل او فی آخره قالت ربما اغتسل فی اول اللیل و ربما اغتسل فی آخره۔

شب معراج کي د غوث الاعظم پر وږو پښې کښېښولي او لاړی غلط محض دی :

سوال : ......مشهوره ده چي رسول اللهﷺ د سیدنا غوث الاعظمؒ پر وږو

پښې کښېښنولې د هغه ځای څخه یې مخته تشریف یوورې آیا دغه درسته ده؟

۲﴾...... حضور ﷺ وفرمایل که چیري زما بعد نبوت وای نو به حضرت سیدنا غوث الاعظمؒ نبي وای .آیا دغه حدیث صحیح دی؟

جواب: ...... په حدیث معراج او نورو احادیثو کي ددغه قسم قصې هیڅ ذکر نسته . حضور ﷺ :آغاز سفر څخه تر انتها سفر پوري پوره واقعه نقل کړې ده په هغې کي د براق او زینې (زینه) ذکر سته .

شراح حدیث هم دغه قصه هیڅ ځای نه ده ذکر کړې د نفس قصې څخه د غور کولو بعد معلومیږي چي دغه یو غالي عقیدت مند ذهین اختراع ده او دغه وجه ده چي یو سند یې نه بیانیږي چي د یوې واقعې د غلط یا صحیح کېدو دپاره بنیادي معیار دی .بعضي خلک په جوش عقیدت کي .

کچھ بڑھا بھی دیتے ہیں زیب داستان کیلئے

۲﴾......دا هم موضوع او کذب صریح دی . په ذخیره احادیثو کي یو ځای هم داسي ذکر نسته . حضرت غوث الاعظمؒ د وجوده دمخه ددغې جملې وجود هم نه وو . که چیري دغه پېشین ګویي وای نو د ده ولادت څخه به دمخه یو چا ددغه ذکر کړی وای په مسلم شریف کي د حضور ﷺ څخه د حضرت أبو هریره رضی الله عنه روایت دی: په آخر زمان کي به څه رجال او کذاب وي چي و تاسو ته به داسي احادیث بیانوي چي نه به تاسو اورېدلي وي . د داسي خلکو ځان وساتئ دوی دي تاسو ګمراه نه کړي او په فتنه کي دي مبتلا نه کړي .

سایهٔ نبوي، د حدیث په دلائلو:

سوال:......آیا د حضور ﷺ سایه وه که نه؟ که هر صورت وي د احادیثو په دلائلو یې ثابته کړئ؟

جواب:...... د صحیح روایاتو او احادیثو څخه دا ثابته ده چې د حضور ﷺ سایه مبارکه وه . په مستدرک حاکم کې دي چې:

"عن عبد الله بن مسعودؓ قال كان رسول اللهﷺ إذا سجد قال اللهم سجد لك سوادى و خيالى و بك آمن نؤادى أبو بن عمتك على و هذا ما جنيت على نسفى يا عظيم يا عظيم اغفرلى فانه لا يغفر الذنوب العظيمة إلّا الرب العظيم ـ"(ج ١ ص ٥٣٤) .

حضرت عبد الله ابن مسعودؓ فرمايي چې حضور ﷺ عموماً په حالت سجده کې دا دعا به کوله چې یا الله زما جسم او سایه تا ته سجده وکړه او زړه مې هم پر تا ایمان راوړی دی او زه پخپله ستا د نعمتو معترف یم او د خپلو لغزشو (تېروتنو) معافي ستا څخه غواړم مولا ته لوی یې لوی څخه لوی لغزشونه (تېروتني) معافولو والا ته یې .

مذکوره بالا حدیث کې لفظ "خیال" استعمال سوی دی د لفظ "خیال" په باره کې علامه احمد مصطفی المراغی په خپل تفسیر "المراغي" کې ارشاد فرمايي:

"و الظلال واحدها ظل و هو الخيال الذى يظهر للجرم" . یعني د ظلال واحد ظل دی د هغه معنی د خیال ده او خیال هغه دی چې د جسم دپاره بصورت سایه ظاهرېږي .

په تفسير بحر المحيط كي علامه أبو حيان فرمايي:
"قال الفراء الظل مصدر يعني في الاصل ثم اطلق على الخيال الذى يظهر للجرم و طوله بسبب انحطاط الشمس و قصره بسبب ارتفاعها فهو متقاد الله تعالى في طوله وقصره وميله من جانب إلى جانب"(بحر المحيط ج ٥ ص ٣٧٨) .
مشهور نحوي فرآءؒ فرمايي: چي لفظ ظل په اصل كي مصدر دى بيا دغه د خيال معنى ته وړل سوى دى چي په صورت د سايې د جسم دپاره ښكاره وي چي د هغه لمبائى (اوږدوالى) د لمر ځخه د لاندي والي له وجهي ځخه كيږي او كمى يې د لمر د پورته كېدو له وجهي ځخه كيږي دغه سايه د الله مطيع او فرمانبرداره وي په كمېدو او زياتېدو كي هم او دلته او هلته كږېدو كي هم .
د مذكوره بالا دواړو حوالو ځخه صفا ښكاره ده چي "سجدلک سوادي و خيال" د جسم او سايې په معنى كي اسعتمال سوې ده نيز دغه روايت علامه ذهبيؒ په تلخيص مستدرک كي حديث بللى دى .
دويم حديث:
"عن انس بن مالكؓ قال بينما النبيؐ يصلي ذات ليلة صلاة اذ مدّ يده ثم اخرها فقلنا يا رسول الله رأيناك صنعت في هذه الصلوة شيئاً لم تكن تصنعه فيما قبله قال اجل انه عرضت على الجنة فرأيت فيها دالية قطونها دانية فاردت ان اتناول منها شيئا فاوحى إلى ان استأخر فاستأخرت ثم عرضت على النار فيما بينن و بينكم حتى رأيت ظلي و ظلكم فيها فاوميت اليكم ان استاخروا۔"(مستدرك خاكم ج ١ ص ٤٥٦) .
د حضور ﷺ خادمِ خاص سيدنا حضرت انسؓ چي يوه شپه حضور ﷺ

موږ ته لمونځ راکړی او د لمانځه په حالت کي د حضور ﷺ لاسونه مخته پورته سو مګر بیا یې ژر راشاته کړو موږ عرض وکړ چي حضور ﷺ چي نن تاسو خلاف معمول په لمانځه کي د نوي عمل اضافه وکړه. نبي علیه السلام وفرمایل نه، بلکه قصه دا ده چي زما و مخ ت اوس اوس جنت پېش سو ما په هغه کي بهترینې مېوې ولیدې، زړه مي وغوښتل چي د هغو څخه یو څه راپورته کړم مګر فوراً حکم راته وسو چي شا ته سه، نو زه شا ته سوم بیا پر ما جهنم پېش کړل سو د هغه په رڼا کي ما خپله او ستاسو سایه ولیدله چي ومي لیدله ما و تاسو ته اشاره وکړله چي شا ته سئ.

دغه روایت هم علامه ذهبيؒ صحیح بللی دی.

دریم حدیث:

" عن عائشة رضی الله تعالی عنها ان رسول الله ﷺ كان فی سفر له اعتل بعیر لصفیة و فی ابل زینب فضل فقال لها رسول الله ﷺ ان بعیرا لصیفة اعتل فلو اعطیتها بعیرا من ابلك فقالت انا اعطی تلك الیهودیة قال فتركها رسول الله ﷺ ذا الحجة والمحرم شهرین او ثلاثة لا یاتیها قالت حتی أليست منه و حولت سریری قالت فبینما انا یوم بنصف النهار إذا انا بظل رسول الله ﷺ مقبلاً" (مسند احمد بن حنبلؒ ج ٦ ص ١٣٢).

حضرت عائشهؓ فرمایي چي حضور ﷺ په یو سفر کي وو چي اچانک (نابېره) د حضرت صفیهؓ اوښ ناجوړه سو. اتفاقاً د حضرت زینبؓ سره یوه سواري زیاته سوه وه. حضور ﷺ حضرت زینبؓ ته مخاطب سو و یې فرمایل خپله زائده سوارلي و حضرت صفیهؓ ته ورکړه حضرت زینب

وویل آیا هغه یهودیه نه یې ورکړم؟
پس پر دغه حضور ﷺ ناراض سو او ذوالحجه او محرم دوې یا درې میاشتې مسلسل حضور ﷺ د حضرت زینب ؓ کره نه راغلی حضرت زینب ؓ فرمايي . تر د دې پوري چي زه حضور ﷺ د طرفه څخه مایوسه سوم دخپل سامان وغیره د منتقلي اراده مې هم وکړه مګر اچانک یوه ورځ څه وینم چي د حضور ﷺ سایه را روانه ده .

څلورم حدیث:

"عن أبی هریرة رضی اللّٰه تعالی عنه انه ذکر ان رسول اللّٰه ﷺ حدثهم ان جبریلؑ جاء ه فصل به الصلوة وقتین وقتین إلّا المغرب جاء نی صلی بی الظهر حین کان فیئ مثل شراك لغلی ثم جاء فصلی بی العصر حین کان فیئ مثلی "(الحدیث) (رواه بزاز و صاحب مجموع الزوائد) .

حضرت أبو هریرهؓ فرمایي چي یو وار رسول الله ﷺ وفرمایل چي ما لره حضرت جبریلؑ تشریف راوړی او ما ته یې د دوه دوه وخته لمونځونه راکړل مګر مغرب (ماښام) دواړي ورځي پر یو وخت یې راکړی د ماپښین لمونځ یې هغه وخت راکړی چي کله زما سایه زما د تسمې برابره سوه او د مازیګر لمونځ هغه وخت راکړی چي زما سایه زما برابره سوه . د مذکوره بالا احادیثو څخه ثابته سوه چي د حضور ﷺ سایه مبارکه وه .

اعینونی عباد الله د وظیفې حکم:

سوال: ......کتاب "شهباز شریعت" چي دیوه لوی عالم لیکلی دی په صفحه ۳۳۲ باندي لیکلي دي چي "اعینونی عباد الله رحمکم الله یا عبدالله اعینونی" دغه نهه (۹) واره وو ایه کوم سړی چي د غائب څخه مد

ثبوت فقه نه دي وړلی .

په مروجه طریقه کومې چې د شیئ لله ختم سره شروع شي جائز نه دی

لکه یا شیخ عبدالقادر جیلاني شیئاً لله دا جائز دی او که نه؟ او ختمونه

لکه چې جائز نه وي نو ختمونه د لله د بسم الله ختم کول مروجه نه په

حدیث ثابت دی؟

جواب: د ثلاثي مروجو د حدیث کتاب ختم حدیث نه سره ملاوي لکه

چې کتاب پوره نه وي شي چې په آخر د حدیث کې به موجوده وي چه د

حدیث د صحت و ضعف په باره کې څه ریږه نه قتل کوي البته ختم

[illegible]

وظیفه ختمه وي هم او نه دي لکه د صرف د فقه ي نه په دي چې په

حضور کې ی په شي د ک کړي دي لکه ختمه چې د حدیث د لفظي

ختمه معلومیږي پس ختمه حدیث ختم د د شیب ختم په هر وقت کې هم

وخت سنت د سنت جواز نه ثابتیږي .

نیز د هم نه د مشعبنه چې ختمه شيد لله څنګه عنت کوي نن کوي په

په یو به طریقه سره . و ختمه شيد لله په مصداق کې د عنه خلاف دی

بعضي وايي د فرشتی دي و د بعضي په نزد د بيا دی . فقط والله اعلم

بالصواب .

که چیری بعضي فرشتی په د حق شیب په صحو کې لله جوړ د علا

صحابه په ختمه ختمت معمور کړي وي و څه صحبه نه د نیکې ختم ختم

مصنف سند د شیر لله جواز هیڅ که نه ثابتیږي .

ختمه د حدیث لفظ دي

"وهو بأرض ليس بها انيس فليقل يا عباد الله اعينوني .... فان الله عباد إلّا يراهم" . ددې حديث څخه لاندیني امور مستفاد سو:

۱﴾ ...... کله چې په صحرا کې يو شی ورک سي لو خط کشيده الفاظ دي وويل سي .

۲﴾ ...... هلته يو څه رجال غيب وي چې هر سړی يې نه ويني . په حديث کې دا نه ده ښوول سوی چې د عباد الله د اعانت څه نوعيت دی هغه صرف دعا کوي يا څه نور .

پس په دغه کې قابل تعجب خبره نسته چې الله تعالی په دغه دشت بېيان صحرا کې څه رجل غيب په داسې مورو مامور کړي وي ليکن دغه به ندا غيب نه وي . بلکه د هلته اوسېدونکي ته آواز کول وي دا نه ده معلومه چې د هغو تعدا د څو دی . هغه موږ نه وينو او د هغو هلته وجود ددغه حديث څخه ثابت دی . بخلاف يا شيخ عبد القادرؒ الخ ځکه چې دا ندائې غيب ده . ځکه چې دا ديو حديث څخه ثابته نه ده چې حضرت شيخ عبد القادر قدس سره العزيز هر ځای او په هر کور کې موجود وي پس د دواړو حکم جلا جلا دی . البته دا چې "يا عباد الله" هر ځای بطور وظيفه ويل هم جائز نه وي . ځکه چې د حديث څخه دا عموم ثابت نه دی . د کوم مقدار اجازت چې په حديث کې سته يا معلوميږي هغه هغو ندي بايد جائز وبلل سي يعني صرف په ځنګله کې چې يو شی ورک سي . (اياک نستعين) په خلاف به دغه ددې وجهې څخه نه وي چې دغه اعانت داسې دی لکه چې يو انسان د بل انسان په معمولي کارو کې امداد کوي .

ددې تفصيل او بحث حاجت به هغه وخت وي چې کله د سند په اعتبار د حديث صحت معلوم سي . فقط والله اعلم

د جماعت د فرضو لمنځو بعد د دعا ثبوت:

سوال: دعا بعد از اداء نماز جماعت نماز فجر، ظهر، عصر، مغرب، عشاء دعا غوښتنه بمطابق حديث ده يا سنت څنګه ثابته کيداى سي او دعا د کومو حديثو څخه ثابته ده؟

جواب: د فرضو بعد دعا د حضور ﷺ څخه ثابته ده . په احاديثو کې صراحت موجود دى . چې حضور ﷺ د فرضو د سلام د ګرځولو څخه بعد به څه وخت په ذکر او دعا کې مشغول وو او د حضور ﷺ دغه ذکر او دعاوي په احاديثو کې منقوله دي . بناء براين ائمه اربعه و د حنفيو مسلک دى چې د فرضو بعد د امام و مقتديو دعا غوښتل سنت و مستحب دي او ومتعدد صحابه کرامو ته حضور ﷺ د فرضو بعد د دعا غوښتلو ترغيب ورکړى او يو څو صحابه وو ته دغو د مناسب حال دعايه تلقين فرمايلى وو .

د حضور ﷺ عمل:

عن الاسود العامري عن ابيه قال صليت مع رسول الله ﷺ الفجر فلما سلم انحرف ورفع يديه ودعا الحديث . اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه .

(۲) عن أبي بكرة قال كان رسول الله ﷺ يتعوذ بهن اللهم اني اعوذ بك من الكفر دبر كل صلوة الحديث رواه احمد والترمذي والنسائي .

څه خبره ده چې د سلام نه بعد دې حضور ﷺ نه دعا غوښتي وه او صحابه ته ئې خوښه ورته کړې .

(۳) قال محمد بن يحيى الاسلمي رأيت عبد الله بن الزبير ورأى رجلا

رافعا یدیه یدعو قبل ان یفرغ من صلوته فلما فرغ منها قال ان رسول اللهﷺ لم یکن یرفع یدیه حتی یفرغ من صلوته ۔ رجاله ثقات نقله السیوطی عن ا بن أبی شیبه " . ددغـو حـدیثـو حـاصل دا دی چې حضورﷺ به د لمانځه بعد لاسو نه پورته کړو دعا به یې کوله .

دآنحضرتؐ د لمانځه بعد دعاوي:

۴﴾......"عـن أبی امامة ما دنوت من رسول اللهﷺ فی دبر صلوة مکتوبه و لا تـطـوع إلّا سـمـعـتـه یـقـول الـلـهم اغـفـرلـی ذنوبی و خطایای کلها" الحدیث (اخرجه ابن السنی)

۵﴾...... "عن المغیرة بن شعبة قال ان رسول اللهﷺ کان إذا فرغ من الصلوة قـال لا الـه إلّا الله وحـده لا شریك لـه ، له الحمد و هو علی کل شیئ قدیر و لفظ البخاری دبر کل صلوة اهـ"(بخاری، مسلم، أبو داؤد ، نسائی) .

۶﴾......"عن عبد الله ابن الزبیر ان النبیؐ کان یقول فی دبر الصلوات لا اله إلّا الله وحده لا شریك له "(الحدیث) (رواه مسلم) .

۷﴾......"عـن انـسؓ قـال مـا صـلـی رسـول اللهﷺبنا إلّا قال حین اقبل علینا بـوجهه اللهم انی اعوذبك من کل عمل ینحزینی و من کل صاحب یؤذینی و اعـوذبك مـن عـمـل یـلـهینی واعوذبك من کل فقر نیسینی واعوذبك من کل غنی یطغینی اهـ"(رواه البزار وابو یعلی) .

حـضـرت انـسؓ فرمایي چې حضورﷺ چې د لمانځه څخه به فارغ سو زمـوږ طـرفـتـه متـوجـه سو دعـا بـه یې کـولـه آیا دا مـمـکنـه ده چې صحابه کرامؓ بجائې د شرکت کـولـو یا آمین ویلو ولاړېدو او تلو به .

۸﴾......"عن قال کـان النبیؐ ای اسلم من الصلوة قال اللهم اغفرلی ما قدّمت

وما اخرت و ما اسررت و ما اعلنت و ما اسرفت "(الحديث) (ابو داؤد) .

۹﴾ ..... "عن ثوبانؓ ان النبیؐ کان إذا اراد ان ینصرف من صلوته استغفر ثلاث مرأت ثم قال اللهم انت السلام الخ"(ابو داؤد) .

د لمنځو بعد د دعا په باره کې د حضورؐ ارشادات:

۱۰﴾ ..... عن عقبة بن عامرؓ قال امرنی رسول الله ﷺ ان اقراء المعوذات دبر کل صلوة . (رواه أبو داؤد)

۱۱﴾ ..... "قیل یا رسول الله ﷺ ای دعاء اسمع فقال رسول الله ﷺ جوف اللیل الاخر و دبر الصلوٰت المکتوبات" (رواه الترمذی)

۱۲﴾ ....."عن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان النبیؐ قال یا معاذ انی و الله احبك فلا تدع دبر کل صلوة ان تقول اللهم اعنی علی ذکرك و شکرك" (الحدیث ، أبو داؤد ، و نسائی) .

۱۳﴾ ..... " عن الفضل بن عباس الصلوة مثنی مثنی تشهد فی رکعتین و تخشع و تضرع و تمسك و تقنع یدیك یقول ترفعهما إلی ربك مستقبلاً ببطونهما وجهك و تقول یا رب یا رب و من لم یفعل فهو کذا کذا وفی روایة فهو خداج"(اخرجه الترمذی)

۱٤﴾ ....."اخرج الطبرانی فی روایة جعفر بن محمد صادق قال الدعاء بعد المکتوبة أفضل من الدعاء بعد النافلة کفضل المکتوبة علی الناقلة کذا فی السعایة۔" .

۱۵﴾ ..... "اعلم انه لا خلاف بان المذاهب الأربعة فی ندب الدعاء سرا للامام والقوم و اجاز المالکیة و الشافعیة جهر الإمام به لتعلیم المؤمنین اوتامینهم علی دعائه اهـ"(از کتاب مسلك مسادات إلی السبیل الدعوات مؤلفه شیخ محمد

على مفتي مالكيه مكه) .

د علماءِ امت اجماع:

١٦﴾ ...... "قد اجمع العلماء على استحباب الذكر والدعا بعد ا لصلوة وجاء ت فيه أحاديث كثيرة" (تهذيب الاذكار للزملى) .

كتبِ تفسير څخه ثبوت:

١٧﴾ ......"ابن السنى انه قال فى تفسير قوله تعالى:﴿فاذا قضيتم الصلوة فاذكروا الله قياما و قعودا و على جنوبكم ﴾ الآية اى اذكروا الله تعالى وادعوا بعد انواع من الصلوة انتهى (التحفة المرغوبة) فهذه نبذه من دلائل فصلت و بينت فى النفائس المرغوبة و مسلك السادات وان شئت التفصيل فطالعه فانه شيفيك و يكفيه ان شاء الله تعالى" . كه دي مزيد تفصيل په كار وي نو رساله " النفائس المرغوبة" مؤلفه مفتي كفايت الله دهلوي رحمة الله تعالى عليه وګورئ .

په دې كتاب كي د دوه سوه پنځلس څخه زيات علماء عرب وعجم تصديق او توثيق باندي دغه مسئله بيان سوې ده . فقط والله اعلم .

د عملياتو په ذريعه ملائيكي او جنات مسخر كول:

سوال :......

١: پېريان د عمل په ذريعه مسخر كول درست دي كه نه؟

٢: د بعضي علماؤ او بزرګانو دين د واقعاتو څخه معلوميږي چي پېريان د دوى تابع وو آيا هغه اكتسابا تابع كړل سوي وو يا خود بخود تابع سوي وو؟

٣: مؤکل اصطلا ح دعاملینو په صیغه د اسم فاعل ده یا په اسم مفعول یعني په زبر د کاف ده که په زور د کاف ده؟

۴: دغه مؤکل از نو ع جنات دی یا از نو ع فرشتگان یا پر دواړو ددغه لفظ اطلاق کیږي . که چیري پر فرشتو اطلاق کېدی نو پر دوی باندي د "تابع کېدو" لفظ ویل جائز دی که نه؟

٥: تسخیر فرشتگان په یو قرآني آیت سره یا په اسماء الٰهی سره کېدای سي که نه؟

٦: تسخیر فرشتگان بحکم شرع شریف جائز دی که نه؟

جواب:......

(١):.... جلب منفعت دپاره مسخر کول جائز نه دي د عمل صحیح په ذریعه سره دي وکړل سي . ځکه چي په دغه کي استرقاق حر یعني د آزاد غلام جوړول وي او بلا حق شرعي ددوی .... اخیستل دي چي هغه حرام دی . (معارف القرآن ج ٧ ص ٢٦٧)

(٢):.... ظاهره ده چي هغه به د ممنو ع شرعي ارتکاب نه کوي بلکه الله تعالی بطور کرامت جنات د داسي خلګو تابع ګرځوي په دغه کي د څه عمل او وظیفې دخل نسته . (معارف القرآن ج ٥ ص ٢٦٥) بظاهر هغه تسخیر ددغه قبیل څخه دی:

تو گردن از حکم داور مپیچ ...... کہ گردن نہ پیچد ز حکم تو ہیچ

(٣):.... د قانو ن د رویه څخه مؤکل په زور سره د کاف کېدای سي .

(٤-٥):.... کتاب لا جواب شمس المعارف الکبریٰ چي تعویذات و عملیات دپاره د اصل حیثیت لري . په هغه کي (ج ١ ص ٧٦) د یو عمل

تحت ليکلي دي . طاعته الملئكة ددغه څخه معلومه سوه چي ملئكة هم مسخر کيداى سي .

(٦):۔ . . .د قواعدو له لحاظه جائز نه دی .

"من ليس له شيخ فشيخه ابليس" له يو بزرګ منقوله ده :

سوال :......څه فرمايي علماء کرام در اين مقوله چي آيا دغه حديث شريف دی يا ديو بزرګ مقوله . من ليس له شيخ فشيخه ابليس؟ ددې مکمل وضاحت وکړئ؟

جواب : ......"من ليس له شيخ فشيخه ابليس" دغه مقوله د بعض بزرګانو حديث شريف نه دی البته ددغه مطلب درست دی .چي کوم سړی خپل استاد، مور، پلار يا يو متبع سنت شيخ خپل رهنما نه جوړوي هغه د شيطان په بند کي بنديږي . كذا في بعض الفتاوی .

د حضورﷺ و طرفته مروّجه د "وجد و رقص" نسبت كذب و افترا ده :

سوال : ......حافظ جيون داجلي په يو کتاب په نامه د ضياء نوراني کي ليکي په دغه کي د حضرت خواجه حکيم الدين صاحب سيرانيؒ "کشف او کرامات د ليکلو بعد وجد سرور او رقص د جواز ثبوت ورکولو کي تحرير فرمايي چي د حضرت محمدؐ ذات با برکات په صحن مسجد کي تشريف فرما وو چي يو سړی او دوې ښځي چي حبشياني وې تشريف يې راوړی . نبيؐ وفرمايل چي دغه شعرونه د ترنم سره ووايه هغو هغه

شعرونه په ترنم سره وویل . حضور ﷺ ولاړ سو او د دوی طواف وکړی او بیا یې رقص (اتڼ) وکړی . أبو بکرؓ نژدې راغی نو حضور ﷺ د هغه پر وږه لاس کښېښووی او وجدیې وکړی او پر مځکه یې پښې وهلې حضرت عمرؓ راغلی د هغه مخ متغیر سو هغوی وغوښتل چې د ډول والا وباسي، مګر حضور ﷺ وفرمایل د خدای (ج) د رحمت د نزول وخت دی نو حضور ﷺ خپل پټو مبارک ځلور ټکړې (حصې) کړی و دوی ته یې ورکړی زموږ و کلي ته نژدې یو ځای (کلی، قلعه زمین) ددغه کلي د مسجد امام یو سید دی د جمعې لمونځ هم دلته کیږي . دوران خطبه هغوی وویل چې بې شکه تماشه وکورئ، قوالي واورئ، نقلونه وکورئ ځکه چې حضور ﷺ پخپله ذات ګرامي بمعیت حضرت ام المؤمنین عائشه صدیقهؓ پخپل کتلی دي . تاسو هم د دغه شیانو لیدل سنت محمدي وبولئ او کوم سړی چې ددغه د عدم جواز فتوی ورکوي هغه کافر دی او د سنت منکر دی . پخپله یې هم وکورئ او په خپلو ښځو یې هم وکورئ؟

جواب:......دغه واقعه او دغه رنګه نور واقعات موضوع او د ځان څخه جوړ سوي دي . ددغه هیڅ پاته ثبوت نسته . دغسي غلطي خبري و حضور ﷺ ته منسوبولو څخه و ایمان ته د سخت نقصان رسېدو اندېښنه ده . ځکه چې په دغه کي د حضور ﷺ توهین او بې ادبي ده او دداسي غلطي او بدي عقیدې والا امام پسي لمونځ کول مکروه تحریمي دي بلکه جائز نه دي .

ضیاء نوراني کتاب ما نه دی لیدلی که چیري دغسي واقعات په ده کي

درج وي نو دغه كتاب غلط او غير معتبر دى ددغه مطالعه جائز نه ده .

د تصوف دپاره د "تسهيل قصد السبيل" مطالعه ضروري ده :

سوال :...... آيا مريد خپل پير په لاندينې الفاظو سره بللى سي شرعاً دا جائز دي؟ ۱ . آنحضرت ۲ . زما پير (نوم د ليكلو بعد) رحمة للعالمين وو يا دى . ۳ . ندا كول يو ولي ته لفظ يا او اې باندي بلل . ۴ . ديو نبي يا ولي د نژدې څخه يا ليري څخه امداد غوښتل ۵ . د نبي يا ولي څخه فرياد كول ٦ . يو نبي يا ولي د خپل قبر څخه د ليري څخه سوى آواز اوري .

جواب :...... پيري او مريدي جائز ده بزرګانو ددين په دغه طريقه سره ډېر ديني خدمات كړي دي . مګر په دغه سلسله كي راه اعتدال اختيارول ضروري ده . د اكابرو اولياؤ څخه ديو بزرګ يوه رساله هم سته "آداب شيخ و المريد" د حضرت مولانا اشرف علي تهانويؒ يو كتاب "تصوف و درويشي" په سلسله كي بنام "تسهيل قصد السبيل" دى چي په هغه كي يې د پيري او مريدي آداب ذكر فرمايلي دي . او ددې رسالې خلاصه هم شائع سوې ده . لهذا كه چيري د تصوف او درويشي حقيقت باندي ځان پوهـ كول وي نو ددغه كتاب مطالعه دي وكړي . په دې سلسله كي افراط تفريط او غلو و مبالغه زياته سوې ده . واقعي ډېر خلك پيران تر حد زيات لوى پېشوي . حضرات پيران عظام چي په صحيح معناوو كي شيخ طريقت وي مونږ دوى ته ځ خدايي اختيارات وركول شروع كړي دي نو په ياد وساتئ چي د ليري څخه بلل او دا عقيده درلودل چي پير د ليري څخه اوري غلطه عقيده ده او ناجائزه ده و غيره ذلك . دغه قسمه عقائد صحيحه

او فاسده تفصیل په بهشتي زیور په اوله حصه کي مطالعه کړئ .

د سلسلهٔ نقشبندیه یو د خاص تصور حکم:

سوال:...... سلسله مبارکه نقشبندیه فضلیة غفوریه حضرت سیدنا و مولانا محمد عبد الغفور العباسي الدرویشیه، محله باب المجیدی، مدینه منوره، حجاز مقدس: ناشر سید محمد علاؤ الدین جیلاني نقشبندي مجددي، چشتي، قادري، په صفحه ۲۸ کي د طریقت ذکر دا رنګه مرقومه دی . دا خیال وکړه چي پر کوم ځای مرشد ګوته ایښې وه او د ذکر کولو تلقین یې کړی وو هغه ځای سری سوی دی د آسمان څخه د خام ژړ رنګ د نور، یوه لیکه زما د پیر پر زړه ایله کیږي او د هغه د زړه څخه زما و زړه ته تر هغه سري راځي .

جواب:...... شرعاً په دغه کي هیڅ ممانعت نسته، مجاهدات و ریاضات سلوک، شرعي احکام نه وي بلکه از قبیل تدابیر و معالجات باطنیه وي مقصود یکسوئي او رضائې الٰهي ده .

تصورِ شیخ اولیٰ دی:

سوال:...... د علمائې دیوبند په نظر کي "تصورِ شیخ" څنګه دی کول یې جائز دی که نه؟

جواب:...... حضرت مولانا عبد الحی لکهنوي رحمة الله لیکي: درست دی . اکابرو په پاک نیت دغه عمل کړی دی . (مجموعة الفتاوی ج ۲ ص ۳۰۰)

حضرت ګنګوهي قدس سره له دې سره زیات تفصیل لیکي:

د چا تصور کول بطور خیال کي هیڅ حرج نسته مګر رابطه چي هغه په مشائخو کي مروجه ده دغه مشائخو د یو علاج دپاره تجویز کړې ده که

چیري پر دغـه حـد وي چـي پر کـوم حد بزرګانو تجویز کړې وه نو چندان دشـوار ه نـه ده . ګـواکـي تـرک ددغـه هـم اولـی دی . ځکه مختلف فیه بین الـعـلـمـاء ده او داسـي کـول ضـروري هـم نـه ده چي ددغـه بغیره دي کـار نـه وچلیږي او څوک چي تـر دغـه حـد زیـات سي نو هغـه ناجائز دی . انتهی بلفظه فتاوی رشیدیه (ج ۱ ص ۲) .

آیا بیعت طریقت ضروري دی:

سوال : ......بـعـضـي خـلـک د بیـعـت پـر اهـمیـت بـانـدي ډېر زور کـوي تـاسـو وفـر مایاست چي آیا مروجه بیعت طریقت ضروري دی که چیري یو سړي د چا سره بیعت نه وي نو د هغه څخه به دقیامت په ورځ سوال کیږي؟

جواب : ......د بیـعـت مـقـصـد نسبت حـاصـلـول دي چي حدیث : ان تعبد الله کـانک قـراه (الـحـدیث) کـي مـذکـور دي .اکثره دا کـیږي چي دغه نسبت د صاحـب نسبت په توسل سره حاصلیږي . ګـوا کـي و بعضو ته د دغه بغیره هـم حـاصـلـیـږي . مـګـر داسي شاذ او نادره وي لهذا ددغـه نـسبت د حاصلولو دپاره بیعت کـول مستحب دی . (فـتـاوی رشـیدیه ص ۷۵)

د اهل السنة والجماعة تعریف:

سوال : ......د اهـل السـنة والـجـمـاعـة تعریف بحوالـه کـتب معتبره مفصل او مدلل مطلوب دي .

جواب : ......۱﴾: د اهـل السـنة والـجـمـاعـة درې (۳) الفاظ دي یو لفظ ''أهل'' دی چـي د هغـه معنـی د اشخاص، افراد او ګـروپ ده . دوئم لفظ ''سنت'' دی د هـغـه معنـی د طریقي ده دریم لفظ د ''جماعت'' دی د هغه څخه جماعت د صحابهؓ مراد دی . پس اهل السنة والجماعة د هغه ګروه (ډلي) نوم دی چي

د حضور ﷺ پر سنتو او جماعت صحابه پر طریقه باندي وي او حضرات فقهاء محدثین متکلمین ، اولیاء ، عارفین ټوله اهل السنة والجماعة دي . په اصولو د دین کي ټوله متفق دي . په دې حضراتو کي اختلاف فروعي او جزئی دی . اصولي نه دی . (عقائد اسلام ج ۱ ص ۱۷۵)

۲﴾: اهل السنة والجماعة هغه مسلمان دی چي په عقائدو او احکامو کي د حضراتو صحابه کرامؓ پر مسلک وي او د قرآن مجیدسره حدیث نبویه حجت بولي او عمل په کوي .

"قال فی شرح العقائد النسفیة فبهت الجبائی و ترك الاشعری مذهبه فاشتغل و هو من تبع بابطال رأی المعتزلة و اثبات ما ورد به السنة و مضی علیه الجماعة۔ "(ص : ۱۲) .

دا خو ددغه لقب معنی سوه او ددغه مصداق هغه خلک دي چي په عقائدو کي د امام أبو الحسن اشعري یا أبو منصور ماتریدي متبع وي . کما فی حاشیة الخیالی علی شر ح العقائد ص ۱۹ (از امداد الاحکام ج ۱ ص ۷۷)

وتقلید ته شرک ویلو والا د اهل السنة والجماعة څخه خارج دي :

سوال :......ما قولکم ایها العلماء الکرام والفضلاء العظام په دې مسئله کي چي زید و تقلید شخصي ته حرام بلکه شرک او د کفر څخه تعبیروي او مقلدین ائمه مشرک او کافر بولي . حتی د ائمه دین په باره کي وایي چي هغه هم العیاذ بالله کافر او مشرک وو . اوس ددغه سړي د جنازې لمونځ کول یا دده سره ولاړه او ناسته ، سلام کلام کول یا هر قسم شرکت ورسره کول درست دی که نه ؟

۲﴾.....آيا د شريعت مطهره د روى څخه زيد مسلمان که د اسلام د دائرې څخه خارج دى او کوم خلک چې ځان د امام اعظمؒ مقلد بولي هغه دي ددغسي سړي سره څنګه سلوک کوي او ددغه شرعاً څه حکم دى؟

جواب:.....دغسي سړى چې و تقليد ائمه ته شرک وايي او مقلدين مشرک بولي د اهل هوا څخه دى د اهل السنة والجماعة څخه خارج او مبتدع دى. و مقلدينو ته پکار ده چې ددغسي سړي دي خبري نه اوري په خپل مسلک دي کاربنده اوسي. دداسي خلکو سره بحث، مناظره کول هغو ته عزت او ترقي حاصليږي د داسي خلکو خبري بالکل نه اورېدل ددوى علاج دى.

د هندوانو سره تعلقات په باره کي:

سوال:.....زه يو کاروبار کوم په هغه کي ضروري داوي چې د هندوانو سره به تعلقات ساتم. زه په دغه کي څه رويه اختيار کړم او په دې ملک کي د اقليتي غير مسلمانانو سره خبري کول ولاړېدل کښېنستل وغيره تر کومه ځايه ګنجائش لري. يو داسي ملک چې په هغه کي حکومت د غير مسلمانانو دى لکه هندوستان هلته به د تعلقاتو نوعيت څه وي که چيري يو مسلمان د غير مسلم سره ولاړيږي او کښېني د هغه مسلمان و کور ته نه ورتلل د هغه سره تعلقات پرېکول څنګه دي؟

جواب:.....رېښتينى مومن هغه دى چې د يو مقصد تحت زندګي تېروي. د هغو ولاړه، ناسته، بيدېدل، ويښېدل، تګ راتګ، ويل نه ويل د هغه مقصد تحت وي. هغه مقصد د الله رضا او خوشنودي ده. او کوم سړى چې د يو مقصد تحت زندګي تېروي هغه هيڅ کله دداسي سړي سره د زړه

محبت نه پيدا کوي . او کوم سرې چي ددغه مقصد مخالف او دښمن وي کافر خواه هر څوک چي وي هغه د مسلمان د مقصد اعلاناً دښمن دی . دا يو حقيقت دی . محسوسه کيږي که نه محسوسه کيږي څوک پوهـ سي يا نه سي . دغه وجه ده چي قرآني تصريحات په مطابق د يو کافر سره په هيڅ حال کي د زړه دوستي او يارانه جائز نه ده . دَخُداى پاک سره د شريک نيولو والا سره محبت او دوستي کولو والا به په کومه خوله وايي چي اې الله زه پر تا ايمان راوړم او ستا سره محبت کوم .

کعبہ کس منہ سے جاؤ گے غالب
شرم تم کو مگر نہیں آتی

البته د غير مسلمانانو سره تجارتي لين دين ، حسن سلوک ، احسان روا داري ، همدردي ، و نفع رساني اسلام اجازت ورکړی دی په شرط ددې چي هغه هم ددغه مقصد تحت وي يعني هغه و راه راست د راوستلو او هغه د اسلام د محاسنو څخه د آګاه کولو مقصد وي . ددغه غرض تحت حضرت محمدؐ د کفارو ، مهمان نوازي کړې هغو ته يې عطيات هم ورکړي وو او څومره قدر چي اسلام و غير مسلمين سره روا داري کړې د په بل مذهب کي د هغه مثال نه پيدا کيږي . يار و اغيار ټوله ددغه شاهدان دي .ددې ضروري وضاحت څخه بعد اوس د خپلو سوالو جوابونه ملاحظه کړه .

۱﴾... د څومره خوش اخلاقي څخه چي ستا سره پيښيږي ته تر هغه زياته خوش اخلاقي ورسره وکړه مګر دا دي ضروري په خيال کي وي چي دغه تعلقات په ديني حدودو کي وي او مقصد پر تعلقاتو قربان نه وي .

۲...فقهآ د ابوابو په شکل د ذميانو حقوق او فرائض بيان کړي دي . يو مستند د فقهي کتاب وګورئ د تعلقاتو په حد کي د هغه حکم هغه دى چي د يو عام غير مسلم وي .

۳...تفصيل يې تېر سو .

۴...که چيري ددغه مسلمان د غير مسلم سره يارانه او دلي دوستي وي نو بيا دغه مسلمان پر ېږده .دپاره ددې چي و ده ته احساس پيدا سي او که چيري دغه نه وي نو تعلقات ورسره پرېکول مناسب نه دي .

په مجالسود محرم کي شرکت کولو حکم:

سوال :......بعضي خلک په محرم کي خپلي مايني (زوجې) د شيعه ګانو و مجالسو ته ور استوي دپاره ددې چي په ذکر حسين کي شرکت وکړي . نو آيا شرعات هغه مجرم دى او خومره مجرم دى؟

جواب :......په دغسي مجالسو کي شرکت کول ماينې ور استول جائز نه دي اول خو دا مجالس پخپله جائز نه دي مزيد بر آن په دغه مجالسو کي د ځو محرمات شرعيه وو ارتکاب کيږي . ددغه مجالسو حقيقت يو شاعر داسي بيان کړى دى:



يہ نمائش يہ تماشے يہ نوع کارياں　　يہ اشعار ناروا يہ سازيہ تيارياں

لباس نو ميں اپنی شان وشوکت کی نمود　　نئے پردوں ميں ادھام قدامت کی نمود

يہ ڈھول وباجوں کا ہنگامہ حشر آفرين　　قوميت سازی کے پردے ميں زمانہ سازياں

يہ زيارت کے بہانے يہ نظارہ بازياں　　قوميت سازی کے پردے ميں زمانہ سازياں

مدعاء اس سے کچھ بجز عرض ریاکاری نہیں
اور کیا ہے یہ جو توہین عزاداری نہیں

(سیماب اکبر آبادی)

روافض د سنیانو و مساجدو ته مه پرېږدئ:

سوال: ...... په چک نمبر ۱۰۴ اې بي کي اکثريت د سنيان دي او لږ کورونه د شيعه ګانو دي د اوله څخه په دغه کي اهل السنة والجماعة اذان او اقامت او لمنځونه کول او د مسجد د جوړېدو څخه د امام مسجد د اهل سنتو د طرفه دی . څو ورځي دمخه شيعه ګانو په دغه مسجد کي خپل اذان واقامت شروع کړی او په دغه مسجد کي يې خپل لمونځ هم په جماعت سره شروع کړی يعني دوه اذانه دو اقامته دوه جماعته په دې يوه مسجد کي شروع سو د اهل سنتو هم او د شيعه ګانو هم . يو څه فساد وسو نو عدالت مسجد سيل (بند) کړی بعده عدالت بورې والا څخه (اې سي) صاحب فيصله وکړه چي مسجد د اهل السنة والجماعة دی او هغه په دې مسجد کي لمونځ په جماعت سره ادا کوای سي . مګر شيعه ګانو بيا اپيل وکړ چي موږ ته دي هم په دغه مسجد کي په جماعت د ادا کولو اجازت را کول سي .

اوس تاسي وفرماياست چي د اهل سنت په مسجد کي شيعه ګان دوهم آذان او جماعت کوای سي که نه؟ شيعه ګان وايي چي موږ چنده در کړې ده ددې وجهي زموږ حق جوړيږي .

جواب: ......امداد المفتين ج ۱ ص ۴۷ کي دي چي روافض د مساجدو څخه د

أهـل السـنة والـجمـاعة بـنـدول جـائـز دي نيـز وروی تـه اجازت ورکول د فساداتو دروازه خلاصول دي . ځکه چي د اهل سنت و پېشوا وو ته بد ویل ددغــه مـذهـب جـز دی . بـناء عليه شريعت و انتظام تقاضا دغه ده چي دوی دي د سـنيـانـو د مساجدو بند کړل سي . د چندې ورکولو څخه استحقاق نه ثابتيږي .

"یـکـره دخـولـه لـمـن اكـل ذاریـح کـريهة و يـمنع منه و كذا كل موذ فيه و لوبلسانه ـ "(شامي ج ۳ ص ۳۸۱) .

مودودي صاحب په بعضو
مسائلو او عقائدو کي دمعتزله وو همنوا دی :

سوال :......څـه فـرمـايي علماء کرام په دې مسئله کي چي د جماعت اسلامي پـه باره کي چي کومي فتـواوي علماء ديوبند جاري کړي دي ستاسو پـه نزد هـغـه صحيـح دي که نه؟ آيا موږ ته پکار ده چي د جماعت اسلامي والا سره تـعلق وساتو . نيز د جماعت اسلامي چي کوم اصولي اختلاف زموږ سره دی هغه واضح کړئ .

جواب :......د حـضـرت مدنيؒ ، قاري محمد طيب صاحبؒ او حضرت محمد عـلـيؒ دغــه درو حـضـراتـو چي کـومـي فتـواوي د مودودي صاحب متعلق جـاري کـړي دي هغـه زمـوږ پـه نـزد صـحيـح دي او دغـه حضراتو چي څه د مـودودي صـاحـب متـعـلـق فـرمـايـلي دي هغه پـه مودودي صـاحـب کي موجودي وې او هغه اکثره اوقات د هغه ظاهره بلکه صادره کېدې .

۲﴾ ...... د مـودودي صـاحـب عقائد او نظريات د أهل السنة والجماعة ، سلف الـصـالـحين څخه ډېر ليري سوي وو پـه بعضو عقائدو کي د معتزله وو او

خوارجو همنوا کېدی نو لکه څنګه چي د نورو فِرَق اهل هوا او بدع حکم دی دغه رنګه ددوی حکم دی . او مودودي صاحب پخپله هم ددغه اعتراف کاوئ . چي د هغه مفهوم دا دی چي جماعت اسلامي داسي پېشوي چي د سلف صالحینو په الفاظ مودودي قدامت پسنده او منکرین حدیث د هغه په الفاظو د هغه جدت پسند په مابین کي راه اعتدال ده . د مودودي صاحب جماعت اوس صرف سیاسي جماعت نه دی بلکه اعتزال او د رسمي اسلام د معجون مرکب نیم مذهبي او نیم سیاسي فرقه ده . د دوی حکم دا دی چي کوم خلک عوام المسلمین څخه نا دانسته ددوی سره شامله سوي دي او په هغو کي داعیانه سلف صالحین باندي تنقید شان نه دی پیدا سوی . د هغو سره بقدر ضرورت مېل جول جائز دی . دپاره ددې چي دوی ته د مودودیت اصلي حقیقت وښول سي او اصلي صحیح اسلام باندي باقي پاته سي . او کوم خلک چي په عقائدو او خیالاتو کي د مودودیت رنګ سوي دي او هغو ته د جماعت اسلامي رکنیت سرټیفکټ ور میلاو سوی دی ددغو سره د عوام المسلمین اختلاط سخت مضر دی عوام دي دداسي خلکو څخه لیري وساتل سي . فقط و الله اعلم

د بریلویانو سره د مراسمو ساتلو حکم:

سوال:......زموږ څه رشته داران بریلویان سوي دي کله کله په خیال کي راځي چي د دیني غیرت و حمیت تقاضا ده چي د دوی سره دي بالکل تعلقات ختم کړل سي او بعض خلک وایي چي د دوی سره دي صله رحمي ضرور وکول سي . چي کوم صحیح حکم دی د هغه څخه مي آګاه کړه؟

جواب: ......د بریلویانو رشته دارانو سره په مېل جول او آمد و رفت کي د

عـقـائـدو د خـرابېدو انديښنه نه وي تعلقات ورسره ساتل جائز دي بلکه تر يـو حده ضروري دي که چيري په دغه صله رحمي سره ددوی پر راه راست د راتګ توقع وي نو دغه هرګز مه پرېږده .

"وعـن اسما بن أبي بکر قال قدمت علي امي و هي مشرکة في عهد قريش فقلـت يا رسـول اللهﷺ ان امـي قـدمت علي و هي راغبة اَفَاصِلُهَا قال نعم صِلِيهَا اهـ "(متفق عليه ، مشکوة ٤١٩) .

حضرت آدم عليه السلام

چيري ښخ (مدفون) دی:

سوال :...... د حضرت آدم عليه السلام مزار مبارک چيري واقع دی؟

جواب :...... ابـن جـرير طبري په خپل تاريخ (۱۰۸ ج اول) کي ليکلي دي چي د حـضـرت آدم عـليه السلام د قبر په باره کي مختلفه اقوال دي د هغو څخه يو قـول دا دي چي په مکه مکرمه په غار أبی قبيس کي دی .

مقتول انبياء بني اسرائيلو تعداد و غيره:

سوال :......

۱ . په بني اسرائيلو کي کم و بېش څو نبيان راغلي وو؟

۲ . د بني اسرائيلو څو نبيان شهيدان کړي وو؟

۳ . آيا د يو لک او څلورويشتو انبياؤ څخه يو هم نه وو شهيد سوی؟

۴ . آيا د حضرت ايوبؑ په بدن کي چينجيان نه وو پيدا سوي؟

۵ . آيا د حضرت زکريا عليه السلام د شهادت قصه غلطه ده؟

٦ . آيـا د قتـلهم الأنبياء بغير حق کي قتـل معنی د وژلو د ارادې ده که د قتـل کولو ده؟

جواب :......

۱ . د بني اسرائيلو د انبياء عليهم السلام تعداد په سينکړاوو (سوو) څخه زيات دي .

۲/۳﴾ ......حضرت ابن مسعودؓ د قول څخه کم از کم دري سوه انبياء يهوديانو يعني بني اسرائيلو وغيره په لاسو مقتول کېدل معلوميږي .

"وعن ابن مسعود قتلت بنو اسرائيل ثلاث مائة نبی"(ابن کثیر ج ۱ ص ۳۵۵) .

۴﴾ ...... حضرت ايوب عليه السلام سخت ناجوړه او په تکليف مبتلا سوی وو او په بدن کي يې چينجيان پيدا کېدل هم منقول دي . ددغه ابتلاء اجمالي تذکره د قرآن مجيد په سورة صٓ کي موجود ده .

۵﴾ ...... حضرت زکريا عليه السلام شهيد کړل سوی وو دغه قصه غلطه نه بلکه درسته ده .

٦﴾ ......وقتلهم الأنبياء بغير حق، څخه مراد محض اراده قتل نه ده بلکه حقيقتاً قتل کول دي د تاويل حاجت نسته .

حضرت عليؓ څو ودونه کړي وو نيز هغه نکاحي وې که متعه:

سوال : ......حضرت عليؓ څو ودونه کړي وو په دې قول کي تر کومه ځای صداقت سته چي د هغه اکثره په متعه وې؟ متعه څه شی دی او اسلام تر کومه ځايه و متعې ته اجازت ورکوي؟ د هغه پر تنسيخ باندي په نصوص قرآني او حديث باندي مطلع کړه .

جواب : ...... حضرت عليؓ د حضرت فاطمهؓ په ژوند کي دوې نکاحوي نه وې کړې البته د حضرت فاطمهؓ د وفات حضرت عليؓ لاندي ليکل سوی

نـکا ح کـړې وې تـولي نکاحي وې يوه هم په دغه کي متعه نه وه . دلته د بعضو ذکر کوو . تفصيل يې په کتب د تاريخ کي دى:

۱ . ام بنين بنت حرام ۲ . يعلي بنت مسعود، ددې د بطن څخه دوه هلکان وسو عبد الله او أبو بکر ۳ . اسماء بنت عميس ددې د بطن څخه يحيىٰ او محمد صغر وسو . ۴ . ام حبيبه بنت زمعه، ددې د بطن څخه عمر او رقيه پيدا سو . ۵ . ام سعيد بنت عروه ٦ . امامه بنت أبى وقاص ۷ . خوله بنت جعفر .

واضحه دي وي چي ددغو ازواجو څخه علاوه د حضرت عليؓ نوري ماينې هم وې ليکن څه وخت چي د حضرت عليؓ شهادتِ وسو نو د هغه څلور ماينې موجودي وې دغه ماينې بعضي په ژوند کي وفات سوي وې او بعضي طلاق کړل سوې وې . يکې بعد ديکرې نکا ح فرمايلې او څه مينځې هم د حضرت عليؓ سره موجودي وې . چي هغه حضرت عليؓ ام ولد جوړي کړې وې . دا دي هم واضحه وي چي د حضرت عليؓ څخه حرمت متعه ثابت دى .

"عن علی کرم الله وجهه ان رسول اللهﷺ نهیٰ عن المتعة النساء يوم خيبر وعن اکل لحوم الحمر الانسيه" . او د قرآن مجيد څخه هم حرمت متعه ثابت دى . الله تعالى فرمايي: ﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ۔إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِيْنَ ۔فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ﴾ په دغه آيت کي د خپل خواهش پوره کولو صرف دوې لاري ښوول سوي دي . منکوحه ماينه، مينځه مملوکه زرخريد چي د هغې نن وجود نسته . ددې علاوه بله طريقه اختيارولو ته عدوان

وایي .پر هغه باندي اجماع ده چي متعه حرامه ده لهذا د روافضو و متعه ته حلال ویل و زنا ته حلال ویل دی .

سوال :......محمد حنیف د حضرت عليؓ زوی نه دی په عوامو کي مشهوره ده چي حضرت عليؓ چي خیبر فتح کړی مرحب پهلوان یې مړ کړی ددغه څخه بعد د هغه د نجلۍ سره تر اوو ورځو پوري کشتي وکړه او لاندي یې کړه بیا یې مسلمانه کړه او نکاح یې ورسره وکړه . د هغې د بطن څخه د محمد حنیف تولد وسو . چي د حضرت حسینؓ ناسکه ورور وو . آیا دغه صحیح ده ؟

دویم : د حضرت حسینؓ د شهادت څخه بعد خلګ وایي که حضرت محمد حنیف د خپل ناسکه ورور حضرت حسینؓ بدله واخیسته هغه په کربلا کي د یزید د فوځ سره جنګ وکړی او بدله یې واخیسته آیا دغه صحیح ده؟

نیز دا په عوامو کي مشهوره ده چي حضرت امیر حمزةؓ یو ملګری عمر عیار وو د هغه سره یو زنبیل وو څومره مال چي به په دغه زنبیل کي واچاوی هغه به یې ځایاوه حتی د بادشاهانو خزانې که چیري ور اچول سوې وای هم نه ډکېدی . آیا دغه صحیح ده؟

معترض وایي چي حضرت حسینؓ په کربلا کي جنګېدی هغه وخت حضرت حنیف چیري وو ؟

جواب :......د مرحب د نجلۍ سره د کشتي (غېږ ایستلو) کولو د هغه سره د نکاح کولو قصه محض بې اصله ده . په تاریخ کي دا ثابته نه ده . د حضرت عليؓ دیوه زوی نوم محمد حنیف نه دی لهذا په کربلا کي د

انتـقـام اخیستلو سوال نه پیدا کیږي . د عمر عیار افسانه هم د ځانه جوړه معلومیږي . په داسي قصو ځان مصروف کول نه دی په کار .

شهداء صفین په باره کي شهادت عليؓ:

سوال: ......شهید هغه ته وایي چي یو مسلمان د کافر په لاس د الله په لار کي جنګ کوي شهید سي . د حضرت عليؓ او حضرت امیر معاویهؓ په مابین کي چي کوم جنګ وسو آیا هغه د اسلام دپاره وو ؟ که چیري د اسلام دپا وو نو کوم ګروپ شهید دی؟

که چیري د اسلام دپاره وو نو وینه تویول د الله په نزد ډېره لویه ګناه ده .

براه کرم ددغه جواب مفصل بیان کړی دپاره ددې چي تسلي مي وسي .

جواب: ...... ستا د شبهي منشاء د فریقینو د موقف څخه د عدم واقفیت دی . ددغه جنګ پس منظر او د هر فریق دعوی و نظریه او د فریقینو د جنګ باوجود یو د بله سره سلوک مد نظر وي نو تمام اشکالات به خود بخود ختم او حل سي .

او دیوې واقعي نتیجې او حکم معلومولو دپاره ددغه شیانو معلومول اتنهائی ضروري دي .

هر دوه فریقه دا دعوه درلوده چي زه پر حق یم او د معاملاتو نوعیت دا قسم وو او هر فریق ځان پر حق بللو کي حق بجانب وو . لهذا دغه جنګ د هغه خونریزی په زمره کي نه سي راتلای چي د ملک ګیري یا هوس اقتدار دپاره کیږي .

کله چي د فریقینو شهداؤ بزعم خویش حق دپاره جان ورکړی نو ظاهره

ده چي الله تعالى به ددوى سره ددوى د نيت مطابق معامله وكړي . پخپله حضرت عليؓ چي په دغه جنګ كي فريق غالب وو په دې پوهـ وو . دا يې فكر وو چي زما مد مقابل باوجود جنګ . . . . . دى ځكه چي هغه په خپل خيال د حق دپاره جنګېدو . دا بله خبره ده چي زمونږ په نزد ددوى موقف صحيح نه وو . د حضرت عليؓ څخه يو وار پوښتنه وسوه چي جنګ جمل و صفين كي قتل سوي انجام به څه وي نو د فريقينو وخوا ته يې اشاره كولو سره وفرمايل:

"لا يموتن أحد من هؤلاء وقلب نقى إلّا دخل الجنة "(ابن خلدون مقدمه ۳۸۵) .

وګوره حضرت عليؓ د انجام په لحاظ فريقين برابر بولي چي د هر يوه سره به معامله د هغو دنيت مطابق كيږي . حضرت عليؓ پر يوه موقع باندي ديو سړي څخه د مقتولينو په باره كي نامناسبه خبري واورېدې نو يې وفرمايل: "لا تقولوا إلّا خيرا" . يعني ددوى په باره كي د خير بغير هيڅ مه واياست دوى فكر كاوى چي مونږ پر غلطي باندي يو . او مونږ فكر كاوى چي هغه پر غلطي باندي دي . اهـ (منهاج السنة ج ۲ ص ٦١)

خلاصه دا ده چي هر فريق خپل ځان پر حق بالى او جنګ يې كاوى كه چيري واقعي يو پر غلطي باندي وو نو د هغهٔ معامله د خداى په سپرد باندي ده . زه او تاسي يقيناً چا ته غلط يا صحيح نه سو ويلاى . زما مشوره تاسو ته دا ده:

تجھے پرائی کیا پڑی اپنی نبیڑ تو

د شهيد كوم تعريف چي تاسو په سوال كي كړى دى هغه هم صحيح نه دى .

د وفات آدمؑ په وخت. د اولا آدم تعداد:

سوال: ......کله چې حضرت آدم علیـه السلام وفات سو نو د اولاد آدم څو تعداد وو، جواب راکړئ عند الله مي ماجور کړئ .

جواب: ......بمطابق طبري بوقت وفات آدمؑ اولاد تعداد څلو ېښت زره وو .

"عن ابن عباس رضی الله عنه قال لم یمت آدم علیه السلام حتی بلغ ولده و ولده أربعین الفا"(طبری ج ۱ ص ١١٤) .

د حضرت حسینؓ قاتل :

سوال: ......څه فرمایي علماء دین په دې مسئله کي چې حضرت امام حسینؓ شهید سو یا نه ؟ که شهید سوی وي نو چا شهید کړی؟ او پر کوم ځای شهید سو، او په کوم تاریخ شهید سو؟

جواب: ...... حضرت امام حسینؓ پر لس محرم بروز جمعه په کربلا کي شهید سو . سنان بن انس یا شمر دی شهید کئ . او خولي دده مبارک سر کاټ کئ او وعبید الله بن زیار ته یې پېش کئ .

"و قتل یوم الجمعة یوم عاشورا سنه أحدی و ستین بکربلا قتله سنان بن انس النخعي و قیل قتله شمر بن ذی الجوشن و اجهز علیه خولی بن یزید الاصجعی من حمیر جز رأسه و اتی به عبیدالله بن زیاد" (کذا فی الاکمال فی آخر المشکوة ص ٥٩٤) .

د حضرت حسینؓ سر مبارک د ابن زیاد و مخته د راوړلو ثبوت:

سوال: ......یو واقعه مشهوره ده چي د حضرت حسینؓ سر مبارک د شهادت څخه بعد د ابن زیاد و مخته راوړل سو هغه لکړه پر شنډانو ور ووهله پر

دغه زید بن ارقمؓ منع کړی او و یې فرمایل دغه شونډان رسول اللهﷺ مچ کړي دي . آیا دغه واقعه صحیح ده؟

جواب:......البدایة والنهایة (ج ۸ ص ۱۹۰) کي علامه ابن کثیر لیکلي دي:

"فاذا رأس الحسینؓ موضوع بین یدیه وإذا هو ینکت فیه بقضیب بین ثنایاه ساعة فقال له زید بن ارقم ارفع هذا القضیب من هاتین الشفتین فوالله الذی لا اله إلّا هو لقد رأیت شفتی رسول اللهﷺ علی هاتین الشفتین یقبلها فقط وکذا فی البصائر والله اعلم بالصواب۔".

د حضرت اویس قرنیؒ
په باره کي صحیح روایت:

سوال:......حضرت اویس قرني متعلق اکثره د حضورﷺ او صحابه کرامو په مجلس کي به ذکر او تعریف کېدی پر هغه باندي صحابه کرامو عرض وکړی یا رسول الله ته دداسي سړي صفت کوې چي هیڅ کله یې ستا د ملاقات دپاره تشریف لا نه دی راوړی نو حضورﷺ وفرمایل تاسو څه خبر یاست چي د هغه څه مقام او رتبه ده . و هغه ته زما زیارت هره ورځ کیږي د هغه بوډۍ او ړنده مور ده چي د هغې خبر ګیري کولو والا د هغه څخه سوا بل څوک نسته . ددې وجهي څخه ما هغه ته حکم ور کړی دی چي ته بس د خپلي مور خدمت وکړه زه به روزانه و تاته هلته خپل زیارت درکوم . آیا دغه ټولي خبري درستي صحیح دي که ټولي بې بنیاده او غلطي دي؟

جواب:......د حضرت اویس قرنيؒ په باره کي صحیح راویت دا دی:

"عن عمر بن الخطابؓ ان رسول اللهﷺ قال ان رجلا یأتیکم من الیمن

یقال له اویس لا یدع بالیمن غیر ام له قد کان به بیاض فدعا الله فاذغبه إلّا موضع الدینار او الدرهم فمن لقیه منکم فلیستغفر لکم"(رواه مسلم)"وفی روایة قال سمعت رسول اللهﷺ یقول ان خیر التابعین رجل یقال له اویس و له والدة و کان به بیاض فمروه فلیستغفروا لکم اهـ . (مشکوة ج ۲ ص ۵۸۲) .

علامه جلال الدین السیوطیؒ په "اللالی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة" کي د اویس قرنيؒ په باره کي فرمایي: "قال بان حبان باطل محمد بن ایوب کان یضع علی مالك والذی صح فی اویس کلمات یسیرة معروفة"(ص ٤٤٩ هکذا فی تذکرة الموضوعات) .

ددغو الفاظو څخه معلومیږي چي د حضرت اویسؒ متعلق روایت مسلم کي مذکور منقبت څخه علاوه هیڅ روایت په صحیح سند سره نه دی ثابت .

پس هغه روایت چي په سوال کي ذکر دی د محدثینوؒ په نزد غیر معتبر دی .

په یوه معتبر کتاب کي ددغه نشان هم نسته . خاص دا چي ددغه روایت څخه معلومیږي چي نبي کریمؐ و حضرت اویس قرني ته د خپل زیارت شرف په ژوند کي ور بخښلی وو یو وار نه بلکه هره ورځ به یې زیارت کاوی .

او دا معلومه ده چي د حضورﷺ په حیات طیبه کي چي و کوم مسلمان ته د حضورﷺ د زیارت شرف حاصل سو هغه ته صحابي ویل کیږي . حالانکه د علماء پر دغه اجماع ده چي اویس قرني تابعي دی صحابي نه دی .

صاحب اکمال لیکي:

"اویس القرنی هو اویس بن عامر کنیته أبو عمرو القرنی ادرک زمن النبیؐ و لم یره و بشر به و رأی عمر بن خطابؓ و من بعده" (مشکوة ج -- ص ۵۸٦) .
ددغه څخه هم په سوال کې مذکور روایت باطلېدل ثابت کیږي ددغه روایت موضوع کېدل ددې څخه هم واضح کیږي چې حضرت اویس په باره کې پخپله حضور ﷺ سید التابعین بللی وو . معلومه سوه چې حضرت اویسؓ د حضور ﷺ زیارت نه وو کړی سره د دې چې پخپله حضور ﷺ دا وفرمایل نو د حضور ﷺ په مقابله کې دبل چا و خبره ته ترجیح نه سو ورکولای .

"خلافت و ملوکیت" کتاب

غیر مستند دی ددغه مطالعه سخته مضره ده :

سوال :......۱ . د مودودي صاحب لټریچر (تحریراتو) مطالعه د عام سړي دپاره څنګه ده؟
۲ . یو سړي وایي چې خلافت و ملوکیت کې چې څونده قدر حوالې دي هغه د سابقه د تاریخ د کتابو څخه اخیستل سوي دي . چونکه ددغه څخه دمخه حواله جاتي موجودي دي او هغه حوالې مودودي صاحب نقل کړې دي لهذا زه دغه کتاب درست بولم . د داسي سړي د امامت څه حکم دی؟
جواب :......ددغه لټریچر مطالعه د عام سړي دپاره مضره ده . ۲ . خلافت و ملوکیت کې بعضې حوالې غلطي دي مثلاً ددغه کتاف صفحه نمبر ۱۳۴ باندي حضرت عليؓ دیو خط تذکره بحواله "البدایه و النهایه" (ص ۳۵۳) کړل سوې سوې په دغه کې مودودي صاحب لیکي چې : امیر معاویه تر یوه مدت پوري د هو او د نه جواب نه وو ورکړی او هغه یې څنډاوی او بیا

يې د حضرت عمرو بن العاص په مشوره دا فيصله وکړه چي حضرت عليؓ
د حضرت عثمانؓ د وينو ذمه واره وبلل سي او د هغه سره دي جنګ
وکړل سي اهـ .

حالانکه "البداية والنهاية" کي دغه کشيده الفاظ د سره څخه بالکل موجود نه دي . بلکه د دغه برعکس داسي عبارت موجود دی چي د هغه څخه معلوميږي چي په دغه حواله کي سراسر د بدنيتي څخه کار اخيستل سوی دی . که چيري وويل سي چي په نورو کتابو کي به دغه الزام موجود وي نو جواب يې دا دی چي د "البداية والنهاية" حواله ورکول سراسر غلطه ده .

علاوه ازين په څو نورو مقاماتو کي غلطي حوالې ورکول سوې دي . د تاريخ په کتابو کي چيري چي هغه روايتونه موجود دي چي د هغه پر بناء باندي خليفه مظلوم سيدنا عثمان رضی الله عنه مورد الزام جوړوي په هغو کتابو کي د متعلقه رواياتو په باره کي داسي روايتونه هم ملاويږي چي د هغه پېش نظر امام عليؓ مقام باندي ديو حرف ګيري يا نکته چيني (اعتراض) ګنجايش باقي نه پاتيږي ..

سوال دا دی چي د تحقيق دا کوم قسم دی چي د تاريخ کوم موادو څخه برأت (خلاصون) د صحابهؓ څخه ثابت وي هغه دي قصداً نظر انداز کړل سي او د شيعه ګانو په تقليد کي دي مطاعن صحابه والا ناقابل اعتماد روايات بار بار ذکر کړل سي .

حاصل دا سو چي د خلافت و ملوکيت بعضي حوالې غلطي دي او چي کومي صحيح دي په هغو کي صريح جانبداري او د شيعه ګانو وکالت

کړل سوی دی او مقابل روایتو باندي بلا وجه نظر اندازه کړل سوي دي. لهذا دغه کتاب مستند او مفید نه دی.

د بلقیس مور څوک وه:

سوال: ...... د بعضو حضراتو خیال دی د حضرت سلمانؑ په زمانه کي چي بلقیس نامي ښځه وه د هغې مور د انسانانو د نسل څخه نه وه لیکن پلار یې انسان وو؟

جواب: ...... په بعضي روایاتو کي راځي چي د بلقیس مور د جناتو څخه وه او د هغې نوم "ملعمه شیعان" ښوول سوی دی. (رواه وهیب بن جریر عن الخلیل بن احمد قرطبی) ؒ

که چیري دغه صحیح هم وي د بلقیس پلار "شرا ح بن هداهد" انسان وو او د اولاد نسبت و پلار ته کیږي. لهذا بلقیس انسانه وبلل سوه.

(معارف القرآن ج ٦ ص ٥٧٣)

و بیت الله ته د غلاف
(پوښ) ور اغوستلو ابتداء کله وسوه:

سوال: ...... د مضمون په سلسله کي دا تحقیق مطلوب وو چي و بیت الله ته د خلاف ور اغوستلو ابتداء چا وکړه که در ته معلومه وي مهرباني وکړئ

جواب: ...... "المعارف" لابن قتیبة الدینوری (متوفی ۲۷٦ هـ) کي دي چي تر ټولو دمخه اسعد أبو کریب حمیري و بیت الله ته د چمړې (پوست) او چار دیواري پوښ ور اغوستی دغه د حضور ﷺ د بعثت څخه تقریباً اوه سوه (۷۰۰) کاله دمخه تېر سوی دی.

"اسعد ابوکریب الخ و هو اوّل من کسا البیت الانطاع والبرو اه "(ص ۲۸).

په خاک مدینه کي د شفا ثبوت :

سوال :...... په خاک شفاء کي کومه خبره مشهوره ده چي د یو جنګ په موقع پر مسلمانانو یو قسم ناجوړي لګېدلې وه نو حضور ﷺ فرمایلي وو چي پلانکی ځای خاوره واخلئ او پر ځان یې وموښئ بفضله تعالی شفاء به پیدا کړئ . آیا دغه خبره صحیح ده او ددغه خاک شفاء استعمالولو طریقه څنګه ده او هغه کوم جنګ وو چي په هغه کي دغه واقعه پېښه سوې وه؟

جواب :......د مدینې طیبې د خاورې په باره کي متعدد روایات دي:

علامه زرقانيؒ په مواهب لدنیه کي او علامه سمهوديؒ په وفاء الوفا باخبار المصطفی کي په تفصیل سره نقل کړي دي . جمله روایات مختنه اېښوولو سره دا نتیجه اخیستل کېدای سي چي د مدینه طیبه د عامې خاورې د خاصیت په باره کي حضور ﷺ ارشاد فرمایي : چي په دغه کي شفاء ده بالخصوص دجذام، او برص (پیس) دپاره د صعیب په باره کي (وادي بطحان کي یو ځای دی) هم حضور ﷺ څخه منقول دي چي نبي علیه السلام وفرمایل چي دغه استعمال کړئ . پوره حدیث داسي دی:

حضور ﷺ یو وار قبیله بنو حارث لره ولاړی هغه خلک ناجوړه وو ، حضور ﷺ وویل څه حال دی دوی وویل زموږ تبه ده ، حضور ﷺ وفرمایل ستا سره خو صحیب موجود دی هغو عرض وکړی چي حضور په صعیب څه وکړو ؟ حضور ﷺ وفرمایل چي د هغه خاوري (خاک) را واخلئ پر هغه داو وایاست : بسم الله تراب أرضنا بریق بعضنا شفاء لمرضا باذن ربنا . (الحدیث) پس هغوی دغسې وکړو . فشفاهم الله .

مؤرخین وایي ډېرو خلکو په دغه تجربه وکړه . علامه سموديؒ چند

واقعې هم ليکلي دي . دا هم کېداى سي چي د ځاى تخصيص دې د مرض پر بناء بانديوي .

الحاصل د مدينې طيبې په عامه خاوره کي هم د شفاء موجودوالى منقول دى په کوم حديث کي چي د مدينې طيبې په عامه خاوره کي شفاء منقوله ده هغه د غزوه تبوک څخه د واپسي په واقعه کي وو .

د علامه سمهودي الفاظ دا دي:

"عن سعدؓ لما رجع رسول اللهﷺ من تبوك قلقاه رجال من المتحلفين من المؤمنين فاثاروا غبارا فغطىٰ بعض من كان مع رسول اللهﷺ انفه فاذال رسول اللهﷺ اللثام عن وجه و قال والذى نفسى بيده ان فى غبارها شفاء من كل داء" (الحديث ، وفاء ص ٤٧) .

طريقهٔ استعمال: د صيحيب د خاورو په باره کي علامه سهمودي ليکي دي چي خاوري په اوبو کي واچوئ بيا دي پر هغه باندې مذکوره رقبه وويل سي بيا دي وچيښل سي او غسل دي هم وکړل سي .

"قلت فينبغى ان يعجل فى الماء ثم يتفنل عليه و تقال الرقية الواردة ثم يجمعَ بين الشرب و الغسل منه" (وفاء ص ٤٨) .

د بيعت طريقت ثبوت :

سوال :......پيران نن سبا دوه قسمه دي:

(۱) : خلک د پساوېدو دپاره دورې کوي د دوى څخه ماهانه بطور قرض وصولوي .

(۲): دوهمه طريقه چي په عامو اسلافو کي مروج ده چي د مريد څخه په دې شرائطو بيعت اخلي چي په سورة ممتحنه کي مذکور دي د بيعت

مقـصد دا دی چي اصلا ح نفس وسي . دغسي مرشدینو ته مریدین بطور هـدیـه یـوشـی پیښـوي نـو هـغـه مرشد د مرید د اخلاص د و جهي څخه هغه هـدیـه قبـولوي . اوس خبره دا ده په دغه دو هم قسم د مرشدینو کي د بیعت چـي کـومـه طـریـقه ده ددې ثبوت په سنت کي سته یا نه؟ آیا نبي اکرم ﷺ بیعت علی الجهاد علاوه دغه رنګه بیعت اخیستی وو یا نه؟

جواب :......د جهاد څخه علاوه هم د بیعت اخیستلو د احادیثو ثبوت سته .

۱ ـ "عن ابن عمرؓ کنا نبایع رسول اللهﷺ علی السمع والطاعة و بلقننا فیما استعطم" (رواه ابوداؤد)۔

۲ ـ "عن عوف بن مالك الاشعی قال کنا عند رسول اللهﷺ فقال إلا تبایعون رسول الله فرددها ثلاث مرات فقدمنا ایدینا فبایعناه فقلنا یا رسول اللهﷺ قد باعناك فعلی ؟ قال علی ان تعبدوا الله ولا تشرکوا به شیئا او الصلوات الخمس واسر کلمة خفیفة افلا تسألوا الناس شیئا الخ"(رواه نسائی ج ۱ ص ٥٤) .

مشـائخ طریقت هم د کفر ،شرک او بدعات و معاصي څخه د توبه کولو او په اتباع حق باندي بیعت اخلي .

د بټو کوتو مچولو هیڅ روایت صحیح نه دی:

سوال :......

۱﴾ ......څه فرمایي علماء دین په دې مسئله کي چي په اذان کي کلمه شهادت وویل سي بټي کوتي مچول او پر سترکو ایښوول جائز دي که نه؟

۲﴾ ...... د کوم حدیث څخه دا ثابته ده او دغه حدیث کوم محدث صحیح او

درست بللی دی ؟

۳﴾ ...... آیا د ائمۀ أربعه وو څخه یو امام دغه عمل جائز بللی دی او ددغه د استحباب قول یې کړی دی؟

۴﴾ ...... بعضي علماء دغه مستحب بولي . آیا د حضور ﷺ د یو قول یا فعل نه ثابتېدو په صورت کې یو عمل مستحب کېدای سي آیا دغه بدعت دی؟

۵﴾ ...... بعضي علماء د فقهٔ حنفي د مستند کتاب رد المختار شامي په متعلق فرمایي چې هغوی دغه عمل ته مستحب ویلي دي . دغه رنګه صاحب مقاصد حسنه او صاحب مسند الفردوس متعلق وایي . آیا دغه نسبت صحیح دی که غلط ؟

جواب :......

۱﴾ ...... قرآن کریم، احادیث صحیحه ، اجماع امت او د ائمۀ أربعه وو څخه د یوه امام څخه ددغه ثبوت نسته او خلګ دغه ضروري او واجب بولي او ددې پر ترک باندي نکیر کول کیږي .

لهذا په موجوده زمانه کې دغه جائز بلل د قواعدو شرعیه وو خلاف دی یو اجماعي امر مستحب هم ودرجه واجب ته رسول کیږي نو دغه ترک کول ضروري کیږي دپاره دې چې د عوامو اعتقاد محفوظ کړل سي .

حدیث:۔ " عبد الله ابن مسعودؓ لا یجعل أحدکم نصیبا للشیطان من صلوته ان لا ینصرف إلّا عن یمینه " . تر دې لاندي علماء لیکي:

"و فی هذا الحدیث دلیل علی من اعتقد الوجوب فی امرلیس بواجب شرعا او عمل معاملة الواجب معه یکون هذا خطا من الشیطان و بدعة

مذمومة"(بذل ج ۲ ص ١٥٦) .
۲﴾ ...... په صحا ح کي په يو حديث يا د هغه څخه علاوه هم په هيڅ صحيح حديث کي د دغه ثبوت نسته .
"و ذکر ذالك الجراحی و اطال ثم قال ولم يصح في المرفوع من کل هذا شيئ ـ "(الشامی ج ۱ ص ۲٦٧) .
۳﴾ ......له يوه امام څخه ددغه د استحباب قول نسته .
۴﴾ ...... د ثبوتِ استحباب دپاره دليل شرعي ضروري دی . ځکه چي دا هم حکم شرعي دی بغير دليل شرعي نه ثابتيږي . علامه شاميؒ نقل کوي .
"والمستحب و هو ما ورد به دليل ندب يخصه کما في التحرير ج ۱ ص ٩٦" . ليکن دا کېدای سي چي يو عالم غير مجتهد دی غير دليل دليل بللی وي او يو فعل ته دي مستحب ويلي وي او کله چي د هغه دليل غير معتبر کېدل ثابت سي نو د فعل مذکوره مستحب کېدل هم منتفي کيږي .
کېدای سي بعضو علماؤ ودغه ته مستحب ويلي وي او دغه وي نه . د استحباب دي د لغوي قبيل څخه وي . نه د استحباب شرعي د قبيل څخه . ځکه چي دليل شرعي مقتضی استحباب موجود نه دی لکه چي مخته مذکور دي .
۵﴾ ......علامه شاميؒ چي کوم ځای دا نقل کړي دي پر هغه مقام يې دا هم نقل کړيٰ دي : "ولم يصح من کل هذا شيئ"(ج ۱ ص ۲٦٧) . چي په دغه کي هيڅ مرفوع صحيح نه دی .
داخيال کيږي که څه هم په دغه کي صحيح حديث نسته ليکن د استدلال دپاره حديث حسن هم کافي دی جواب يې دا دی چي حديث حسن

خو دي موجود وي .واقعه دا ده چي هيڅ حسن بلکه ضعيف حديث هم موجود نه دی .

واضحه دي وي چي په حديث ضعيف عمل کول په درو ۳ شرطو سره جائز دي ورنه نه دي جائز .

(۱) ضعيف شديد دي نه وي .

(۲) دغه عمل تر يو اصل عام لاندې داخل وي .

(۳) ددغه عمل د سنت کېدو (يا سنت والي) اعتقاد نه وکړل سي .

"قال فی الدر المختار شرط العمل بالحديث الضعيف عدم شدة ضعفه وان يدخل تحت اصل عام وان لا يعتقد سنية ذلك الحديث و اما الموضوع فلا يجوز العمل به بحال "(ج ۱ ص ۱۱۹) .

او په مسئله زېر بحث کي تقريباً دغه درې سره شرطونه مفقود دي ځکه چي په دې رواياتو کي ډېر شديد ضعف دی بلکه موضوع دی .

علامه جلال الدين السيوطيؒ ليکي:

"الأحاديث التی رويت فی تقبيل الانامل و عليها علی العينين عند سماع اسمه ﷺ عن المؤذن فی کلمة الشهادة کلها موضوعات" انتهی (تيسری المقال للسيوطی) .اوعملِ سنت بلکه تر دغه زيات بولي او عمل په کوي .

الغرض دغه فعل د قرآن کريم، حديث پاک، تعامل صحابهؓ، اجماعِ امت، اقوال ائمه، څخه هيڅ دليل څخه ثابت نه دی . فقط والله اعلم .

تمت بالخير .



سوال :......آیا دا حدیث دی او کنه؟ او د احادیثو په کتابو کي دا حدیثونه سته او که نه؟

۱۔ قال النبی صلی اللّٰه علیه و اله و صحبه و سلم: من سمع الآذان و الاقامة و لم یحضر الجماعة فکأنما زنیٰ مع أمّه ألف مرّات۔

۲۔ قال النبی صلی اللّٰه علیه و اله و صحبه و سلم:من أعان تارك الصلوة متعمّدا بذرّه فکأنما زنی مع أمّه ألف مرّات۔

۳۔ قال النبی صلی اللّٰه علیه و اله و صحبه و سلم: سیأت زمان علی أمتی یأکل الدخان فی فم ، و لیس من أمتی و لیس شفاعة له یوم القیٰمة۔

٤۔ قال النبی صلی اللّٰه علیه و اله و صحبه و سلم: من أکل البنج مرّة فکأنما زنیٰ مع أمّه سبعین مرّة۔

جواب :......په دې حدیثو پسې مو ډېر کتابونه وکتل حتی د موضوعي احادیثو په کتابو کي هم په نظر نه دي راغلي . والله اعلم .

صرف مولانا عبد الحیؒ په مجموعة فتاوی کي په (ص ۴۱ ج ۳) دغه عبارت لیکلی دی دا مخته چي ذکر سوه)

سوال :......آیا دغه حدیث دی او که نه؟

"کلّ دخان حرام ، و من أکل البنج لقمة فکأنما زنیٰ بامّه" .

جواب :......دا د احادیثو په معتبرو کتابو کي په نظر نه دی راغلی .

درکتب معتبره حدیث بنظر نه رسیده و کسیکه این را حدیث نوشته نه باشد ، مجرد نوشتن آن قابل اعتبار نیست ، اعتبار برقول محدث معتبر است که حدیث را باسند بیان نماید ، و بعض وعاظ احادیث غیر معتبره را برائے تخویف و ترغیب ذکر من کند و از حال آن احادیث مطلع نمی باشند ۔ انتهی۔(الیواقیت الغالیة ج۲)

سوال:......په کتاب ''المقاصد الحسنة'' ص ۴۰۸ کي داسي ذکر دي، وتزعم العامة أن لبس النعال السود یورث النسیان .یعني د تورو چوټو یا بوټو یا چمپلانو په پښو کولو څخه هېره پیدا کیږي آیا دا حقیقت لري او که نه؟

جواب:...... دا نه حدیث دی او نه په نظر راغلي دي صرف دا یوه تجربه ده .

''الیواقیت الغالیة ج ۲ ص ۶۰ إلی ص ۶۱'' .

سوال:......آیا دا حدیث دی او که نه؟ او که چیري بیا حدیث وي نو آیا صحیح دی او که ضعیف دی؟

﴿۱﴾...... حدیث: ''الصلوة معراج المؤمن۔''

جواب:...... دا الفاظ د حدیث نه دي بلکي د عوامو پر ژبه باندي جاري او مشهور دي او معنا یې صحیح ده دیوه حدیث له مضمون سره یو څه تعلق لري .

''اشتهر علی ألسنة العوام أنه حدیث مرفوع ، و قد أوغلت فی طلبه فی مظانّه فلم أعرفه و لم أعثر له علی سند ، و الظاهر أنه من کلام بعض السلف ، و ان ثبت فمعناه أن الصلوة یحصل بها غایة القرب للمصلّی بالربّ تبارک و تعالی ، لما حصل للنبیﷺ فی المعراج و یحصل المحادثة والمناجاة کما ورد فی الصحیحین و غیرهما، ان المصلّی یناجه ربه والله اعلم'' .

سوال:......آیا دا حدیثونه دي او کنه؟ علماء یې په خپلو تقریرو کي هم بیانوي او که بیا چیري حدیثونه سي نو بیا صحیح دي او کنه؟

﴿۲﴾...... حدیث: ''لا صلوة الّا بحضور القلب''۔

جواب:...... ''هذامن حدیث القصّاص والوعّاظ و له أقف له علی أصل بهذا اللفظ ، و استدلّ به بعض الصوفیة علی أنه لا یصحّ صلوة من لا یحضره قلبه ، و قدیر و به بعضهم بلفظ لا ینظر اللّٰه إلی صلوة لا یحضر الرجل فیها قلبه مع

بدنه"
وكذا ورده الغزالي في الاحياء (ص ١٣٤ ج ١) لكن قال العراقي في تخريج الاحياء : لم أجده بهذا اللفظ ، وروى محمد بن نصر في كتاب الصلوٰة من رواية عثمان بن أبي دهرش مرسلا: لا يقبل الله من عبد عملا حتى يشهد قلبه مع بدنه " و رواه أبو منصور الديلمي في مسند الفردوس من حديث أبي بن كعب رضي الله عنه و إسناده ضعيف، انتهى۔
وقدير و بعضهم بلفظ ، ليس للمرء من صلوته الّا ما عقل" هكذا ذكره الدميري في حياة الحيوان و ذكر عن جماعة من المتصوّفة أنّهم استدلوا به على أنّ السهو مفسد للصلوة۔
قلت : و هذا تجاوز و لم يرد به الشرع قط، وقد شرعت سجود السهو لدرك النقصان الواقع بالسهو ، فان كان السهو مفسدًا فلغت شرعية سجود السهو) نعوذ بالله منها۔
وقد وقع للنبي ﷺ سهو و تداركه بالسجود كما هو مدوّن في الصحاح والمسانيد و جائت بها أخبار شهيرة وعمل به السلف والخلف ، فان كان هذا الصوفي القائل لذاك القول من أهل الحق فمع كون هذا الكلام مخالفاً للنصوص يمكن تأويله : بأنّه أراد بذلك أن من غلب عليه الوسواس و هو لا يدري ما يقول و ما يفعل۔ فصلوته فاسدة ، كما قد ذهب إليه بعض الفقهاء۔
قال : الحافظ ابن تيمية في "منهاج السنة" (ج ٣ ص ٤٩) الوسواس الخفيف لايبطل الصلوة باتفاق العلماء ، و اما إذا كان هو الاغلب فقيل : عليه الاعادة ، و هو اختيار أبي عبد الله بن حامد و قال في فتاواه (ص ٢٣٦ ج ١٥) و هو قول طائفة من العلماء والصوفية من أصحاب أحمد وغيره كأبي عبد

الله بن حامد، و قال فی موضع آخر (ص ۶۱۲ ج ۲۲) هذا قول أبی عبد الله بن حامد و أبی و غيرهما۔

المرفقين"(اخرجه ابن ابی شيبة فی مصنفه / ج: ۱ / ص: ۱٤٦ ـ و اللفظ له ، والحاكم فی المستدرك / ج: ۱ / ص: ۲۸۷)

و كذلك فعله عليه الصلاة والسلام لأنه سئل كيف أمسح : فضرب بكفَّيه الأرض ، ثم رفعهما الوجهه ، ثم ضرب ضربة فمسح ذراعيه ، باطنهما و ظاهرهما حتى مس بيديه المرفقين ـ (اخرجه الدارقطنی فی سننه / ج: ۱ / ص: ۱۷۹ ـ مراقی الفلاح علی صدر حاشية الطحطاوی / ج: ۱ / ص: ۱۷۵ ، ۱۷٦ ، باب التيمم ـ و مثله فی هدية العلائية / ص: ۳۳ ، ۳٤ ط بيروت ـ و مثله حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح / ج: ۱ / ص: ۱۷۵ ، ۱۷٦ ، باب التيمم ـ و مثله فی كتاب الاختيار / ج: ۱ / ص: ۲۹ ، باب التيمم ـ و مثله فی لتعليل المختار علی هامش كتاب الاختيار / ج: ۱ / ص: ۲۹ ـ و مثله فی البحر الرائق / ج: ۱ / ص: ۱٤٤ ، باب التيمم ـ و مثله فی منحة الخالق علی هامش البحر الرائق / ج: ۱ / ص: ۱٤٤ ، ۱٤٥ ، باب التيمم ـ و مثله رد المحتار / ج: ۱ / ص: ۱۷٤ ، باب التيمم)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي څلورم شرط د تیمم دا دی چي کښېنستل د محل دي په تیمم کي ، چي هغه نو یو مخ دی او بل دواړه لاسونه دي سره د څنګلو پور ، په ښکاره روایت کي ، یعني په ظاهر د روایت کي او دغه مفتی به روایت هم دی . او بل ګوتمۍ به کاږي او که چیري بیا ښځه تیمم وهي نو هغه به بنګړي هم کاږي بیا به تیمم وهي ، او بل به ګوتي خلال کوي ، او د تولـه مخ پوست به مسح کوي ، او د مخ و ښتـان بـه مسح کـوي پـه صحيح قول باندي ، او بل په تیمم کي استنجاء نسته او دغه رنګه د سر مسح نسته ، او د پښو مسح نسته . او

بـل تيـمـم دوه ضـربـه دي اول ضـرب دپـاره د مخ وهل كيږي دوهم ضرب دپاره ددواړو لاسو وهل كيږي .

سوال :......

پنځم شرط د تيمم څه شی دی؟

جواب :......

"من الشروط : أن يمسح بجميع اليد أو بأكثرها ، أو بما يقوم مقامه حتى لو مسح بأصبعين لايجوز، كما في الخلاصة ، ولو كرّر حتى استوعب بخلاف مسح الرأس كذا في السراج الوهاج عن الايضاح"(مراقي الفلاح على صدر حاشية الطحطاوي / ج: ۱ / ص: ۱۷٦ ، باب التيمم ۔ ومثله حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح / ج: ۱ / ص: ۱۷٦ ، باب التيمم ۔ ومثله في هدية العلائية / ص: ۳۳ ، ۳٤ ط بيروت ۔ ومثله في كتاب الاختيار / ج: ۱ / ص: ۲۹ ، باب التيمم۔ ومثله في التعليل المختار على هامش كتاب الاختيار / ج: ۱ / ص: ۲۹ ۔ ومثله في البحر الرائق / ج: ۱ / ص: ۱٤٤ ، باب التيمم ۔ ومثله في رد المحتار / ج: ۱ / ص: ۱۷٤ ، باب التيمم)

نو لـه مـذكوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چي پنځم شرط د تيـمم دا دی چي مسح كول د ټوله لاس دی كه يې چيري په دوو ګوتو سره مسح كوي دا جـواز نـلري يعني نه دی جائز تيـمم ددې سړي . كه څه هم مكرر كړي دا مسح د لاسو يا د مخ دا جواز نه لري ځكه استيعاب په تيمم كي شرط دی نـو چي شرط پاته سي بيا خو يې تيمم صحت نلري نو بايد استيعاب په پـوره ډول راولـي چي تيـمم صـحت پيدا كړي . أو بما يقوم مقامه يعني لاسونـه او مـخ پـه كـر ځ كي وښوروي نو ددې سړي تيمم صحيح سو او

باید کوم سړی یا ښځه چي تیمم کوي نو هغه باید ساعت یا ګوتمۍ یا بنګړي وکاږي چي تیمم یې صحت پیدا کړي .

سوال :......

د تیمم شپږم شرط څه شی دئ؟

جواب :......

"السادس: من الشروط أن يكون التيمم بضربتين بباطن الكفين لما رُوِينا فان نوى التيمم و أمر به غيره فيتمّمه صحّ ـ و لو كان الضربتان فى مكان واحد على الاصح لعدم صيرورته مستعملاً لأن التيمم بما فى اليد و يقوم مقام الضربتين إصابة التراب بجسده إذا مسحه بنية التيمم حتى لو أحدث بعد الضرب أو أصابه التراب فمسحه يجوز على ما قاله الاسبيجابى كمن أحدث وفى كفيه ما يجوز به الطهارة و على ما اختاره شمس الائمة لا يجوز لجعله الضرب ركنا كما لو احدث بعد غسل عضو ـ و قال المحقق ابن الهمام رحمه الله : الذى يقتضيه النظر عدم اعتبار الضرب من مسمّى التيمم شرعاً لأن المأمور به فى الكتاب ليس إلا المسح و قوله النبى ﷺ : التيمم ضربتان ـ خُرّج مخرج الغالب والله سبحان و تعالى أعلم ".(مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى / ج: ١ / ص: ١٧٦ ، ١٧٧ ، باب التيمم ـ ومثله حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح / ج: ١ / ص: ١٧٦ ١٧٧ ، باب التيمم ـ و مثله فى كتاب الاختيار / ج: ١ / ص: ٢٩ باب التيمم ـ و مثله فى التعليل المختار على هامش كتاب الاختيار / ج: ١ / ص: ٢٩، باب التيمم ـ و مثله فى هدية العلائية / ص: ٣٣ ، ٣٤ ط بيروت ـ و مثله فى البحر الرائق / ج: ١ / ص: ١٤٥ ، باب التيمم ـ و مثله فى منحة الخالق على هامش البحر الرائق

/ ج: ١ / ص: ١٤٥ ، باب التيمم ـ ومثله في رد المحتار / ج: ١ / ص: ١٧٤ ، باب التيمم)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي شپږم شرط د تيمم دا دی چي تيمم به په دوه ضبره سره وي او د دواړو لاسو په ورغوو سره، كه بيا چيري د چا دواړه لاسو ن نه وي نه هغه دي ويو بل چا ته امر وكړي هغه دي دې شل ته تيمم ور ووهي، نو تيمم يې صحيح دی .

او بل دا كه چيري دا تيمم كوونكی د دواړو ضرب پر يو ځای باندي ووهي هم جائز دی څه پروا نلري . ځكه دا مستعمل نه كرځي او بل دا چي تيمم په لاس پوري دی پر ځمكه باندي نه دی هغه كرځ دی، او بل دا كه چيري يو چا ته كرځ ور سپدی نو دې سري په نيت سره د تيمم مسح كړی نو ددې سړي تيمم صحيح دی يعني په وخت كي د نستنه والي د اوبو چي اوبه نه وي نو سړی داسي فعل وكړي بيا صحيح دی .

سوال :......

اوم شرط د تيمم څه شی دئ؟

جواب :......

"السابع : من شروط انقطاع ما ينافيه حالة فعله من حيض أو نفاس أو حدث كما هو شرط أصله"(مراقی الفلاح على صدر حاشية الطحطاوی / ج: ١ / ص: ١٧٧ ، باب التيمم ـ ومثله في حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح / ج: ١ / ص: ٧٧ ، باب التيمم ـ ومثله في البحر الرائق / ج: ١ / ص: ١٤٧ ، باب التيمم ـ ومثله في منحة الخالق على هامش البحر الرائق / ج: ١ / ص: ١٤٧ ، باب التيمم ـ ومثله في رد المحتار / ج: ١ / ص: ١٧٤ ، باب التيمم ـ

و مثله فی هدیة العلائیة / ص: ۳۳، ۳٤)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي اوم شرط د تیمم دا دی چي هغه شیان به نه وي چي هغه ضد د تیمم وي لکه د ښځي حیض یعني ښځه چي په حیض کي وي نو و دې ته تیمم وهل جواز نلري . که چیري بیا هم دا تیمم ووهي دا هیڅ شی هم نه دی، ځکه چي دا په حیض کي ده او بل لکه د ښځي نفاس یعني د ښځي چي کوچنی پیدا سي ددې کوچني څخه چي وروسته کومه وینه راروانه وي نو دې ته نفاس یا خلویښتي وایي نو دا ښځه به هم تیمم نه وي کوم وخت چي او به نه وي تر هغه وخت پوري تر کوم وخته چي دا د نفاس څخه پاکیږي نو کوم وخت چي ښځه د حیض څخه پاکه سوه بیا تیمم وهلای سي .او دغه رنګه نفاسه ښځه هم .

سوال:......

اتم شرط د تیمم څه شی دئ؟

جواب:......

" الثامن: منها زوال ما یمنع المسح علی البشرة کشمع وشحم لأنه یصیر به المسح علیه لا علی الجسد و سببه إرادة ما لا یحل الا بالطهارة "(مراقی الفلاح علی صدر حاشیة الطحطاوی / ج: ۱ / ص: ۱۷٦ ، باب التیمم- و مثله فی حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح / ج: ۱ / ص: ۱۷٦ ، باب التیمم)

اعلم ان الاستیعاب فرض لازم فی ظاهر الروایة عن أصحابنا حتی لو ترك شیئاً قلیلا من مواضع التیمم لا یجوز و نص غیر واحد علی ان هذا هو

الصحیح منهم قاضیخان و نص صاحب المجموع و صاحب الاختیار علی انه الاصح و صاحب الخلاصة والولوالجی علی انه المختار و شارح الوقایة أن علیه الفتوی.(البحر الرائق / ج: ١ / ص: ١٤٤ ، باب التیمم)

والاستیعاب فی الاصح و هو ظاهر الروایة ، و علیه الفتوی لقیامه مقام الوضوء فی العضوین المخصوصین حتی قالوا لو لم یخلل الأصابع أو لم ینزع الخاتم أو لم یمسح تحت الحاجبین لم یجز تیممه.(مجموع الأنهر / ج: ١ / ص: ٦٠ ، باب التیمم . و مثله فی هدیة العلائیة / ص: ٣٣ ، ٣٤ ، ط بیروت .)

والاستیعاب حتی لو ترك شعرة لم یجز (فی الأصح) و علیه الفتوی.(الدر المنتقی فی شرح الملتقی ، زیل مجموع الأنهر / ج: ١ / ص: ٦١ ، باب التیمم)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د تیمم وهلو په وخت کي به هغه شیان لري کوي کوم چي مانع د تیمم وي له دوو اندامو څخه لکه مخ او بل دواړه لاسونه .

که چیري پر دغه دوو اندامو باندي داسي شی وي چي هغه د مسح منع راولي نو بیا د دې سړي تیمم جواز نلري یعني نه صحیح کیږي . هغه لکه ساعت که د نارینه په لاس وي او که د ښځي په لاس وي په وخت کي د تیمم وهلو به یې دوی دواړه کاري بیا به تیمم وهي .

او بل لکه د ښځي بنګړي نو کوم وخت چي ښځه تیمم وهي نو دابه خپل بنګري کاږي بیا به دا ښځه تیمم وهي ، او بل لکه د ښځو رنګ ناخون که چیري د ښځي نوکان په رنګ ناخون باندي رنګ وي د ددې

ښځي تيمم صحت نلري نو دا به دا رنګ له نو کانو څخه ليري کوي .

سوال :......

کـه چيـري يـو سړی يا ښـځـه پـه غـره کـي وي او هـلـتـه اوبه هم نه وي او خـاوره هـم نـه وي او د دې غـره پـه ډبـرو بـانـدي ګـر ځ هم نه وي نو آيا ددې سړي يا ښځي تيمم پر دې ډبرو باندي د غره صحت لري او که نه؟

جواب :......

" ولـو بـلا نـقـع أئ بـلا غبار حتى لو ضرب يديه على حجر أملس جاز ، خلافا لـمـحـمـد رحمه لله"(مجموع الأنهر / ج: ١ / ص: ٦٠ ، باب التيمم ـ و مثله فـی الـدا ر المنتقى فی شرح الملتقى زيل مجموع الأنهر / ج: ١ / ص: ٦٠ ، بـاب التيـمـم ـ و مثـلـه فـی كتاب الاختيار / ج: ١ / ص: ٢٧ ، باب التيمم ـ و مثله فی مجموع الأنهر / ج: ١ / ص: ٥٨ ، باب التيمم)

نـو لـه مـذكـوره عـبـاراتـو څـخه دا ثابتـه سوه چيدا سړی يا دا ښځه دي د غره پر ډبره باندي خپل تيمم ووهي صحيح دی هيڅ پروا نلري .

سوال :......

بـنـدي کـه پـه بندي خانه کي د او داسه څخه منع سي او په بندي‌خانه کي پر پاک ځای باندي تيمم ووهي او خپل لمونځ په تيمم سره وکړي آيا دغه لمونځ بيا راګرځول غواړي او که نه؟

جواب :......

"وكذا لوقال لعبده ان توضات حسبتك أو قتلتك فانه يصلى بالتيمم ثم يعيد المحبوس لأن طهارة التيمم لم تظهر فی منع وجوب الاعادة و فی التجنيس رجل أراد أن يتـوضأ فمنعه انسان عن أن يتوضأ بوعيد قيل ينبغی أن يتيمم

ویصلی ثم یعید الصلاة بعد ما زال عنه لأن هذا عذر جاء من قبل العباد فلا یسقط فرض الوضوء عنه اهـ فعلم منه أن العذر ان کان من قبل الله تعالی لا تجب الاعادة وان کان من قبل العبد وجبت الاعادة ۔"(البحر الرائق / ج: ۱ / ص: ۱۴۲ ، باب التیمم ۔ و مثله فی منحة الخالق علی هامش البحر الرائق / ج: ۱ / ص: ۱۴۲ ، باب التیمم)

بخلا ف المحبوس الخ (کتاب الاختیار / ج: ۱ / ص: ۳۰ ، باب التیمم)

الحبس قاله فی الشرح و أما المحبوس فی المصر فی مکان طاهر إذا لم یجد الماء فانه یتیمم و یصلی ثم یعید فی ظاهر الروایة کما فی البدائع ۔(حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح / ج: ۱ ۱۷۱ ، باب التیمم ۔ و مثله فی مراقی الفلاح علی صدر حاشیة الطحطاوی علی حاشیة الطحطاوی / ج: ۱ / ص: ۱۷۱ ، باب التیمم ۔ و مثله فی الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۸ ۔ و مثله فی رد المحتار / ج: ۱ / ص: ۱۷۲ ، باب التیمم)

نو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي کـه چیري بندي پـه بندیخانه کي د او داسه څخه منع سو نو ا بندي پـه بندیخانه کي پر پاک ځای باندي خپل تیمم و کړي بیا دی خپل لمونځ پر خپل وخت باندي ادا کړي بیا چي کله خلاص سي د بندیخانې څخه بیا دي بیر ته خپل لمونځ یا کوم لمنځونه چي ده پـه تیمم سره کړي دي هغه لمنځونه دي بیر ته پـه او داسه سره را وگرځوي ځکه داعذر د بندگانو د طرفه څخه پر ده باندي راغلی دی نو پـه دې سره فرض نـه ساقطیږي نو کوم عذر چي د الله جل جلالـه د طرفـه څخـه راغلی وي پـه هغه سره فرض ساقطیږي مثلاً لکه مریضي و داسي نور عذرونه نو پـه هغو سره فرض ساقطیږي .

سوال :......
کـه لـه یو سړي سره د جنګ سپی وي او د ده سره او به دومره قدر وي چې د ده او دسپـي کـفـایـت کـوي اودی پـه دې او بـو سـره اودس نه کوي وایې کـه چیـري زه پـه دې او بـو سـره اودس وکـړم نـو زمـا سپـی به تږی سي، آیا دې سړي ته تیمم جواز لري او کنه ؟

جواب :......
"قـوله و لو لکلبه : قیده فی البحر والنهر بکلب الماشیة والصید و مفاده انه لو لم یکن کـذلك لا یـعطـی هـذا الـحکم والظاهر أن کلب الحراسة للمنزل مثلها"(رد المحتار / ج: ١ / ص: ١٧٣، باب التیمم- و مثله فی مراقی الفلاح علـی صدر حـاشیة الـطـحطـاوی / ج: ١ / ص: ١٧١ - و مثلـه فـی حـاشیة الـطـحطاوی علی مراقی الفلاح / ج: ١ / ص: ١٧١ ، باب التیمم- و مثله فی مجموع الأنهر / ج: ١ / ص: ٥٩ ، باب التیمم)

نـو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چې د جنګي سپي دپاره چې کـومـي او بـه دي پـه هـغـه سـر دي دا سړی خپل اودس وکړي ، دې سړي ته تیـمـم جواز نلري ، دلتـه لـه سپي څخه هغـه سپی مراد دی کوم چې خلکو د کـور د چـوکیداري لپاره درولی وي اویا یې د ښکار دپاره درولی وي نو دغـسـي سپـی کـه چیـري د چـا سـره پـه سـفر کي وي او دومره او به د سړي سره وي چـي هـغـه د ده او د ده د سپـي کفایت کوي نو دا سړی دي بیا تیمم وکـړي تیـمـم جواز ورتـه لري . او هـغـه کـوم چې بې لـه ضـرورتـه سپی وي نـو د هـغـه دپاره داحکم نه ورکول کیږي او نه باید یو عـالـم داسـي مسـئله و چاتـه ورکـړي .

سوال :......

یو مجاهد په جنګ کي زخمي سوی دی نو دا مجاهد په او بو سره اودس کولای سي مګر غسل نه سي کولای، آیا دې مجاهد ته تیمم د غسل لپاره کفایت کوي او که نه؟ او بل دا آیا اودس قائم مقام د غسل جوړېدای سي او که نه؟

جواب :......

"قوله ولو جنبا أو حائضا: یعني یتیمم الجنب والمحدث والحائض والنفساء وهو قول جمهور العلماء للاحادیث الواردة منها م رواه البخاری و مسلم من حدیث عمران بن الحصین رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ رأی رجلا معتزلاً لم یصل مع القوم فقال یا فلان ما منعك ان تصلی مع القوم فقال یا رسول الله أصابتنی جنابة الخ"(البحر الرائق / ج: ١ / ص: ١٤٦ ، باب التیمم- ومثله فی منحة الخالق علی هامش البحر الرائق / ج: ١ / ص: ١٤٦ ، باب التیمم- ومثله فی مراقی الفلاح علی صدر حاشیة الطحطاوی / ج: ١ / ص: ١٧٠ ، باب التیمم - ومثله فی حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح / ج: ١ / ص: ١٧٠ ، باب التیمم - ومثله فی رد المحتار / ج: ١ / ص: ١٧٤ ، باب التیمم - ومثله فی الفتاوی الهندیة / ج: ١ / ص: ٢٨ - و مثله فی حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار / ج: ١ / ص: ١٢٥ ، باب التیمم)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي اودس قائم مقام د غسل نه سي کېدای او تیمم قائم مقام د غسل کېدای سي نو دا زخمي مجاهد دي تیمم وو هي ورته جائز دی هیڅ پروا نلري .

سوال :......

د تيمم څو ركنونه دي، آيا په تيمم كي ركنونه سته او كه نه؟

جواب :......

"و ركناه : مسح اليدين ، والوجه"(هدية العلائية / ص: ٣٥ ط بيروت)

نو له مذكوره عبارتو څخه دا ثابته سوه چي د تيمم دوه ركنونه دي اول د مخ مسح كول بيا د دوارو لاسو مسح كول دا د تيمم ركنونه دي .

سوال :......

په تيمم كي څو شيان سنت دي او د تيمم طريقه څنګه ده؟

جواب :......

" وسننه : التسمية فی اوله ، والترتيب بأن يبدأ بالوجه ثم اليدين كما فعله النبي ﷺ ، والموالاة كما مر ، والضرب بباطن كفيه و ظاهرهما ، اقبالهما ، و إدبارهما ، ونفضهما من التراب أى اتقاء تلويث الوجه والمثلة ، ولذا لا يتيمم بطين رطب حتى يجففه الا إذا خاف خروج الوقت ، و بيّن الإمام الأعظم رحمه الله : لما سأله أبويوسف رحمه عن كيفية بأن مال على الصعيد فأقبل بيده و أدبر ثم رفعهما و نفضهما ، ثم مسح وجهه ، ثم أعاد كفيه جميعا ، فأقبل بهما و أدبر ، ثم رفعهما و نفضهما ، ثم مسح بكل كف ذراع الأخرى و باطنها إلى المرفقين بأن يضرب جانب يديه مما يلى الابهام أحدهما بالاخرى ، و تفريج أصابعه والتيامن"

☆ . د تيمم طريقه داسي ده:

والكيفية: وهى أن يمسح بباطن أربع أصابع يديه اليسرى ظاهر يده اليمنى ، من رؤوس الأصابع إلى المرفق ، ثم يسمح بكفه اليسرى دون

الاصابع باطن یدیه الیمنی ، من المرفق الرسخ ، ثم یمر بباطن ابهامه الیسری علی ظاهر ابهامه الیمنی ، ثم یفعل بالید الیسری کذلك و تخلیل اللحیة۔ (هدیة العلائیة / ص: ۳٦ حاشیة ۳ ط بیروت)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په تیمم کي سنت سته اول په شروع کي د تیمم بسم الله الرحمن الرحیم ویل سنت دي، دوهم ترتیب دی یعني اول مخ مسح کول بیا د دواړو لاسونو مسح کول، دریم سنت پرله پسي والی دی (نو د تیمم طریقه داسي ده) اول به د دوړو لاسو ورغوي پر مځکه باندي ووهي بیا به د دواړو لاسو شا پر مځکه باندي ووهي بیا به داوړه لاسونه راپورته کړي او د ګرځه څخه به یې وڅنډي بیا به مخ په مسح کړي په داسي طریقه سره چي په مسح کي دیو وېښته په اندازه سره ځای پاته نسي، بیا به د دواړو لاسو ورغوي پر مځکه باندي ووهي بیا به د دواړو لاسو شا پر مځکه باندي ووهي، بیا به دواړه لاسونه راپورته کړي بیا به دواړه لاسونه د ګرځه څخه وڅنډي، اول به د راسته لاس د څلورو ګوتو د سرو څخه به چپه لاس پر راکش کړي ددغه راسته تر څنګلي سره د دغه راسته لاس څنګلی به هم ورسه مسح کړي بیا به د دغه راسته لاس پر مخ باندي دغه چپه لاس راکش کړي او بتـه ګوته به هم ورسره مسح کړي، بیا به په راسته لاس سره د چپه لاس د څلورو ګوتو د سرو څخه مسح کړي یعني راسته لاس دي پر راکش کړي سره تر څنګلي پوري د چپه لاس، بیا دي د څنګلي څخه ددغه چپه لاس پر شا باندي راسته لاس راکش کړي، سره د چپه لاس د بتې ګوتي، نو دا طریقه د تیمم دوهلو ده نو په تیمم کي نه استنجاء سته او نه د سر مسح پکښي سته او نه د پښو مسح پکښي سته دا شیان نسته په کښي .



بسم الله الرحمن الرحیم

دموزو اواو دنورو ټولو پټیو دمسحي مسئلې

عن المغیرة قال مسح رسول الله ﷺ الخفین فقلت یا رسول الله ﷺ نسیت قال بل انت نسیت هذا امر ربی عزوجل ﴿رواه احمد و ابو داود﴾

په موزو باندي د مسح ثبوت

مسئله:
په موزو باندی د مسح کولو جواز ډیرو حدیثونو باندي ثابت دي نږدې اتیا تنه سترو صحابه و رضی الله عنهم بیان کړي دي چی رسول الله ﷺ مسح کړې اجازه یی ورکړې د مسلمانانو په اجماع او تواتر ثابت ده که څوک ترې انکار کوي هغه اهل سنت والجماعت له ډلی څخه وتلي دی ﴿طهور المسلمین ص ۳۴ فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۴ ج۱ ددرمختار په حواله د تفصیل لپاره وګوري نصب الرایه ص ۱۹۴ ج۱ معارف السنن شرح ترمذی ص ۳۴۸ ج۱ کتاب الفقه ص ۲۱۹ ج۱﴾

مسئله: په موزو مسح کول له حدیث څخه ثابت دي ثبوت یی له سنت مشهوره څخه دی او په موزو باندی د مسح کولو راویان تر اتیا تنو زیات

صحابه دي دهغوى څخه عشره مبشره هم دي . دارالعلوم ص ٢٧۴ ج ١ در مختار ص٢۴٥ ج١﴾

مسح په موزو باندى روا ده

مسئله:

چاچى دڅرمنى موزې پو پښو كړى وې، اودس يى كړى او پښې يى پريولې وى د بيا اودس كولو په وخت كښى و رباندى د موزو ايستل او پښې پريول فرض نه دي هغه ته جائز دي چى د اودس كولو په وخت د پښو د مينځلو په ځاى ورباندى مسح وكړي ﴿مظاهر حق ص ۴٣٢ ج ١﴾

مسئله:

كه د بل چا په موزو څوک مسح وكړي صحيح ده خو نيت به يى د موزي د مسح وي ﴿ركن دن،ص ٢٧ د عالمكيرى په حواله﴾

آيا په موزو مسح كول د قرآن د ايت خلاف ده؟

په موزو باندي مسح كول په ډيرو حديثونو چى د تواتر حد ته رسيږى ثابت دي د استذكار په نوم كتاب كى د موزو د مسح په هكله نږدې له څلويښتو صحابه و څخه احاديث رانقل كړي دي .

حسن بصرى ﴿رحمه الله﴾ وايى چى اويا تنو صحابه وو راته بيان كړى دى چى رسول الله ﷺ پر موزو باندي مسح كړې ده .

هغه صحيح حديث چى راغلى دي د جرير بن عبد الله

الجبلي ﴿رض﴾ روایت دي کوم چې امامانو له اعمش ﴿رض﴾ او هغه له جریر ﴿رض﴾ څخه روایت کړي دي وایي .

جریر ﴿رض﴾ بولي وکړي اودس یې وکړ او په خپلو موزو یې مسح وکړه کله چې خلکو ورته وویل ﴿تاسي داسې مسح وکړئ﴾ لومړی وویل:هو ما رسول الله ﷺ ولید بولي یې وکړي اودس یې وکړ او په موزو یې مسح وکړه﴾

امام زیلعي رحمه الله ددې حدیث یادونه په خپل کتاب ﴿نصب الرایه﴾ کښې کړی دی وایي دا حدیث محدثینو ته خورا منلي دي ځکه جریر ﴿رض﴾ د مائدې د سورت تر نزول وروسته مسلمان شوی دی د مائدې سُوَر هغه سُوَر دي چې په هغه کښې په اوبو باندي د اودس کولو حکم شوي دی ﴿یا ایها الذین آمنو اذا قمتم الی الصلوة فاغسلو وجو هکم و ایدیکم الی المرافق ﴿ مائده شپږمه پاره﴾

په دې آیت کښې په صراحت سره ددواړو پښو پریمینځل ښودل شوی دي خو په کثرت سره احادیث ددې حکم خلاف دي او دا احادیث ددې آیت تر نزول وروسته ویل شوی دی نو دا امر ور څخه معلومیږی چې الله تعالیٰ د پښو مینځل په هغه صورت کښې فرض کړی دی چې موزی په پښو نه وي که په پښو موزې وی مینځل یی فرض نه دی د مینځلو په ځای په موزو مسح کیږی .

په دا ډول احادثو کښې یو هم هغه دي چې په بخاری کښې له مغیره بن شعبه رضی الله عنه څخه روایت شوی دی ﴿رسول الله ﷺ د حاجت د

رفع کولو لپاره بهر ووت مغیره ﴿رض﴾ د څرمنی په یوه لوښی کښی اوبه واخستلی او تر شا ورپسی لاړ رسول الله ﷺ اودس وکړ او په موزو یې مسح وکړه .

امام بخاری رحمه الله یو بل حدیث هم له مغیره ﴿رض﴾ څخه روایت کړی دی چی وایی:

په یوه سفر کښي له رسول الله ﷺ سره ملګری وم ما وغوښتل د رسول الله ﷺ موزې یې له پښو څخه لیری کړم رسول الله ﷺ راته وویل ﴿هغوی پریږده ما پښې مینځلی وي ﴿اودس می کړی وو﴾ او ده دی هم په پښو کړی وی﴾ بیا رسول الله ﷺ ورباندی مسح وکړه همدا شان نور حدیث هم شته چی بخاری مسلم او نورو روایانو روایت کړی دی

﴿کتاب الفقه ص ۲۲۰ ج۱﴾

د مشتبه موزو حکم

د موزو د په پښو کیدلو په صورت کښی دا ثابته ده چی مسح پرینځو کفي ده لوس دا حکم له موزو څخه جرابو ته هم رسیدلی ده [illegible] جرابی د موزو حکم لري نو خبره دلته ده چی جرابی د موزو حکم [illegible] په جرابو کښی د موزو شرائط تحقق موجود دی؟

[illegible] د فقهی په [illegible] چی د ﴿الیقین لا یزول بالشک﴾ [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

ورکـول﴾ کـافـي نـه ده د امـام اعـظـم رحـمـه الله پـه مـذهـب کـښـې پـه يوه روايت کښـې راځـي چـې ثخين ﴿دومره پنډې جرابې چې او به ترې نه تيرېږي﴾ به هم بشپړې خرمن لرې که تر بيډيو پوري خرمن نه وه مسح وربانډي جايز ده ﴿امداد المفتيين ص ۲۰۷ بهشتي زيور ص ۷۱ ج۱﴾

پـه مـوزو بانډي د مسح حقيقت

﴿مسـح عـلـى الـخـفيفين﴾ پـه عربې ژبه کـښـې ﴿خف﴾ د موزې پـه معنى دي د تـثـنـي لـپـاره يې د ﴿خفين﴾ لفظ دي نو داسې ويـل کيږې چې پرته له عـذره پـه يـوه مـوزه مسح جائز نه ده موزو لـه دې امله د خف پـه لفظ ياديږي چـې خـفـت يعنى سپکوالي او سهولت دي د مينځلو پـه اعـتـبار مسح سهل او اسـانـه ده الله تـعـالـى تـه مـعـلـومـه ده چې پـه مـوزه کـښـې سـهـولت دي او د رسـول الله ﷺ پـه ژبـه اعـلان شـوي ده داسـې هم ده چې پـه موزو بانډي د مسـح کـولـو سـهـولـت يوازې د محمدي امت ځانګړ تيا ده ﴿در مختار ص ۳۲ ج۳﴾

د شريعت پـه اصطلاح موزه څـه شي تـه ويل کيږي

پـه شـريـعـت کـښـې خف ﴿موزه﴾ هغه شي ته ويل کيږې چې د څرمنى پـه څيـر لـه څـه شي څخه جوړه شوي وي، تر بډيوی پښې پوښلي وي لـه پښو سـره لـګيـدلـى وي او او بـه نـه ترې تيريږي ﴿معارف السنن ص ۳۲۱ ج۱﴾ د خف ترجمه عامه موزه نه ده ﴿فيض الباري ص۳۰۲ ج۱﴾

پـه مـوزو بانډي

د مسح تعريف

پـه لـغـت كښې مسح ﴿په يوه شي لاس تيرول﴾ كه څوک په څه شي لاس ووهي ويل كيږي ﴿مسح عليه﴾ يعنې هغه په فلانى شي مسح وكړه .

د شريعت پـه اصـطلا ح له مسح څخه مقصد لوند والى رسول دي دلته له لند والى څخه مقصد پر موزو په ځانګړې طريقه سره ده چې بيا به بيان شي پـه اصـل كښې په موزو باندي مسح كول يو جائز امر دى يعنې شارع ﴿ع﴾ سړو اوميرمنو ته اجازه وركړې ده چې په سفر او حضر كښې پـه مـوزو مسح كـولاى شني دا حـكـم يـو رخصت دى چې شارع ﴿ع﴾ مـكـلـفـو اشـخـاصـو پـه مـوزو مسح كولاى شي دا حكم يو رخصت معنى سهولت ﴿اساني﴾ دخو پـه شريعت كښې هغه امر دي چې د يوه شرعي دليـل پـه خـلاف يې بـل دليل هم وي او د لومړي په مقابل كښې ثابت وي خـو د ﴿رخصت﴾ پـه مقابل كښي د﴿عزيمت﴾ لفظ دي هغه دادي چي په يوه داسي دليل ثبوت وي چي مقابل دليـل ونلري .

پـه مـوزو بـانـدي مسح كـلـه واجب ده صورت يې دادى چې كه مـوزو پـه ايستـلـو او د پښـو پـه مينـځـلو كښي د لمـانځـه د قضا كيدلو انـديښنـه وه پـه دې حـال كښـې فـرض ده چي ﴿پـه كـولو كښي د پښو د مينځلو په ځاى په موزو مسح وكړي .

يا مثلاً ﴿وقوف عرفه﴾ د حج په موقع په عرفات دريدلو په فريضو كښـي كـلـه د وخت د تيريدلو ويره وه نو لازمه ده چې په موزو مسح وشي او پښې ونه مينځل شي .

یا دو مره او به وي چې پښې ورباندې نه مینځلی کیږی نو لازمه ده چې په موزو باندې مسح وکړي .

له داسې ځایو نه ها خوا په موزو باندې مسح کړل یو رخصت یا جائز امر دي او د پښو مینځل تر مسح غوره ده ﴿کتاب الفقه ص ۲۱۷، ۲۱۸ ج۱﴾

په موزو باندې په مسح کولو د رسول الله ﷺ عمل

په دې هکله د سفر السعادت لیکوال لیکي:

﴿د رسول الله ﷺ عمل له تکلف خالي وو یعنی په دوو کښې یې دیوا امر خاص اهتمام نه کاوو که به یې موزې په پښو د مینځلو لپاره یې موزې نه ایستلي که به یې موزې په پښتو نه وي نو یوازې د مسح کولو لپاره یې موزې نه په پښو کولې .

غوره خبره دا معلومیږی چې د نبوي سنت ﴿اتباع﴾ وشي یعنی د موزو د مسح په کله هغه له ﴿تکلف څخه خالی﴾ صورت باندې عمل وشي کوم چې رسول الله ﷺ کاوو ﴿ مظاهر حق ص۴۴۳ ج۱﴾

مسئله:

رسول الله ﷺ د څرمني په موزو مسح کوله ﴿فتاوی دار العلوم ص ۲۴۹ ج۱﴾

په موزو باندې د مسح کولو په هکله د امام اعظم رحمه الله قول .

مسئله:

په او دس کولو کښې په موزو مسح کول رخصت يعني په آساني عمل کوي دي خو په موزو باندي د مسح کولو په ځای د پښو مينځل عزيمت يعنی غوره ده .

د اودس کولو په وخت کښې موزې ايستل او پښې مينځل ﴿په تيره په ساړه موسم کښی﴾ مشقت دي، له همدې امله شارع ﴿ع﴾ يوازی په خپل امت باندي مهرباني نه بلکه ستر احسان او انعام کړی دي که د محمدی امت څوک له دې احسان څخه انکار کوي نو تر هغه به بل څوک نا شکره او بې قدره وي .

په هدايه کښې ليکي څوک چی په موزو باندي د مسح کولو قائل نه دي هغه ﴿بدعتی﴾ دي که څوک ورباندي قائل دي او په عزيمت ﴿اولی او افضل﴾ باندي د عمل په نيت په موزو مسح نه کوې او پښې مينځی ثواب يی ورته رسيږی امام اعظم رحمه الله فرمايی زه تر هغه وخته په موزو باندي د مسح قائل نه وم تر څو چي د ورځي په څير روښانه احاديث راته څرګند نه وو ﴿مظاهر حق، ص ۴۴۲ ج۱ او رد المختار ص ۳۵ ج۱﴾

له مسح څخه د منکر حکم

امام اعظم رحمه الله ته خلکو عرض وکړ چی د اهل سنت والجماعت علامه څه ده؟

امام صاحب وويل ابو بكر او عمر رضی الله عهنما تر ټولو صحابه وو غوره ګڼل له عثمان او علی ﴿رض﴾ سره مينه لرل او په موزو باندي

مسـح کـول جائز بـلـل پـه مـوزو بـانـدي د مسـح کـولـو منکر له اهل سنت والجماعة څخه وتلی دي ﴿طهور المسلمين ص ۳۴﴾

په موزِو باندي د مسح په سِر او راز

دا چي پـه اودس کـولـو کښي د هغو غړو مينځل دي چي ښکاره دي او ژر ژر وربـانـدي ګـرز او دوړي کښينـي د مـوزو پـه پښـو کـولو پښي پټيږي.

پـه عـربـانـو کښي د مـوزو پښـو کـول عام عادت وو د هر لمانځه په وخـت کښـی هـغـوی ايسـتـل او پښـي مـينـځل تکليف وو نو د هغوي د په پښو کولو په حال کښي مينځل ورڅخه ساقط شول او امر يی وکړ چي په مـوزو د پـاسـه مسـح کـوی تـر څـو مـو د پښو مينځل ياد وي مسح د پښو د مـينـځـلـو يـوه نمونه ده او بل مقصد پکښي نشتـه ﴿اسرار شريعت ص ۷۹ ج۱﴾

دموزوو د لاندي خوا مسح نه کولو وجه

کـه د مـوزو پـه لانـدينی برخه د مسح کولو جواز واي ډير حرج به وو ځکه بيا وربانديٰ ګرځيدل ددې باعث وو چی ورباندي خاوري کښيني يعنی ژر ناولي شي ﴿اسرار شريعت ص ۸۰ ج۱﴾

په شريعت کښي نفس آزاد پريښـودل شوي نه دي

پـه شـريـعـت کـښـي چـي تـيـسـر ﴿اسانی﴾ راغلې ده هلته په عبادت کښـی دمـطـلـوب شي په ترک کولو کښي نفس ازاد پريښودل شوی نه دي لـه هـمـدې امله شارع ﴿ع﴾ د موزو د مسح په هکله هم درې خبري تاکلې دی .

اول: د مسـح مـوده ده چـي د مـقـيـم لـپـاره يوه ورځ او شپه او د مسافر لپاره درې ورځـی او شپـې دا هـغـه موده ده چی انتظام او التزام يی کيدلای شي د الـتـزام هـمـدا مـوده د تـکـلـيف په کچ د مقيم او مسافر په حال سمه معلومه شوی ده .

دوهم: شارع ﴿ع﴾ دا شرط ايښی دي چی موزې به د پاکي په حالت کی په پښو کيږی چی د پښو کيدلو په وخت کښی يی د پاکي خيال وي او د گرز او دوړو اثر پـکـښـی کـم وي او دا پاکي په هغې پاکی قياس کړي همدا سي پرتله کول نفس باندي خوار مثبت اغيز لري .

دريم: حکم يی دا کړی دي چی په موزو د پاسه دې مسح کوي تر څو د پښو مينځل يا د ته راشي او دا دیی نمونه شي .

عـلـی رضـی الله عـنـه وايی ﴿ که په دين کښی د عقل دخل وای نو په موزو باندي تر پاسني برخه کښتني برخه مناسب وه﴾

زه وايـم دا چـی مسـح د ميـنـځـلـو يوه نمونه ده او پکښی له همدې پرته بل مـقـصـود نشتـه او کـه د لانـدي ورباندي مسـح کيږی په لاره يی د ناولتيا اټکل غالب دي نو د عقل غوښتنه داده چی له پاسه ورباندي مسح وشي .

عـلـی ﴿رض﴾ د شريـعـت په اسرارو خورا پوه شخص وو . دادهغه د

خبرو او خطبو څخه ښکاره ده خوله دي خبري یی مړخه داده چی خلک په دین کښی مداخله ونکړي داسي نه شي چی عوام الناس خپل دین ته زیان ورسوي . حجة الله البالغه ص۲۸۰ ج۱ اسرار شریعت ل۸۰ ج۱

په موزو باندي په مسح کولو کښي عقل دخل نلري

علی ﴿رض﴾ وایی که په دین کښي د عقل وایی نو د مسح لپاره د موزو تر برنی برخی لاندینی برخه وړ وه خو ما رسول الله ﷺ ولید چی په خپلو موزو یی په پورتني برخه مسح وکړه ﴿ابو داؤد﴾

تشریح:

﴿وړ وه﴾ یعنی د موزې لاندینی برخه ﴿تلی﴾ ناولی وي نو عقلا خو دا غوره ښکاری چی په هغې برخه مسح وشي ځکه هغه باید پاکه شي خو په شریعت عقل څه دخل نه لري؟ عام عقل خو لاڅه کوي خاص او بشپړ عقل به د شریعت تابع وي هوښیار او عاقل سړی به په هر صورت د شریعت متابعت کوي .

کفار: محلدین او اهل هوا چی لار ورکي دي د گمراهی سبب دادي چی د عقل متابعت کوي او د عقل د غوارو ای ښکار کیږی ﴿مظاهر حق ص۴۴۸ ج۱﴾

مسئله: د موزې تلی ﴿لاندینی برخه﴾ چی له ځمکی سره لګیږی مسح ورباندي جائز نه ده ﴿کتاب الفقه ص ۲۲۴ ج۱﴾

په موزو باندي د

میر منو مسح کول

مسئله:

په موزو باندي مسح کول د سړی میرمنی او خنثی ﴿نر ښځی﴾ ټولو لپاره جائز ده ﴿در مختار ص۴۱ ج۱﴾

مسئله: په موزو باندي د مسح کولو د جواز اسباب د دواړه ﴿سړی او میرمنو﴾ لپاره یو ډول دي ﴿علمگیري ص ۷۰ ج۱﴾

مسئله:

د حائضې او جنب لپاره په موزو مسح کول جواز نلري یعنی په چا چي غسل واجب دي که هغه د حیض نفاس له ناولتیا وي او که له جنابت څخه پرموزو مسح ورته جواز نلري ځکه د ټول بدن مینځل ورباندي فرض دي خو په مسح کولو همدا فرض نه پوره کیږی ﴿رد مختار ص ۳٦ ج۱﴾

مسئله:

په چا چی غسل کول فرض وي او یا هغه اودس وکړی او موزې په پښو کړي خو وروسته غسل ورباندي فرض شي د هغه لپاره په موزو مسح کول جواز نلري .

مسئله:

که چا اودس وکړ موزې یی په پښو کړي جنابت ورته ورسیدی دو مره او به یی درلودې چی اودس یی کولای شوای خو غسل ورباندي نه کیده او دس دي وکړي په موزو دي مسح نه کوي پښې دي و مینځی او د جنابت له پاره دي غسل په نیت تمیم وکړي ﴿رد مختار ص ۳۷ ج۱ طهور المسلمین

ص۲۷

په موزو د مسح کونکي امامت

مسئله:

رسول الله ﷺ پو موزو مسح کړي وه امامت يې وکړ نو د مسح کوونکي د امامت په جواز کښي هيڅ شک نسته ﴿مظاهر حق ص ۴٦۴ ج۱﴾ طهور المسلمين ص ۳۷﴾

مسئله:

د تارونو او وړيو معمولي جرابې چې د مسح د جواز شرائط ونلري مسح وربانديې جواز نلري او د هغه شخص امامت صحيح نه ي ځکه جرابي د مسح شرائط نه لري او ده وربانديې مسح کړې ده ﴿فتاوی دارالعلوم ص۲۷۰ د بحر الرائق په حواله﴾

په عربانو کښي د موزو ډولونه

په عربانو کښي په جرابو باندي د څرمني ګنډل دوه صورتونه لري:

اول مجلد: دا هغه صورت دي چې لاندي باندي تر بډيو پورې څرمن ورکړي .

دوئم منعل: دا هغه صورت چې يوازې په تلې ﴿ دلاندني برخه﴾ څرمن ورکړې همدې مروجو صورتو يا دونه د پخوانيو کسانو په کتابونو کښي شوي ده خو په عجمي هيوادنو لکه هند بخارا سمر قند او نورو کښي يو

دریم ډول رواج دي هغه دا چي جرابی ته لاندی باندي څرمن ورکوی څو دا څرمن تر بیدیو ﴿کعبین﴾ پوري نه وي همدا هم منعل دي ﴿امداد المفتینص ۱۹۸ ج۱﴾

په پنډو او نریو موزو مسح کول

د جوړښت د جنسیت په اعتبار جرابی دوه ډوله دي ثخین او رقیق د ثخین پنډی﴾ اصطلاح د فقهاوو په نزد د هغو جرابو لپاره استعمالیږی چی دومره پنډی وي چي له بوټو نو پرته دري میله واټن تګ پکښي وکړای شي .

په پښه پسي پرته تړلو یا پرته له تنیو د بوټ په څیر ولاړه وي او ابه ژر نه جذبوي .

لنډه دا چي د ثخین جرابو لپاره دري شرطونه اینښودل شوي دي یو دا چی لږ تر لږه دري میله ﴿څلور کیلو متره او اته سوه شل متره﴾ لار به پکښي وهل کیدلای شي دا په داسي حال کښی چی بله کومه جوړه وربانديي په پښو شوي نه وي .

دوهم دا چی له پښي سره به پرته له تنګوالی او پرته له تړلو ولاړه وي دریم دا چي اوبه به تري نه تیریږی او ژر به یی جذب کولای نه شوای په کومو جرابو کښي چی له دې شرطونه څخه یو هم کم وي هغه رقیقی ﴿نري﴾ جرابی دي ﴿فتاوی دارالعلوم له امداد المفتین سره ص ۱۹۵ ج۲ شرح منیة او شامي﴾

جرابي که وړینی وي که تاري همدا شرطونه ﴿د مسح لپاره﴾ ضروري دي

که دا شرائط پکښې نه وو هغه رقیقی ﴿شامي ص ۲۴۸ ج ۱ میة المصلی ص ۴۲

په ورینو او تاري موزو ﴿جرابو﴾ مسح کول

ورینو او تارې موزو ته جرابي ویل کیږی که همدا سې موزو ﴿جرابو﴾ دواړه لوری څرمن ولري ورته مجلد وایی که یوازی د تلی لوري څرمن ولري ورته منعل وایی .

که موزې ټوله څرمن وي د تار اوورېو دخل پکښې نه وي بیا خفین بلل کیږی په خفینو مجلد و جرابو پنډو منعلیو جرابو په اتفاق سره مسح روا ده که پوره نه وي نو په اتفاق سره ورباندي مسح جائز نه ده .

خو هغه جرابي چې پنډۍ وی مجلدی او منعلی نه وي په هغوی مسح کول اختلافی خبره ده .

پنډی ﴿ثخینی﴾ هغه جرابي دی چی درې شرطونه پکښې پوره وي .

اول شفا في نه وي یعنی که اوبه ورباندي واچولی شي پښو ته ونه رسیږی

دوهم پرته له استمساک متمسکي وي یعنی له پښو سره پرته له تړلو ولاړي وي

دریم مشی ﴿تګ﴾ پکښې ممکن وي یعنی وي که په پښو شي پرته له بلی جوړی درې میله تګ پکښې وشي .

که همدا درې شرطونه پوره وي بیا مسح ورباندي رواه خو د ایاد ساتل پکار دي چی په موزو باندي مسح کول په حقیقت کښې د علت ﴿

تنقیح المناط﴾ په طریقه ده هغه جرابی چې پورته یاد دؤي شرطونه ولري هغه په خفینو ﴿موزو﴾ کښې داخلې دی چې د مسح د جواز حکم لري.

هغـه روایتـونـه چې پـه جـرابـو د مسح کولو په هکله دي هغه ټول کـمزوري دی یـا لـږ تـر لـږ د ﴿خبـر واحد﴾ په حکم کښی دي چې په هغوی بـانـدي په کتاب الله زیاتوالی کیدلای نشی په هغوی باندي د مسح جواز و مسح عـلى الخفين په متواترو حدیثونو کښي د تنقیح المناط ﴿علت﴾ په ډول ثابت دي ﴿درس ترمذی ص ۳۳۴ ج۱﴾

متـواتـرو حـدیث هغه دي چې په هره طبقه کښي یی راویان تر دوو ډیر وي خو هغـه بیـا نـه دي چې شمیر یی د تواتر تر حد کم او یا ورته بدیهی علم الیقین نه وي ﴿تحفه الدر ص۱۱﴾

منعل موزې څه دي؟

مـنـعـل دنـون پـه سـکـون سره هغو جرابو ته ویل کیږی چې یوازی په تلی لانـدینی برخه یی څرمن لکیدلی وي په پاسنی برخه څرمن ونه لري ﴿در مختار ص۴۰ ج۳

دموزو د منعل کیدلو مطلب

مسئله:

د جرابـو لـه منعل کیدلو څخه مطلب دادي چې په لاندینی برخه یی څرمن لـکیـدلـی وی او د مسـح پـه غـرض یـی په دشا هم تر بیډیو څرمن ولري ﴿ فتاوی دار العلوم ص ۲۷۵ ج۱﴾

مسئله:

پـه جرابو باندي پرته له څرمنی مسح جائز نه ده خو که پنډی او منعل وي او یا مجلد وي مسح وربانـدي صحیح ده لکـه د څرمنی پـه موزو چي صحیح ده ﴿فتـاوی دارالعـلوم ص ۲۷۲ ج۱ د بحر الـرائق ص ۱۹۲ ج۱ پـه حواله﴾

پـه منعل جرابو باندي د مسح کولو حکم

مسئله:

د منـعـل شویو جرابو اندازه څومره ده دعامو جوړو پـه څیر لاندي باندي ور څخـه څرمـن مراد ده کـه د هغې برخې وربانـدی نشـتـه کلکوالی هم د مسح کولو لپاره شرط دی؟

جـواب: هـغـه چـی یـوازی تـلـی ﴿ لانـدینی برخه﴾ څرمن ولري منعل بلل کیـږی کـه څرمن پـه زیاته برخه لګیدلی وه خو تر بڼ یو رسیدلي نه وه هغه هم د منعل پـه حکم کښی دي ﴿طحطاوی ص ۱۴۰ ج۱﴾

پـه منعـل جابو کښي کـه لـه څرمني وتلی ځای دومره پرړ ﴿ پنډ﴾ وو چي د مسح د جـواز شـرطـونـه پـکښي پـوره نـه وو د مسـح د جواز پـه هکلـه متا خرین علماء پـکښي اختلاف لري خو د عدم جواز لوري دد اکثریت قـول او احوط ﴿ډیر احتیاط﴾ کاردي ﴿احسن الفتاوی ص ٦٧٥ ج۲﴾

مسئله:

پـه عـادي تـاري جـرابو پـه هیڅ صـورت مسح کـول جواز نلري کـه هغـه ساده وي او کـه مـنـعـل کـه وربـانـدي لانـدی بـاندي څرمن وه هم مسح وربـاندي

جواز نلري اما كه ثرمن ورباندي تر بيډيو پوره وه بيا مسح ورباندي جواز لري هغه مجلدي بلل كيږى ﴿ امداد المفتين ص ۲۰۱ ج۱﴾

مسئله:

پـه مـجلدو جرابو مسح جائز ده ﴿عالمگيرى ص ٦٣ ج۱ امداد لمفتى ص ۱۹٦ ج۲

مجلدي موزې

مسئله:

هغه جرابي دي چي لاندي باندي ټولي په ثرمن كښي پټي وي ﴿يا پوره موزې د ثرمنى وي﴾ فتاوى دارالعلوم ص ۲۷۲ ج۱﴾

په جرابو د بالا د جرموقو حكم

مسئله:

كه څوک پـه نرمويا جرابو نوري جرابي په پښو كړي يا په جرابو د پاسه جرموقى وتړي جرموقى هم د ﴿بوټ څپلى كپي د پاسه په پښو كيږى تر څو جوړه لـه اوبـو اوختـو خونډي و ساتي پـه دې صورتونو كښي كـه د شرائط ولري نو مسح ورباندي روا ده .

لومړي: هغه به د ثرمني وي يا به دومره پنډي وي چي او به تيري نشي .

دوهم: برسيري جرابي يا جرموقي به داسي وي چي كه يوازى په پښو شي تګ پكښى وشي

دريم: همدا برسيرني جرابي به هم د اوداسه په حال كښي په پښو شوي وي

﴿كتاب الفقه ص ۲۲۹ ج ۱﴾ رد مختار﴾

مسئله:

كه جر موقي پراخي او ازادي وي لاس يې ترې كښته كاوو او په موزو يې مسح كوله جواز نلري ﴿عالمكيرى ص٦٤ ج ۱ منية المصلى ص۴۰﴾

د نايلون ﴿ليلون﴾ په موزو ﴿جرابو﴾ مسح كول

پوښتنه:

ځينې كسان له عربو راغلي دي . پوهنتون او پوهنځيو كښې زده كړې كوي هغوي د نايلون ﴿ليلون﴾ په جرابو مسح كوي وايي زموږ بوټونه پاك دي نو ولي جرابي لري كړو ايا د نايلون په جرابو مسح رواه ده؟

جواب:

په حديثونو كښې راځي چې رسول الله ﷺ په خفينو مسح كړې دی د محدثينو او فقهاو په نظر خفين هغه موزې دي چې له څرمنې څخه جوړې شوي وي نو كه د څرمنې موزې ﴿يا جرابي﴾ وي پرته له كوم اختلاف څخه وربانديي مسح رواه ده خو كه د تاريا وړيو وي نو د مسح د جواز لپاره ورته شرائط شته هغوي به كلكې وي او كه يوازي په پښو شي درې ميله به پكښې تګ كيدلاي شي .

دوهم دا چې له تړلو پرته به له پښو سره ولاړې وي يعني د غومره به پنډې او كلكي وي .

دريم: هغه بو او به نه جذبوي داسي چې پښو ته ورسيږي كه داسي جرابي

وي بيا کـه د تاروي که دوړيو مسح وربانديي جائز ده ځکه هغوی د څرمنی د موزو پـه حـکـم کېنبي راځي خو د نايلون جرابي نه کلکي دي نه پکښي تک کيـدلاي شي او نه هم د اوبو مخه نيولای شي ځکه هم د ټولو په نزد په هغوی مسح کول جواز نلري ﴿ فتاوی قاضی خان ص ۲۵ ج۱﴾

يـواځـی د جرابو او جوړې پاکوالی د مسح د جواز پاکوالی په هر حال کښي ضـرور دي هرو مرو ضرور لکه د جامو پاکوالي چي ضرور دي له پاکوالی سره سره داسي جرابي ضرور دي چي وربانديي شرعاً مسح جائز وي که پورتـه يـاد شـوي شرائط پـوره نـه وي نو وربانديي مسح جائز نـه ده کـه وربانـدي وشـي اعتبـار نـلـري ﴿فتـاوی جمعية ص ۲۸۱ ج۴ علم الفقـه او نظام الفتاوی﴾

يادونه:

پـه عـامـو جـرابو چي د مسح د جواز شرائط پکښی پوره نه وي مسح جائز نـه ده نـو چـي مسـح جـائـز نـه ده بيـا کـه وربانديي وشي لمونځ هم نه کيږی محمد رفعت قاسمی﴾

د غلا او غصب په موزو باندي مسح کول

مسئله:

پـه داسي موزو چي په غلا يا بله ناروا لاره يی تر لاسه کړي وي مسح جواز لـري کـه څـه هـم پښـو کـول يی ناروا دي خو دا چي په ناروا لاره يی تر لاسه کـړی دادمسح لـه جواز سره منافي نه ده ددې مثال داسي دي لکه څوک چي

او به غلا کړي که څه هم غلا ناروا ده خو همدا او به دا او دس کولو لپاره پاکي دي د غلا او غصب شيان که په عبادت کښي استعماليږي هغه هدف چې پکښي تقرب الی الله دي نه تر لاسه کيږي او سبب يې ښکاره دي ﴿کتاب الفقه ص ۲۰۳ ج۱﴾

مسئله:

که همداسې موزې په پښو شي مسح ورباندي صحيح ده خو په پښو کول يې ګناه ده هغه هم کبيره ګناه که ورباندي مسح وشي لمونځ يې صحيح دي .

همداسي د هغې پښې مينځل په اتفاق سره په اودس کولو کښي ضرور ده کومه چې په قصاص ﴿سزا﴾ کښي د غوڅولو وړ ده هغه مغصوبه پښه بلل کيږي وجه يې داده چې په يوه جرم کښي يې د غوڅولو حکم شوي دي خو هغه شخص وتښتي ګواکي هغه پښه يې په زور او غصب سره خپله کړه دا پښه په حقيقت کښي دده نه ده خو تر څو چې دده په تصرف کښي ده د مينځلو حکم ورباندي نافذ دي ﴿در مختار ص ۴۳ ج۱﴾

په زړو موزو ﴿جرابو﴾ مسح کول

په داسي موزو مسح جواز لري چې پکښې د تللو امکان وي هغه جرابي مجلدي يا هغه چې د مسح د جواز شرائط يې پوره وي﴾ چې د زوړ والي له امله پرته له جوړې پکښي تک کيدلای نه شي مسح ورباندي جواز نلري امداد الاحکام ص ۳۹۲ ج۱ د شامي په حواله﴾

په دې مسـئله کښې علماء دوه ډلې دي يوه ډله وايي چې د مسـح د وخت له ختـم سره سره مسـح باقي د خو بله ډله وايي مسـح ختـميږي خو بيا مسح د جبيرې حکم لري ﴿درمختار ص۴۷ ج۲﴾

آيا په بو ټونو مسـح جواز لري

مسئله:

کوم بـوټـونه چې تر بيدو پورې يې پښې پوښتلې وي د موزو حکم لري مسـح وربـاندې جائز ده خو دا چې ګرځيدلو کښې ناولې کيږي هر لمانځه تـه کـه يـې کاږې مسـح ماتيږي نو ګټه نلري ځکه په لري کولو يې د مسـح مو ده ختـميږي ﴿ امداد الفتاوی ص۸۰ ج۱ طهور المسلمين ص ۳٦ د مسـح موده ختـميږي ﴿امداد الفتاوی ص۸۰ ج۱ طهور السملمين ص ۳٦﴾

مسئله:

د بـوټ لانـدينـې بـرخـه چې لـه ځـمکې سره لګيږي ناولې وي نو مسـح وربـاندې جواز نه لري او که په لمانځه کښې په پښو نو لمونځ نه صحيح کيـږي ﴿ فتـاوی دارالعـوم ص ۲۸۴ ج۱ د عـالـمګيری په حواله او د ترمذی درس﴾

پـه دسـکلو او لنګوټې مسـح کول

مسئله:

پـه دستـانـونـو ﴿ د سماغوګان لاس پوښې دسـتکش دسـتکلي مسـح کول جـواز نـلري هـمدا شان په عمامه ﴿ پګړې لنګوټه لونګۍ ﴾ مسـح کول نا جائز دي ﴿ رکن دي ص ۲٦ بهشـتی زيور د هدايه ص ٦۱ ج ۱ په حواله﴾

مسئله:
په دستانو ﴿ د سماغو ګان،لاس پوښي،دستکش،دستکلې،مسح کول جواز نلري همداشان په عمامه ﴿ پګړي،لنګوټه،لونګی مسح کول نا جائز دي﴾ رکن دي ص ۲۴ بهشتي زیور د هدایه ص ۴۱ ج۱ په حواله .

مسئله:
دلته ﴿ په عمامه خولی ټادری او دسکلو کښي ستونزی نشته چی د مسح علی الخفین په نبوی حدیث ثابته ده او خلاف القیاس ده نو په موزو باندي بل شي قیاس کولای نه شوای﴿در مختار ص ۴۳ ج۱﴾

په سرو سیمو کښی دمسح حکم

مسئله:
که داسي سړه سیمه وه چی هلته د موزو په ایستلو پښو ته زیان رسیده نو په داسي وخت کښی که د مسح وخت ختم همو و مسح ورباندي جائز ده ځکه په داسي وخت کښي موزه د جبیري ﴿پټی﴾ حکم لري﴿ فتاوی دار العلوم مع امداد المفتین ص ۲۱۱ ج۲

مسئله:
که په موزو باندي د مسح وخت ختم شو خو د سړی لا اودس وو دا شخص اختیار لري چی موزې باسي یوازي پښې مینځی او که تول اودس کوي خو تول اودس اولی ﴿غوره﴾ دي ﴿شامی ص ۲۵۵ ج۱ فتاوی دار العلوم ص ۲۱۱﴾

مسئله: که د موزې وخت داسي مهال ختم شو چی او به دومره سړې وي

چیکه موزې واسیتلی شي پښې خرابیږی ﴿شلی کیږی،یخ یی وهی﴾ نو څه به کوي په دې شبه کښې علماء دوه ډلې دي یوه ډله وایی چې د مسح د وخت له ختم سره سره مسح باقی ده خو بله ډله وایی مسح ختمیږی خو بیا مسح د جبیري حکم لري ﴿در مختار ص ۴۷ ج۲﴾

په مبطنو موزو مسح کول

که څوک موزوزو ﴿ جرابو﴾ ته څرمن ورکوي نو دوه ډولونه خو یی منعل او مجلد کول دي دریم صورت یی دادي چیجرابي ته دننه له خو اڅرمن ورکړی ددې حکم هم د منعل او مجلدو جرابو ده که څرمن ټولی جرابی ته تر بیدو ورکړل شوي وه مجلد ده کنه منعله ده او په منعله جرابه مسح جواز نلري .

مسئله:

که جرابي وړینې یا نازکي څرمنی وي بیا یی منعل کړی د مسح په هکله یی اختلاف دي د منیة د شارح په نزد راجح ﴿غوره﴾ جواز ده خو داداحتیاط او تقوی خلاف ده ﴿امداد المفتین ص ۲۰۲ ج۱﴾

د زربول موزو حکم

مسئله:

په شام کښې د زربول په نوم یو ډول موزې چې ددواړه بیدیو لورو ته خلاصیږی بندونه تر پښو کولو وروسته بندیږی پرانیسته ځایونه یی

بيـر تـه بـند شي په دې ډول موزو مسح كول جواز لري . ﴿در مختار ص ۳۴ ج۲﴾

يادونـه: نـن سبـا د بنـدونو په ځاى ځنځير ﴿قلفک﴾ وركوى په هغوى هم مسح صحيح ده ﴿شامى ص ۴۹ ج۱ او . . .

د رسول الله ﷺ خفين او نعلين ﴿مبارک﴾

پوښتنه:

پـه مـوزو بـانـدي مسـح كـول مشـروع دي ان داهـل سنـت والـجمـاعـت ځـانـكـړتيـا ده رسـول الله پـه پښـو كـړې دې او د رسول الله د نعلينو ﴿پڼو پيـزار، شـكل او صـورت او د سير په كتـابونو نو كښي راغلى دى نه راځى خو پـه ځينى كتـابونو لكه شر ح سفر السعادات مدراج النبوت او روضة الاحبـاب كښـى دامـر حـكـم لـري كـه لـه جرابو په پښو شي مسح وربـاندي جواز لري او كه نه؟

جواب:

پـه مـوزو بـانـدي تـر مسـح ورو ستـه دا هم شـرط دي چي هغوى د لمانځه لپاره پاكي وي يعنى داسي ناولي نه وي چى د لمانځه مانع وي بيا دا شـرط نـا جـائـز ده چي لـه پښو سره پـه پښـو شي مسح وربـاندي روا ده او لمونځ يى صحيح دي . لـه رسول الله ﷺ څخه هم داسي روايت شته چي پـه مـوزو د پـاسه يى پڼى پښـو كـړي دي خو هغه همدا مشهورې پڼي نه دي

کيـدلای شـي نـوري يـی وربـانـدي پـه پښـو کړی ذی دا چی رسول الله ﷺ
وربانـدي مسح کـړی ده اوس هـم د مسح مـوانع نشتـه او شکاره ده چی د
مـوزو لپـاره شـرط داده چی ساتر القدمين مع الکعبين به وي يعنی پښي
لـه بيـډی سـره پـکښـی پـټـی وي نـو کـه کـوم ډول بوټونه همداسی وي چی
پښـې او بيـډې يـی پـکښـی پـټـی وي نو که کوم ډول بوټونه همداسي وي
چی پښي او بيډه يی پکښی پټی وي مسح وربانډي جائز او لمونځ ورسره
روا دي ﴿در مختار باب المسح على الخفين﴾

آيا له رسول الله ﷺ څخه په جرابو مسح کول ثابت دي؟

پوښتنه:

يـوازی پـه مروجـه جرابو مسنح کول جواز لري؟ ماله يوه مولوي صاحب
څخـه دا اوريـدل چی له رسول الله ﷺ څخه په جرابو د مسح کولو روايت
ثابت دي د باريکوالی او فخامت ﴿پنډوالي﴾ قيد پکښي نشته .

جواب:

پـه جرابـو مسـح کـول جـواز نـلـري دمسـح عـلـى الـجـور بين لپـاره څلور
شـرطونه شته دري هغه شرطونه دی چی په موزو ﴿خفين﴾ باندی د مسح
د جـواز لپـاره ضـروري وو پـه جـرابـو کښـي يو شرط د مسح د جواز لپاره
زيـات پـه در الـمـختار کښي راځی ﴿او د مسح شرطونه دري دی:لومړی دا
چـي پښـې لـه بيـډو سـره پـټـی کـړي دوهـم پـه پښـه کښي کومه برخه
ورڅخه ﴿لوڅه﴾ پاته نه وي:

دريم: يو فرسخ يا زيات عادی به پکښي کيدلای شي .

د جرابو لپاره بیا دا چي دومره کلکی وي چي یو فرسخ پکښي تګ وکړای شي له ساق سره په خپله ولاړي وي لاندي تري څه ونه لیدل شي او څه شي تري لاندي تیر نشي﴾ ﴿در مختار علی الشامی ج ۱ص۹:۱۷﴾ نو که همدا څلور شرطونه پوره وو مسح وربانديجواز لري .مولوي صاحب چي داوایی له رسول الله ﷺ څخه په جرابو مسح ثابته ده د ابي علمی ده په حدیث شریف کښي دومره شته ﴿انه علیه الصلـوة والسلام مسح علی خفیه﴾ ﴿جمع الفوائد ص ۴۲﴾ بل حدیث دي ﴿ ان النبی ﷺ مسح علی الجور بین﴾ ﴿جمع الفوائد ص ۴۲ ج۱﴾

لنډه داچي په ﴿خف او جراب﴾ مسح کول ثابت دي خو مراد ورڅخه هغه موزې ﴿ او جرابي﴾ دي چي پورتني شرائط ولري یوازې درخت او کپړې جرابي نه وي والله اعلم و علمه اتم و احکم﴾ فتاوی دار العلوم ص ۲۷۴ ج۱﴾

موزې ﴿او جرابي﴾ به څرنګه وي

مسئله:

هغه موزې چي ایستل یی ضروری نه دي او مسح وربانديجواز لري په هغو کښي دا څلور خبري ضروري دي .

اول: دومره به کلکي وي چي پرته له بل او تړ تهولو په پښو پسي ولاړي وي

دوهم: دومره کلکي وي چي درې میله ﴿۴ کیلو متره او ۸۳ متر﴾ فاصله

پكښې وهل كيدلاى شي
دريم:پنډوالى يى دو مره وي چي ترې لاندى پښه ځر ګنده نشي .
څلورم اوبه به نه جذبوى يعننى كه اوبه ورباندي واچولى شي لاندي به ترې نه وځى كومى موزې ﴿او جرابي﴾ چى دا شرائط ولري كه هغوى د څرمنى وي تار او وړيو يا بل څه مسح ورباندي جواز لري ﴿مظاهر حق ص ٦٢ ج١﴾

مسئله:
عـامه خبره داده چى د څرمني پكښي شرط نه ده كه په پنډتار يا كمچ څخه وي چى پرتـه له ترلو پسې ولاړ وي او كه پرته له بلى جوړې په پښو شي او درې ميله پكښي تګ وشي په هغوى مسح رواه ده .

مسئله:
پـه كومو موزو چى مسح جواز لري كه له دې سره سره چى كلكي وي تګ پكښي كيدلاى شي دا هم شرط دي چي پښې به يى تر بډيو پو ښلى وي تر بيډيو به كمى نه وي ﴿طهور المسلمين ص ٣۴،احسن الفتاوى ص ٦١﴾

مسئله:
پـه كـومـو مـوزو چى مسح جواز لري هغوى تر بيډيو پورى پـښې پوښلى وي بيـډى هغه هډو كي دي چى د پښتو په پورتني برخه كښي راوتلى دي دا ځـكه چى د پښو مينځل تر بډيو پورى لازم دي كه خوراک مه برخه پاته شي اودس نه كيږى ﴿كتاب الفقه ص ٢٢١ ج١﴾
يـادونـه: مـوزې بـه تـر بيـډيـو كـمـي وي زيـاتوالي يى حرج نه دي ﴿رفعت

قاسمی﴾

د حلالي او حرامي څرمني موزې

پوښتنه: څرنګه راته معلومی شي چی دا موزې د کوم حلال څاروی دي که د حرام او که په ټولو هغو موزو مسح جواز لري چی د هر څاروی وي؟

جواب: پـوست ﴿څـرمـن﴾ په دباغت پاکیږی او داو داسه په کار نه ده چې د څه ډول حرمني به موزې جوړی شوي وي ﴿ستا سو مسائل ص ٦٦ ج٢﴾

په پلاستکي موزو د پاسه جرابي

مسئله:

کـه مـوزې لـه پـلاستک څـخه جوړي شوي وي ورباندي تاري جرابي پښو يی ايا مسح ورباندي جائز ده؟

جـواب: کـه لـه پـلاستک سره جرابي وي مسـح ورباندي صحيح ده دې ته مبطـن مـوزې وايی ﴿شـر ح منية ص ۱۲۱﴾ له کنډلو پرته په جرابو مسح جـواز ځـکـه مسـح پـه چرمـی مـوزو جواز لري خو پـه جرابو مسح کول د مـوزو تـحـقـق ن مـومـي دا د مبطـن پـه خلاف دي چی هلتـه تاري ټوټـه او څـرمـن سـره يـو شـوي دي ځـکـه پـه هـغـوی مسـح جائز ده ﴿احسن الفتاوی ص٦٦﴾

د شيشې يا او سپنی د موزو حکم

مسئله:

هـغـه مـوزې چی له شيشې او سپني ی لرګی څخه جوړی شوي وي مسح وربـانـدي جـائـز نه ده ځکه کومي موزې چی له دې شيانو جوړي شوی وي

انسان پکښې بې تکليفه تګ کولاى نشي ﴿در مختار ص ۳۴ ج۲﴾

څوک چې يوه پښه لري

مسئله:

که د چا پښه غوڅه شوې وه که د پښې شاد دريو ګوتو اندازه پاته وه نو په موزو يې مسح جائز ده او که د همدې فرض په اندازه پاته نه وه بيا مسح وربانديې جواز نلري او مينځى به يې د لاندى لوري څخه وربانديې مسح نه کيږى ځکه د مسح ځاى پاته نه دي خو مينځل کيږى ځکه ځاى يې باقي پاته دي .

مسئله:

که د چا يوه پښه وه بله يې يا د پيدايښت په وخت کښې نه وه يا تر بړى پورته شوى وه دا شخص به په يوه موزه مسح کوي ﴿در مختار ص ۴۳ ج۱﴾

مسئله:

که څوک ګوډ وو چى ګوتى يى نه وي خو نور پښه وه مسح وربانديې جواز لري تر څو پنده پاته وى مسح وربانديې کيږى ﴿در مختار ص ٦٨ ج۱﴾

مسئله:

که د چا يوه پښه غوڅه شوى يوازى دريو ګوتو په اندازه پاته وه مسح وربانديې صحيح ده خو که تر دې اندازه کمه پاته وه په موزو يې مسح جواز لري که د چا يوه پښه تر بړو پورته غوڅه شوى وه او په بله يې موزه په پښو کړې وه مسح وربانديې جائز ده ﴿کتاب الفقهص ۲۲٦ ج۱﴾

تر موزو دلاندی جرابی

مسئله:

کـه تـاري يـا وړيـنـی جرابي چا په پبنو کړې وې نری يا پنډی خو سر بره يی وربـانـدي مـوزې پـه پبنـو کـړی وي مسـح وربـانـدي جـائـز ده . ﴿امداد الفتاوی﴾

مسئله:

کـومـي جـرابـي چـی نـن سبا مـعـمـول دي که تاری وړينی يا نا يلونی وي هيـڅـکـلـه وربـانـدي مسح جواز نلري خو که دلاندی په پبنو شي او پرې د پاسه د څرمنی یا نوري موزې په پبنو شي مسح وربانډي جائز ده ﴿فتاوی دارالعلوم ص ۲٦٧ ج۱﴾

د موزو مينځل څرنګه دي؟

مسئله:

که چا موزې په پبنو کړي وي مينځلی يی خو د مسح نيت يی نه وو کړي يـا هـم مسح وربـاندي کيږی که څه هم موزې ﴿چي په پبنو وي﴾ مينځل مکروه دي ﴿کتاب الفقه ص ۲۳۲ ج۱﴾

مسئله:

پـه مـوزو بـانـدي د مسح کولو لپاره له نجاست څخه د موزو پاکوال شرط نـه دي کـه پـه موزو باندي ناولتيا ﴿نجاست﴾ وو هم مسح وربانډي روا ده خو له نجاست سره لمونځ صحيح نه دي ﴿کتاب الفقه ص ۲۲۳ ج۱﴾

د مقيم او مسافر لپاره د مسح موده

مسئله:

که د موزې شرطونه پوره وو په حضر ﴿کور﴾ کښې تر يوې شپې ﴿او ورځې ﴿۲۴ ساعته﴾ مسح جواز لري او دشرعي سفر په حالت کښې تر دريو شپو ورځو ﴿۷۲ ساعته﴾ پورې جواز لري، دا فرق نلري چې سفر د طاعت دي او که د معصيت .

په موزه باندې د مسح موده د موزې له پښو کولو نه شمير له کيږي بلکې دا اودس له ماتيدلو وروسته موده شمير لـه کيږي مثلاً چا په اوداسه باندې ماپښين موزې په پښو کړې خو مازديگر يې اودس مات شوله همدې مازديګر څخه بـه د مقيم لپاره ۲۴ ساعته او د مسافر لپاره ۷۲ ساعته موده شمير له کيږي .

مسئله:

داسې هم صحيح دي چې څوک لومړی پښې و مينځي او بيا وراندې تر داسې څه چې اودس ماتوي نور اودس بشپړ کړي جواز لري خو د ترتيب خلاف دي نو غوره صورت يې هغه چې وړاندې بيان شو يعنې پوره اودس وکړي او بيا موزې په پښو کړي دا هم شرط نه ده چې له اودس کولو سره سم دستي دي موزې په پښو کړل بلکې تر اودس ماتيدلو وړاندې په پښو کول يې چې هر وخت وغواړي صحيح دي . .

مسئله:

په موزو باندي هغه وخت مسح كول صحيح دي سړی اودس كوي خو كه
په چا باندي غسل لازم وو بيا مسح كافي نه ده موزې به كاږی كه يی موده
پوره وه او كه نه وه طهور المسملين ص ۳۵،مظاهر حق ص۴۶۶ ج۱﴾

مسح د موزو په كوم ځای او څرنګه كيږی

شارع ﷺ د ټولی موزې مسح كول د پښې د مينځلو په څير ضروری
بللی نه دي كه څه هم په موزو مسح كول د پښو د مينځلو په ځای كيږی
او د ټولی پښې مينځل فرض دي خو مسح هغسی نه ده .
ددې سبب دادی چی په موزو باندی د مسح كولو يو خاص مراعات دي
شارع ﷺ په دې هكله اسانې جوړه كړې ده دا چې په موزه باندی په
څومره اندازه مسح كول فرض دي په اړه يی دا مسئلی راځی .

مسئله:

په موزو د پاسه درې ګوتو په اندازه مسح كول فرض دي هغه هم دوړې
ګوتې په اندازه شرط دادی چی مسح به د موزې په هغې برخه كيږی
چيری چی پښه وي په دې مسئله كښې په موزو مسح كول د سر په برخه
كيږی چيری چي پښه وي په دې مسئله كښی په موزو مسح كول د سر په
مسح قياس كيږی نو له هم دې برخی چی پښه پكښی وي بل ځای مسح
نه كيږی لكه په پنده پسی نوره لګيدلی ټوټه مختنی برخه يا يی په
څنډو يا هم د لاندی له لوري مسح د پښو په پورتني برخه كيږی خو تر
بيډيو د لاندی هم جواز لري .

مسئله:

كه د ځرمنى په موزو ويښتان وو او د مسح په وخت كښي اوبه ځرمنى ته نه رسيدلې مسح جائز نه ده كه يې په ويښتانو د مسح اراده وكړه او ځرمنى ته اوبه هم ورسيدلې بيا هم مسح صحيح نه ده ﴿كتاب الفقه ص۲۲۸ ج۱﴾

مسئله:

موزه به د پښې د دريو ګوتو په اندازه شليدلې نه وي .

مسئله:

مسح د لاس په ګوتو كيږي كه په يوه ګوته مسح وشي جائز نه ده ځكه په دې صورت كښې د احتمال شته چې د مسح اندازه پوره نشي كيدلاى شي په لومړي مسح ګوته وچه شي خو كه په يوه ګوته درې ځايو نه مسح وشي او هر كله ګوته لمده شي بيا جواز لري په لاس سره سم هم مسح ضروري نه ده كه باران وو او د مسح په ځاى اوبه وبهيدې هم مسح صحيح ده ﴿كتاب الفقه ص۲۲٦ ج۱ در مختار ص۳۸ ج۲ .

مسئله:

په موزو باندې د مسح فرض اندازه داده چې د لاس د دريو ګوتو اندازه په هره موزو په پورتني برخه مسح وشي غوره طريقه يې داده چې دواړه لاسونه ګوتې په اوبو لمدې شي اد موزو د ګوتو په لوري كښيښنود الى شي او پورته لور ته راكښ كړاى شي ګوتې به موت نه وى او سره پرانستې به وي

مسئله:
که چا چپه مسح وکړه یعنی د لاس یی د پښو د بیدیو له لوري د پښو د ګوتو لور ته کش کړي هم جواز لري خو دا د سنت خلاف عمل دي ﴿طهور المسلمین ص ۳۵﴾

مسئله:
لومړي دي د دواړو لاسونو ګوتي په غیر مستعمل ﴿تازه﴾ لمدې کړې بیا دې ښي ګوتی د ښي پښي په ګوتو برابر په موزه په غوړیدلی ډول کښیږدي او د بیدیو په لور دي راکاږی او بیا دې دکین لاس ګوتی په کینه پښه همداسی راتیری کړې .
دا د مسح مسنونه طریقه ده خو که څوک یوه ګوته درې ځلی په ګوزه باندی بیل بیل ځای او هر ځای او هر ځل ګوته په اوبو لمده کړی هم مسح جواز لري خو که هر ځل ګوته لمده نه شی جائز نه ده ﴿مظاهر حق ص ۴٦۷﴾

مسئله:
که مسح په ګوتو ونشی په ورغوی وشی یا په لامده لرګي یا جامه وشي هم جواز لري .

مسئله:
که د باران یا نوری اوبه یا څاڅکی د دریو ګوتو په اندازه په دواړو موزو ولګیږی یا د شبنم په لمدوالی واښه ورباندی د مسح په اندازه کش کړای شي مسح کیږی که واښه د باران په اوبو لوند وو او ورباندی د مسح په

خیر تیر شو هم مسح وشوه.

مسئله:

که د باران یا نوري او به یا ثاخکی د دریو گوتو په اندازه په دواړو موزو ولگیږی یا د شبنم په لمدوالی وابنه وربانده ی د مسح په اندازه کش کړای شي مسح کیږی که وابنه د باران په اوبو لوند وو او وربانده ی د مسح په خیر تیر شو هم مسح وشوه.

مسئله:

که د موزو په لاندینی برخه یا له بنې او کیڼ اړخه مسح وشي یا تر دریو گوتو په کمه اندازه مسح وشي جواز نلري.

مسئله:

که چا گوتي وربانده ي ولاړي کښیښولې او لاس دومره لوند وو چی د دریو گوتو په اندازه یی موزې لمدې کړې جائز ده که اوبه کمي وې یوازی د دریو گوتو د سرونو اثر پاته شو مسح ونه شوه ﴿طهور المسلمین ص ۳٦﴾

مسئله:

که په یوه موزه د دو گوتو په اندازه او په بله موزه د پنځو گوتو په اندازه مسح وکړای شي جواز نلري.

مسئله:

که د چا پښې زخم نه یی مینځلای شوای او نه یی مسح کولای شوای بل کس ته یی د مسح کولو جواز شته ﴿عاملگیری ص۴۵ ج۱﴾

مسئله:

که په بته کوته او ورسره نږدې کوته مسح وشي دواړې غوړیدلیوي مسح جواز لري

مسئله

که چا په موزو باندې درې کوتې کښيښودلې خو کش یې نه څخیدلې وي جواز نلري .

مسئله:

داندامونو په مینځلو چې کوم لمدوالی پاته کیږی مسح وربانديي صحیح ده که هغه څخیدلې او که نه خو که د سر تر مسح وروسته لمدوالی پاته وو په هغوی ﴿موزو﴾ مسح جائز نه ده .

مسئله:

که په دواړو موزو په پساره مسح وشي جواز لري

مسئله:

که ورغوي کښیږدي یا کوتی کښیږدي او کش یې کړي دواړه صورتونه صحیح دي خو غوره داده چې په ټول لاس مسح وکړای شي که د ورغوی په شا مسح وکړای شي هم جائز ده

مسئله:

په مسح کښې لیکی ﴿داوبو نښې﴾ شرط نه دي خو مستحب دي .

مسئله:

په مسح کښې څو ځلی کوتي کشول سنت ه دي یوازی یو ځل مسح کیږی داسې نه دي لکه په اوداسه کښې چې اندامونه درې ځلی مینځل کیږی مسح یو ځل ده .

مسئله:

په موزو باندې د مسح کولو نیت شرط نه دی ﴿فتح القدیر﴾

مسئله:

که چا اودس وکړ مسح یی وکړه او په هغه کښې یی د ښو دلو نیت وو د پاکی نیت یی نه وو صحیح ده او د مسح وشوه ﴿خلاصه، فتاوی عالمگیری ص۴۴ ج۱﴾

مسئله:

که موزو ارته وه که پاته پښه پکښې ښکاره کیدله دا نقص نلري خو که موزه ارته او مسح په زائده برخه وشوه په دې صورت کښې مسح صحیح نه ده ځکه په په هغه ځای کښې پښه پښه نشته خو که یی هغه خالی برخی له پښې ورسولې او مسح یی وکړه بیا صحیح ده

که د موزې په خالی ځای مسح وشوه بیرته دې راوګرځوي خو یو قول دادی چې که د موزې په خالی ځای مسح وشوه بیرته راوګرځوی خو یو قول دادې چې د مسح دراګر ځولو اړتیا نشته ﴿در مختار ج۲ عالمګیری ص ۴۴ ج۱﴾

په موزو باندې مسح څه وخت ناروا ده

مسئله:

که موزې تر بیدیو کښته وې مسح وربانـدې جـواز نلري ﴿فتاوی دار العلوم ص ۲۷۴ ج۱﴾

مسئله:

کـه مـوزه دومره څيری شوې وي چې تک په مهال تر دريو ګوتو زياته پښه
ترې ښکاره کيږی مسح وربانديّ جواز نلري

مسئله:

کـه يـوه مـوزه دوه درې ځايـونه بيـل بيـل سوري وي کـه هغه سوري سره يو
ځای شي او ديو په اندازه شي مسح ورباندي روا نه ده؟

مسئله:

کـه په دواړو موزو کښي دومره سوری او څيری ځايونه نه وو چې کـه سره
يـو ځـای شـي د دريـو ګـوتـو پـه اندازه شي څه ستونزه نلري مسح وربانديّ
جائز ده .

مسئله:

کـه تـر دريـو ګوتو زياته څيری وه خو د تک په وخت کښي څرمن ورباندي
راتلـه او پښـه ترې د ريو ګوتو په کمه اندازه ښکاره کيدله مسح وربانديّ
ده ﴿طهور المسلمين ص ۴۴ ج۲﴾

په غبر ګو موزو د مسح حکم

مسئله:

که چا غبر ګي موزې لاندی باندی پ پښو کړی وې سر بيره موزې اعتبار
لـري کـه هـغـه و ايستـلـه شـي اا‌و د لانـدی پـه پښو وي هم مسح ماتيږی او
لاندينی موزه بيا مسح لازميږی ﴿شامی کراچي ص ۲۷۳ ج۱﴾

مسئله:

کـه د لانـدی تـاري مـوزه ﴿جـرابـه﴾ وه او سـر بيـره د څرمنـی موزه وه پـه
سربيره موزه مسح کول کفايت کوي ﴿شامی ص ۲۷۳ ج۱ عالمګيری﴾

مسئله:

کـه سـر بيـر نـه مـوزه د دريـو ګوتو په اندازه سوري وه مسح وربـاندي جواز نلري ﴿بدائع ص۱۱ ج۱، در مختار ص ۴۰ ج۱﴾

په موزو باندي مسح څه وخت باطليږي

مسئله:

کـه د مسـح په موده کښي موزه له پښې څخه و ايستله شي د مسح وخت ختم او مسح باطليږي .

مسئله:

کـه پـه نـا څاپـي تـوګه پښـه له موزې وخيژي او د پښې ډيره برخه پـه او بو لـمده شي مسح باطليږي د دواړو پښو مينځل ضروري دي کـه يوه پښـه له مـوزې څـخـه ختـلـي وه که دواړه توپير نلري که يې اودس وو يوازې پښې دي مـيـنځـي نـور اودس نـه تـازه کـوي غوره داده چې ټول اودس وکړي خو واجب او ضـرور نه دي

مسئله:

کـه غسـل واجيـږي بيـا هـم مسح بـاطـليـږي غسـل کول او پښې مينځل ضرور دي ﴿يعنى په جنابت حيض او نفاس سره مسح باطليږي﴾

مسئله:

کـه چا په بې اودسي کښي موزې په پښو کړې بيا يې اودس کولو په وخت کښي پښې و نه مينځلى او مسح يې وربـاندي وکړه باطل او بې اعـتبـاره ده تر څو يې پښې مينځلى بې اودسه دي

مسئله:

څوک چې موزې په پښو کوي مسح وربانديې روا وي خو اودس کولو په وخت کښې دمسح کولو په ځاى پښې و مينځي دا جائز ﴿بلکې غوره﴾ دي خو کـه د لمانځـه وخت تنګ وو او د موزو پـه ايستلو او د پښو پـه مينځلو يې لمونځ قضا کيده بيا روا نه ده نو اندامونه دى و مينځي او په موزو مسح وکړي .

مسئله:

کـه او بـه کمـي وي او د موزو پـه ايستلو وربانـدې ټول اندامونه مينځل کيدل او تيـم تـه اړ ايستـل کيـده بيـا دى پـه دې وربـاندى وکړي دا غوره ده ﴿طهور المسلمين ص ۲۷ کتاب الفقه ص ۲۳۲ ج ۱﴾

مسئله:

هر هغه شي مسح ماتوى کوم چې اودس ماتوى ځکه مسح د اوداسه خبره ده نـو هغـه څـه چـې د کـل نـا قـض ﴿ماتونکى﴾ دى د جز هم ماتونکى دى ورسـره د موزې ايستـل لـه يوې پښـې وي او د مسح د وخت پوره کيدل مسح ماتوي ﴿در مختار ص ۴۶ ج ۲﴾

مسئله:

لـه شرعي موزې څخه د پښـې د زياتى برخى وتل يا قصد ايستل د ټول موزې د ايستلو حکم لري قاعده ده ﴿للاکثر حکم الکل﴾

د پنډى د برني برخى وتلو او ننو تلو ته اعتبار نشته يعنى که موزه پراخه وه او د پنډى برني برخه ننو ته اعتبار نلري ﴿د پنډى د برنى برخى مطلب تر بيډيو د لاندى په پنده باندى برخه ده ﴿در مختار ص ۴۷ ج ۲﴾

مسئله:

د دواړه یا یوې موزې په ایستلو او د مسح د موزې په ختمیدلو مسح ماتیږی ﴿هدایه﴾ خو دا په هغه صورت کښې چې او به موندل کیږی که او به نه وی مسح نه ماتیږی او په هغه مسح لمونځ کیږی ان که بیا هم او به نه موندل کیدې لمونځ دې پسې کوی ﴿عالمګیری ص ٦٨ ج ١﴾

مسئله:

که موزه دومره پراخه وه چې که ګوتې ترې ننوزی او مسح وکړی جواز نلري .

مسئله:

که څوک د موزې په څنډه یا د ښپا ﴿پندۍ﴾ له لوري یا ترېیدیو له لوړ لوری په موزو مسح وکړي جائز نه ده ﴿کتاب الفقه ص ۲۲۴ ج ۱﴾

پرته له اودسه په موزو مسح کول

پوښتنه: که چا بې اودسه په پښو کړې د لمانځه وخت راغی اودس په دې مسئله کښې د فقه په کتابونو کښې د طهارت لفظ راغی دا په اوداسه د لالت کوي که د بدن پاکي د پښو ناولتیا بښئی؟

جواب: که څوک اودس و نکړي پښې ونه مینځی مسح ورباندي جواز نلري له طهارت څخه مقصد اودس دي دا یوه اتفاقي خبره ده ﴿فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۳ ج ۱﴾

مسئله:

د مسح لپاره دا ضروری ده چې موزې به په اوداسه په پښو شي وي فتاوی دارالعلوم ۲٦۸ ج ۱﴾

مسئله:
که په موزو باندي نجاست وو بیا هم ورباندي مسح صحیح ده خو لمونځ ورسره صحیح نه ده ﴿کتاب الفقه ص ۲۲۳ ج ۱﴾

که مقیم مسافر شو

مسئله:
که مقیم و موزو تر پښو کولو وروسته چې د مسح موده یې لا پوره شوې نه وه او مسافر شو داورته جائز ده چې د مسافر د مسح موده پوره کړې یعنی تر دریو ورځو او شپو په موزو مسح وکړي .

مسئله:
که مسافر د مسح د مودې تر پوره کیدلو وړاندې مقیم شو د مقیم د مسح کول جواز لري مثلاً که چا سهار اودس وکړ موزې یې په پښو کړې مازیګر کورته راغی نو یوه شپه او ورځ به پوره کوي ﴿مظاهر حق ص ۴۲۹ ج ۱﴾

مسئله:
که مقیم د مسح د مودې تر پوره کولو وروسته مسافر شو موزې دې وباسي اودس دې وکړي او که مسافر د مقیم د مسح تر مودې وروسته کورته راغی موزې دې وکاږي اودس دې وکړي او که د مقیم موده ﴿یوه شپه او ورځ﴾ پوره نه وه هغه دې بشپړه کړي دا ځکه هغه اودس مقیم حکم لري ﴿در مختار ص ۳۸ ج ۳﴾

مسئله:
د موزو شخص که اودس کولو په وخت کښې عذر نه وو او موزې په پښو

کړی نو د روغو کسانو په څیریی تر معلومی مودې ورته مسح جواز لري .

که اودس کولو په وخت یادیوی موزې د پښو کولو په وخت کښی ورتهعذاب پیدا شو نو د لمانځه په وخت کښی ورته مسح صحیح ده د وخت تر تیریدلو وروسته جواز نلري ﴿فتاوی عالمگیری ص ۴۷ ج۲﴾

مسئله:

که یوې موزې ته اوبه ورسیږی او تولـه پښه لـده کړې په دې صورت کښی مسح ماتیږی موزې به باسی او پښې به مینځی ﴿رکن دین ص ۲۶ او...﴾

مسئله:

که چا اودس وکړ او په گوتو لمدوالی پاته وو په هغوی یی د موزو مسح وکړه جواز لری خو که د سر مسح وکړه او د گوتو په پاته لمدوالی یی په هغې موزو مسح وکړه جواز نلري ﴿ منیة المصلی ص ۴۱﴾

په موزو باندی د

چا مسح صحیح ده

اول: د اودس کوونکی مسح صحیح ده که هغه سړی وی که میر من مقیم که مسافر په سي شرط چی ټول شرائط یی پوره وي .

دوهم؛ د غسل کوونکو مسح صحیح نه ده که سل فرض وي او که سنت په سنت غسل کښی هم پښې لمدیږی نو مسح نه پاته کیږی یو صورت دادي چی په سنت غسل کښی د غسل په وخت پښې لوړ ځای کښیږدی او دي کښینی له پښو پرته نور بدن و مینځی او په موزو مسح وکړی ﴿در

مختار﴾

دریم: څوک چې تمیم وهی په موزو ورته مسح جائز نه ده څلورم که کوم عذر نه وو د مقیم لپاره تر دریو شپو ورځو مسح جواز لري ﴿علم الفقه ص ۷۷ ج ۱﴾

په موزو باندي د مسح جواز شرائط

اول: په هغو موزو مسح کول جواز لري چې په پښو شي د پښو هغه برخه پټه کړی کومه چې په اوداسه کښیی مینځل فرض دی یعنی تر بیلهیو پوري که موزې د دریو وړو ګوتو تر اندازې پوري سوري او څیری وي څه مشکل نه جوړوی دوهم موزې به دموره زړې نه وي چې د مسح مانع وګرځی دریم: موزې به له پښو سره لګیدلی وې دومره به غټې نه وي چې له پښې څخه یې کومه برخه خالي وی که د غومره غټې وي بیا دي په هغه ځای مسح کیږی چې هلته پښه وي.

څلورم: د موزو څلور شرطونه به یې پوره وي یعنی

الف: دومره به پنډی وي چې پرته له تړلو پښو پسې ولاړی وي

با: دومره به کلکی وي چې درې میله تګ پکښې وشي

ج: دومره به پنډی وي چې ترې لاندی پښه ښکاره نشي

د: اوبه به نه ترې تیریږی

ه: د حدیث بې اودسي وړاندی به په بشپړ اودس پښو شوی وي که څه هم د پښو کولو په وخت کښی د اودس پوره نه وي یعنی که څوک لومړي پښې و مینځی موزې په پښو کړې بیا اودس جواز لري دا یې هغه حالت

د مسح سنتونه او مستحبات

۱:په لاس مسح کول ۲:د مسح کولو په وخت د ګوتو پرا نستل ۳:ګوتی په موزو ایښودل او بیا داسي راکاږل چی لندوالی نسی تري پاته شي ۴:مسح د پښو د ګوتو له لوري پیل کول او بیډیو لور ته کشول ۵: مسح له ګوتو تر بیډیو کول ۶:په دواړو یو ځای مسح کول ۷:په ښي لاس ښی موزه او په کیڼ لاس کینه موزه مسح کول ۸: د لاس د ورغوی په لور مسح کول نه د ګوتو په شا

د مسح مسنونه او مستحبه طریقه

مسئله:

ددواړو لاسونو ګوتی په غیر مستعملو اوبو لمدول د ښی لاس ګوتی غوړول او په ښی موزه ایښودل د کیڼ لاس ګوتی په کینه موزه ایښودل او بیا د ګوتو د بیډیو لور ته راکاږه چی په وزو باندی د لمدوالی نښی پاته شي

مسئله:

مسح په سربیرنه برخه کیږی نه د تلی په لور ﴿علم الفقه ص۷۸ ج۱﴾

مسح څه وخت واجب ده

مسئله:

که له چا سره دومره اوبه وی چی له پښو پرته نور اندامونه ورباندی مینځل کیدل نو په موزو باندی مسح واجب ده

مسئله:

که څوک په خوف ﴿یره﴾ کښی وو او د پښو په مینځلو ورباندی وخت تیریده یا که د موزو په کښلو او د پښو په مینځلو د عرفات دریدل ورځخه تیریدل ورباندی واجب ده چی موزې و نه باسی او ورباندی مسح و کړی

مسئله:

که د موزې نه کولو په صورت کښی ورباندی د خارجی یا رافضی اتکل کیده ورباندی واجب ده چی په موزو مسح وکړی

مسئله:

د موزو ایستلو پرته د پښو مینځل گناه ده ﴿علم الفقه ص۷۷ ج۱﴾

هغه شیان چي ورباندی مسح صحیح نه ده

۱: هغه موزې چي شرائط یی پوره نه وي مثلاً داسي موزې چی د پښي تول هغه برخه یی نه وي پوښلی کومه چی مینځل یی فرض دي ددریو گوتو په اندازه پښه ترې ښکاري یا دومره زړې وې چي د مسح مانع وي یا یی مخته یاد شوی څلور شرطونه نه وي پوره یا په بشپړ اودس په پښو شوی نه وي مثلاً تمیم یی وهلی وي .

نن چي کومی تاری وړینی یا نائلونی موزې ﴿جرابي﴾ معمول دي په هغوی مسح نه کیږی ځکه د مسح شرائط پوره نلري همداسی د فلز ښیښی یا لرگي په موزو مسح نه کیږی ځکه په هغوی کښی تګ ستونز

من وي ﴿علم الفقه ص ۷۵ ج ۱﴾
۲: که دوه جوړې موزې ﴿جرابې﴾ په پښو شوي په لاندينو مسح کيږي په پورتنيو روا نه ده ۳: که لانديني داسي موزې ﴿جرابې﴾ په پښو شي چې د مسح شرائط يې پوره نه وي نو په پورتنيو مسح جائز نه ده.
۴: که د موزو د مسح موده ختميږي د پښو له مينځلو پرته بيا ورباندې مسح جائز ه ده.
۵: که د سکتکشونه ﴿لاس پوښي﴾ په لاس وي د لاس په عوض مسح ورباندې جايز نه ده.
٦: د سر په بدل په عمامه ﴿پګړۍ﴾ مسح جواز نلري.
۷: که غبرګې موزې ﴿جرابې﴾ په پښو شوي وي پورتنۍ د مسح شرائط ولري نو بيا لاس ترې دننه کول او په لاندينو مسح کول جواز نلري که هغه شرائط پوره لري او که نه.
۸: که تاري موزې ﴿جرابې﴾ په پښو وي خو شرائط يې برابر نه وو او ورباندې دومره څرمن يي وکړه چې يوازې په لانديني برخه کښې په ځمکه لګيدله بيا هم ورباندې مسح جواز نلري ﴿علم الفقه ص۷٦ ج ۱﴾

هغه شيان چې مسح ورباندې صحيح ده

۱: په موزو باندې مسح جواز لري په دې شرط چې د مسح شرايط پکښې پوره وي که هغه د څرمنې وي د تاروي او که د بل شي شرائط پوره کيدل يې ضروري دي.
۲: په بوټونو باندې مسح کول جائز دي خو په دې شرط چې پښې يې له

بيـډيـو سره پوښلې وي او داسې تړل شوې وي چې پښه دورمه ترې ښکاره نشي چې د مسح مانع وي .

۳: کـه پـه موزو ﴿جرابـو﴾ د پاسه نورې په پښو په برنيو مد ح کول جواز لري خو چې د مسح شرائط يې پوره وي که د لاندينو د مسح شرائط پوره وي او که نه وي خو چې سربيرني په اودس پښو شوي وي .

۴: کـه د لانـدينې داسې موزې ﴿جرابې﴾ په پښو شي د مسح د جواز شرائط يې پوره وي او سربيره داسې چې شرائط پکښې پوره نه وي په بر سيرينو مسـح صـحيـح ده خـو چې دومره نرې وي چې او به تير يرلاى شي په اصـل کښې دا مسح په لاندينو باندې ده

۵:کـه مـوزې دومـره ورې وي چې بيـډې پکښې نه پټيـدلې او بله ټوټه يې وربانـدې وګنډله مسح وربانـدې جائز ده .

٦: پـه زخـم باندې په پټې مسح کول هغه درې صورتونه لري چې د معذور پـه اودس کښـې بيانيږي خوُ د موزو او د پټې د مسح تر مينځ تو پير دادې چې پـه مـوزو مسـح کول د دريو ګوتو په اندازه کيږي خو د پټې يا پلستر پـه ټوله سطحه يا يې په ډيره برخه کيږي .

د مسح د باطليدلو صورتونه

۱: پـه کـومو شيانو چې اودس ماتيږي په هغـوى مسـح هم ماتيږي بيا مسـح کـولـو تـه اړتيـا پيـښيـږي د مـعـذور شـخـص چې د وخت په تيريدلو اودس مـاتيـږي مسـح يـې هـم مـاتيږي معذور به هم پښې مينځي يا به موزې په پښو کوي .

۲: کـه مـوزه لـه پښـې و خيـږي او يا د پښې ډيره برخه له موزې و خيژي که

هغـه قـصـد وي او كـه بـې ارادې مسح باطليږي موزې به كاږې او پښې به مينځې .

۳: كـه مـوزه داسـي خيـرى شـي چې كه تر بيلړې لاندى وي او د تګ پـه وخت كښـې د پښـې هغـه بـرخـه ډيـره ترې ښكاره كيـږي يا د ګوتو خوا ته دومره خيـرى وه چې انـدازه يـې دريـو ګـوتو ته رسيدله يا دواړه ځايونه سوري وو چې د تګ په وخت كښې ددريو ګوتو په اندازه پښه ترې ځر ګنديدله مسح باطليږي پښې به مينځې .

كه موزه څو ځايه خيرى وه خو هر ځاى تر دريو ګوتو كمه اندازه وه خو ټول خيـرى ځـايـونـه د دريـو ګـوتـو اندازى ته رسيدل بيا هم مسح باطليږي خو شـرط داده چې دا خيرى ځايونه به په يوه موزه كښې وي كه په دواړو كښې دومـره خيـرى ځايونه وو چې د دريو ګوتو اندازه يې پوره كوله بيا مسح نه بـاطـلـيـږى كـه خـواږ واړه سـوري په موزو كښې وو داسـي چې پنډ تـارونـه تيريدل اعتبار نلري كه څه هم ډير وي كه موزې خيرى وي خو تګ پـه وخت كښـې د دريـو ګـوتو په اندازه پښه نه ترې ښكاره كيدله مسح نه بـاطـلـوى كـه دا خيرى ځاى زيات هم وي خو شرط پكښې د پښې د ځرګند تيا اندازه ده .

۴: كـه د پښـې زيـاتـه برخه لمده شي په دې صورت كښې به موزې كاږې او پښـې بـه مينـځـي كـه د مسـح مـوده تيـره شـوه موزې به باسى او پښې به مينـځـې خـو كـه يـخـنـي ډيره وه چې كه موزې وباسى او تودې او به نه وي پښـو تـه زيـان رسيـده بيـا دى نـوره هـم ورباندى مسح كوي او هغه تر داي وختـه چې دا ويره يې لري شي خو دا مسح د پټې د مسح په څير ده يعنى په

نو نه موزه به مسح کیږي معنی دا چې په کثره برخه به مسح کوي او موزه به د جبیرې په ځای وي .

یو تن که د یوې موزې مسح باطله شوه د بلې نه هم باطله شوه د دې جوړ نه دي چې یوه پښه د مینځه شي او د بلې په موزه مسح وشي مثلاً یوه موزه ترې کوټې ځیرې شي نو دا به کړي یوه پښه نمده شوه نو ترې به وینځي (شمه تفقه ص ۱۰ ج ۱)

که د چا پښې زخم وي

مسئله:

که د چا یوه پښه زخم وه او په هغې یې پټی تړلی وه او اودس یې وکړو پټی یې مسح وکړه او یوه موزه یې په پښو کړه په دې صورت کښې په یوه موزه مسح کول جواز نلري خو که یې په پټی مسح وکړه او نو نورې موزې یې په پښو کړې بیا ور باندې مسح جواز لري (محیط سرخسي)

مسئله:

که د چا پښه زخم وه پښې یې ووینځلې او موزې یې په پښو کړې اودس یې مات شو او په موزو یې مسح وکړه هملته یې څو لمونځونه وکړل بیا یې موزې وایستلې معلومه شوه چې زخم بهیدلی دی او وینه ترې راغلې ده خو معلومه نه وه چې څه وخت بهیدلې ده که د زخم سر وچ وو نو دې شخص موزې سهار په پښو کړې وې نو د سهار لمونځ به نه راګرځوي او نور به راګرځوي

مسئله:

که د زخم سر په وینو وو بیا دې کوم لمونځ نه راګرځوي (محیط)

مسئله:

کـه چـا پـه زخم پټی کښیښو ده پټی لنده شوه او دالندوالی یی بهر راووتی او دس یی مـاتیږی خو که لندوالی بهر نه و راوتلی اودس نه ماتیږ فتاوی عالمګیری ﴾

مسئله:

کـه پـټی غبـر که وه څه لمدوالی ترې راووت اوله څه برخی راوتلی نه وو بیا هم اودس ماتیږی ﴿تاتار خانیه عـالمګیرؒ ص۷۰ ج۱﴾

مسئله:

کـه د چـا پـه موزو بل شخص مسح وکړه جائز ده ﴿محیط عالمګیری ص ۷۰ ج۸﴾

په یوه موزه مسح کول

مسئله:

دا جـواز نـلـري چی په یوه پښـه موزه په پښو کړې او مسـح وربانـدی وکړی او بلـه پښـه ومینځی که یوه پښه و مینځی د بلی مینځل لازم دي خو دا د پـټـی خلاف دي که یو لاس یا پښـه جبیره ﴿پـټی پلسـتر﴾ ولري هغه مسح کړې د بل لاس یا پښې مینځل جائز څه چی فرض او ضر وري دي .

مسئله:

کـه څـوک مـوزې په پښو کړې او منظمه مسحه وربانـدی کوي به پاکی او طهـارت کښـی داسـي دي لـکـه د صـحـیـح اودس څښتـن چی پښـې یـی مینځلی وي

مسئله:

که مسح کوونکي امام وو او متقدي پښې مینځلي وی کوم حرج نشته او لمونځ يی بې شهبی صحيح دي ﴿طهور المسلمين ص ۳۷﴾

دموزې دخیرې والی اندازه

مسئله:

په موزه کښې يوه ضروري خبره داده چې هغه به ډيره خیرې نه وي د ډير والی اندازه يی د پښو ددريو وړو ګوتو اندازه ده او دا صحیح ده ﴿هدايه﴾

مسئله:

دا هم چې د دريو ګوتو په اندازه خیرې والی ښکاره وي که هغه خیرې والی د موزې په بهرنی يا کښتنی خوا کښې وي او يا د شالور ته وي د مسح مانع ده ﴿محيط السرخسی﴾

مسئله:

که په موزه کښې د ساق ﴿تر بيږی لوړ﴾ خیرې والی وی د مسح مانع ده خلاصه

مسئله:

وړو ګوتو ته هغه مهال اعتبار دي چې له ګوتو ها خوا کوم بل ځای خیرې شي او هغه د دريو ګوتو اندازه يی ددريو وړو ګوتو اندزاه وي که د بټې ګوتې او دغومره نوره اندازه خیرې شي اندازه يی ددريو وړو ګوتو اندازه واوړی مسح وربانديکيږی .

مسئله:

که د بټې ګوتي او دوو نورو ګوتو په اندازه موزه خیرې شي مسح وربانديي نه کیږی ځکه اندازه يی تر دريو وړو ګوتو اوړی

مسئله:
که د چا ګوتی پرې شوی وي د موزو د ځیری والی اندازه د بل چا د ګوتو په اندازه اټکل کیږی ﴿جوهر نیره﴾

مسئله:
که په یوه موزه ښی بیل بیل سوري وی هغه سره جمع کیږی خو که په دواړه موزو کښی سوري وي هغه سره جمع کیږی مثلاً که په یوه موزه کښی د یوې او په بله کښی ددوه ګوتو په اندازه سوری وي نه سره جمع کیږی او مسح وربان‌دی جائز ده؟

مسئله:
که په یوه موزه کښی یوه ګوته سوري په وړاندینی برخه کښی وو دیوې ګوتی په اندازه شاته دیوې ګوتی په اندازه اړ خ وو ته مسح وربانديي نه کیږی ﴿محیط﴾

مسئله:
که هغه سوری سره یو ځای شي او د ستني سپم غوندی شی یا تر هغه هم واړه وي اعتبار نلري

مسئله:
هغه سوری اعتبار لري چی پراخ وي دننه پښه ترې ځرګنده شي یا د حرکت په وخت کښی پښه ښکاری او په ولاړه کښی بند وي خو که دننه ترې څه نه ښکاره کیدل هغه اعتبار نلري او مسح وربانديي جائز ده .

مسئله:
که موزه د څرمنی جرابی یا جاروق ﴿یو ډول موزې دي (﴾ د پښو په

پورتني برخه کښې پرانیستل کیدلی ﴿ځینځیري درلود﴾ خو پښه یې پټوله د هغوی حکم د بند په څیر دي خو که ډیره برخه خلاصیدله د موزې د سوریو حکم لري ﴿فتاوی عالمګیری ٦٧ ج ۱ د زاهدی په حواله﴾

مسئله:

د موزې څیری والی لاندی باندی بیا اړ خ ته اعتبار لري که موزې ستري وي او تر بیډیو لوړی څیری وي د مسح مانع نه ده ځکه شرط تر بیډیو پوری ده .

د مسح په هکله

څو مهمی مسئلې

مسئله:

موزه که د پښو د دریو ګوتو په اندازه څیری او سوری وه مسح وربانديي جواز نلري .

مسئله:

په موزه کی که دومره واړه واړه ځایونه سوری وه چی سره یو ځای شي د دریو ګوتو اندازه یی پوره کوله مسح وربانډی نا جائز ده خو که دا سوری په دواړو کښې دومره شول چی درې ګوتې کیدلې بیا مسح وربانډي جواز لري

مسئله:

په کومو شیانو چی اودس ماتیږی په هغوی مسح هم ماتیږی

مسئله:

که د مسح موده تیره شوه مسح باطلیږی خو که هوا ډیره سړه وه بیا نه

باطلیږی تر هغه مسح کولای شي تر څو یې ویره لیری کیږی .

مسئله:

کــه د مـوزو د مسـح مـوده پـوره شـوه خـو د شـخـص اودس وو پښـې دي و مینځي نور اودس ضرور نه دي ﴿مظاهر حق ص ۴٦٩ ج۱﴾

مسئله:

چا چی د اودس په ځای تمیم وهلی وو هغه ته په موزو مسح صحیح نه ده

مسئله:

چاتـه چـی د مـوزو تر پښو کولو وړاندی یا وروسته جنابت ورسیده د هغه لپـاره په موزه مسح صحیح نه ده خو که یی د جنابت لپاره تمیم او د حدث لپـاره اودس وکـړ او پښـې یی و مینځی بیا یی په موزو مسح جائزه ده خو کـه یـی اوبـه و مـونـدلې بیـا نـاپاکـه او غسل بـه کوي پښې بـه مینځی ﴿مضرات﴾

مسئله:

کـه جنـوب سړی غسـل وکړی خو بدن یوه برخه یی ناپاکه پاته شوه موزې یی پښو کړی او بیا یی هغه ځای و مینځه په موزو یی مسح رواه ده

مسئله:

کـه پـه اودس کښـې کـوم ځـای وچ پـاتـه شـو د هغـه تر مینځلو وړاندی یی اودس مـات شـو پـه پښو شویو موزو یی مسح جائز نه ده ﴿عـالمګیری ص ٦٦ ج۱﴾

مسئله:

کـه یـوه مـوزه وباسـی یـا پـه خپلـه و خیژی بلـه بـه هم کاږی او پښې بـه

مینځی

مسئله:

کـه د مسح موده پوره شوه باطلیږی کـه یی اودس وو موزې دي وباسي پښې دي ومینځی داودس کول ورته ضرورت نه دي خو که اودس مات وو بیا دي ټول اودس هم وکړی

مسئله:

کـه تر مسح کولو وروسته موزې ته اوبه ورغلې پښه تر نیمه زیاته لمده شوه دواړه موزې دي بیرته پښې دي و مینځی ټول اودس ضرور دي ﴿بهشتی زیور ص ۷۳ ج۱﴾

مسئله:

که په چا باندی غسل واجب شو موزې دي و باسي غسل دي وکړی .

مسئله:

کـه پرته له اودس څخه موزې مسح ورباندی جواز نلري کـه یی پوره اودس وکړ پښې یی و مینځلې او موزې یی په پښو کړې بیا ورباندي مسح جائز ده .

که په موزو باندی مسح هیره شوه

مسئله:

کـه لـه چا څخه په موزه باندی مسح هیره شوه بیا باران و شو او موزې یی ددریو ګوتو پـه اندازه لـمدې کـړیـوابنـه د باران یا شبنم پـه اوبو لوندوو وربـانـدی تیـر کـړ مسح یـی وشـوه ﴿رکـن دین صفحه ۲۵ د عالمګیری په

جوال﴾
یادونه: که مسح هیره شي اودس نه بشپړیږي او چې اودس نیمګړی وي لمونځ نه کیږي همداسي که د مسح شرائط پوره نه وي مسح نه کیږي او بیا لمونځ هم نه کیږي ﴿محمد رفعت قاسمی﴾

دموزو په مسح کښي

غولوږ مه کوی

په پښو باندی مسح کول ضروري دی اوس د کم عقل خاوند دا فکر نه کوي چې دلته نو خاص په پښو باندی مسح جایز ده بلکې هر څوک پوهیږي چې په موزو باندی د مسح کولو حکم دی ځکه چې د موزو د مسح یادونه و شي نو هغه وخت به ورباندی مسح کوی چې په پښو وي همدا په عام عرف کښي په پښو مسح بلل کیږي .
همداسي اصطلاح بل ځای وي مثلاً په سریې داسي ووهی چې مات شي دلته مطلب دانه دی چې په لوڅ سر یې ووهی له همداسی محاورې سره برابر ډیر احادیث راغلی دي چې رسول الله ﷺ په پښو مسح وکړه علیؓ په پښو مسح وکړه .
یوه اهل تشیع په چالاکی سره یوه رساله لیکلې وه پکښي لیکلي یې وو چې ما د اهل سنت والجماعت له معتبر و کتابو نو څخه په او داسه کښي په پښو مسح کول ثابت کړی دی .
د امام بخاري او مسلم روایتونه یې رانقل کړی وو په هغوی کښي یې د رسول الله ﷺ علیؓ او نورو صحابه د او داسه کیفیت را نقل کړی وو بیا یې وویلی وو چې رسول الله په پښو مسح کوله .

بې خبره سني حضرات حيران شول د خپل مذهب معتبر كتابونو نومونه يې وليدل چې پکښې د رسول الله ﷺ او صحابه و په پښو مسح كولو بيان يې پكښې وليد .
هغوی نه پوهيدل چې دلته د موزو د پښو كيدلو حالت ياد شوی دی ﴿طهور المسلمين ص۳۸﴾

يادونه:
دا پوهان نو بايد داسي هم پوه شي كه موزې په صندوق يا بل ځای ايښی وي په پښو نه وي نو مسح وربانډی كافی ځكه په روايتونو كښی د پښو يادونه شوی دي يوازی موزې شوی دی ﴿محمد رفعت﴾

مسئله:
مسح علی الخفين له ډيرو صحابه وو څخه رانقل شوی دي خو په ټولو كښی علماؤو د حضرت جرير ﴿رض﴾ روايت ته اهميت وركړی دي .
جرير د مائدې په سورت كښی د اودس كولو د آيت تر نزول وروسته مسلمان شوی وو چی مطلب پكښی دادي چی ددې آيت تر نزول وروسته رسول الله په موزو بانډي مسح كړی ده او جرير ﴿رض﴾ ليدلی دي له همدې امله په دې روايت د روافضو كيږی چی مسح علی الخفين د او داسه په آيت سره منسو خ كښي . په هر حال په مسح علی الخفين بانډی اجماع شوې ده له همدې امله په مسح علی الخفين بانډی قائل كيدل د اهل سنت والجماعة نښه ده بلكی تن سبا خو د اهل سنت والجماعت شعار دي ﴿درس تر مذی ص ۲۳۹ ج۱﴾ د بحر په حواله﴾

مسئله:

کـه کـوم فـلـج مـعـذور مـوزې پښـو کړې وی ورتـه د تمیم ضرورت شو د اودس کـولـو ورسـره څـوک نـه وو تودې او به نه وي نو له دې کبله یی تمیم واهه د موزو د اسیتلو اړتیا یی نشته .
په در مـخـتـار کښـی د تمیم د جواز لپاره یاد شوی دی ﴿اوم یجد من یوضه فـان وجـد ولـو بـاجـر مثـل وله ذلک لا یتیم الخ﴾ فتاوی دارالعلوم بحواله الدر مختار ص ۲۱۵ ج ۱ اول باب التمیم﴾

په پټی د مسح کولو دلیل

مسئله:
پـه جبیـرة ﴿پـټـی پـلسـتـر او نـور﴾ باندی د مسح د جواز دلیل دادي چی د عـلـیؓ د لاس هـډوکی د احد که د خیبر په جرګه کښی مات شوی وُو رسول اللهؐ علیؓ ته په لاس باندی د پټی د مسح کولو حکم ورکړ .

مسئله:
امـام اعـظـم رحـمـه الله لومړی په جبیره باندی مسح واجب بلله خو وروسته یـی د صـاحبیـنـو پـه څیـر د هـغـې پـه فـرض بـللو قایل شو ﴿در مختار ص ۴۸ ج ۳﴾

د جبري تعریف

د فقهاوو په اصطلا ح هغی ته ویل کیږی چی د ناروغ په کوم غړی باندی تړله شوی وی یا هغه دوا چی ورباندی وهله شوی وي دبندو لو لپاره یی دا شـرائـط نـه ده چی هغه په لرګیو لښتو تړل شوی وي ﴿ کواکی پلاستر او بنداژ ټول پکښی شامل دي﴾
دا هـم شـرط نه دي چی د پټی لپاره د غړی مات والی ضروری دي نه د پټی

حکم هغه وخت لري چې هغه ته ناروغی رسیدلې وي که هغه زخم وي ماتوالی وي یا د هډوکی درد وي .
لنډه دا چې د فقهاوو په اصطلاح جبیره هغې ته ویله کیږي چې دکوم مرض یا زخم له امله په اندام تړله شوی وي یا دوا ورباندي وهله شوي وي نو که اوبه ورباندي نشي استعمالوي ورباندي مسح کول فرض دي .
نو که مکلف انسان په داسې غړي چې په اودس یا غسل کښي یې مینځل فرض وي کومه پټی ﴿پلستر یا بل څه﴾ وتړي یا ورباندي دوا ووهي او مینځل ورته زیان وي مسح ورباندي فرض ده په داسې حال کښې دوا هم د پټی حکم لري که دوا ته مسح کول هم زیان رساوو سربیره دي ورباندي پټی او مسح دي کړي که کوم ځای ته اوبه زیانمنی وی نو په هغه ځای مسح کول فرض دی که مسح هم ورته زیان رساوو پټی دی ورباندي وپیچی او مسح دي کړي کتاب الفقه ص ۲۶۷ ج ۱﴾

په پټی او پلستر د مسح مطلب

مسئله:

که کوم ځای مات شوی وی یا زخمي وي په اصل کښي د هغه ځای مینځل لازم دی په ځای یې مسح کیږي خو که مسح کولو هم ورته زیان رساوو نو ددې ورباندي پټی و تړي او مسح دي ورباندي وکړي که په پټی باندي هم مسح ورته نقصان رساوو نو ترې ساقطیږي یعنی نه یې مینځل لازم دي او نه هم مسح کول ﴿در مختار ص ۵۰ ج ۲﴾

مسئله:

د پټی په زیاته برخه مسح وکل کافي دي د ټولی ځای نیسی

مسئله:

په پټی باندی د مسح کولو نیت شرط نه دي

مسئله:

په پټی باندی مسح کول نه په ټوله پټی شرط دي او نه څو واره مسح کول ﴿در مختار ص ۵۱ ج۲﴾

مسئله:

په مات شوی غړی لرګی ﴿ یا پلستر یا بل څه﴾ تړل د زخم پټی پلستر داغ دوینی د کښلو ځای یا نور زخمی ځایونه مسح کول د هغوی د مینځلو حکم لري ﴿در مختار ص ۳۸ ج۲ باب المسح علی الخفین﴾

په پلستر باندی مسح صورتاً ده

یو په موزه باندی مسح ده هغه په حقیقت کښی مسح ده بل په جبیره ﴿پټی﴾ مسح ده هغه صورتا مسح ده په حقیقت کښی هغه د مینځلو په حکم کښی دي په دی دوو مسحو کښی توپیر شته د جبیری مسح حکما مسح نه ده دا مسح له مینځلو سره یو ځای کیدلای شی که یوه پښه زخمی وه په هغی مسح کیږی او بله مینځله کیږی دا صورت صحیح دی خو داسی جواز نلري چی یوه موزه و باسي او هغه پښه و مینځی او په بله مسح وکړی . . ﴿در مختار ص ۴۹ ج۲﴾

په زخم باندی د مسح شرطونه

مسئله:

په ټوله پټی باندی مسح کول شرط نه دی په اکثر برخه باندی مسح کافی ده مثلا که زخم په ټول لاس باندي وي هغه پټی اینبی وي که د هغې تر

نيمی په زياته برخه مسح وشی نو کافی ده .
که پـټـې تـر خـوږ ځـای زيـاته تېر له شوی وي نو دوه صورته دی يا به د پټی
پـرانستـل ورتـه زيـانـمـن وي او يا بـه نـه وي کـه يی زيان نـه درلود نو پر
انستـل يـې واجـب دي او کـه تـرې لانـدی بـرخـه ضـرر نه درلود مينځل يی
ضـرور دي کـه يـی ميـنځل خوږ ځای ته زيان رساوو نو په خوږمن ځای به
مسـح کـوي او روغ ځـای بـه ميـنځـی کـه مسـح کولو بيا هم زيان درلود
روغـه برخه دي و مينځی که د پټی پرانستل خوږمن ځای ته زيان رساوو
پـه پـټـې سـربيره دي مسـح کوي پټی دی نه پرا نيزی که څه هم ترې لاندی
مينځل يا مسح کول امکان ولری په همداسی حالت کښی په پټی په ډيره
برخه مسح وشي کافی دی ﴿کتاب الفقه ص ۲۷۰ ج ۱﴾

ايا په خوږ ځای مسح کيږی که په ټول اندام

پـوښتنه: که د کوم اندام يوه برخه يا ټول زخم وو مثلاً پښـه نو په ټوله پښه
بـه مسـح کيـږی او کـه يـوازی پـه هـغـی بـرخه چی خوږ ده که په ټوله پښه
مسـح وشـی لـمـونـځ صـحيح دی؟ څوک وايی چی مسح يوازی د پټی په
برخه کيږی نور مينځل کيږی .

جـواب: پـه ټـولو صورتونو کښی مسـح په هغې برخه کيږی کوم چی زخم
وي او روغـه بـرخـه ميـنځل کيږی خو که د روغی برخی او به په خوږ ځای
راتـلی او زيان يی ورته رساوو بيا په ټوله حصه مسح کول صحيح دي که
د روغـی بـرخـی او بـو نـقـصـان نه رساوو نو د هغه شخص خبره ده سمه ده
خوږ ځای به مسح کوی اوروغ ځای به مينځی که د پټی په مينځ کښی

کمه حصه لوڅه وه وربانـدې مسح دي کوی تر پټی لاندی که څه کمه برخه روغه وه مسح وربانډی صحیح ده،نوره عضوه به مینځی ﴿فتاوی دارالعلوم ج۱ ددرمختار په حواله﴾

که په لاس پښو زخم وو مسح به څه ډول کوي؟

پوښتنـه: کـه پـه لاس او پښـه زخمونـه وو او اوبو زیان رساوو مسح به څرنګه وی که پټی تر زخم زیاته وه یا غسـل ته اړتیا وه څرنګه به یی کوي

جواب: کـه پـه میـنځلو کښی د زیان اندیښنه وه مسح دي وکړی په مسح کښی دي وربانډی لوند لاس تیر کړی

لـومړی خو دا حکـم دي چی کـه پـه زخم باندی لـه پټی پرتـه مسح کول زیانمن نه وو مسح دي کړی که څه هم ځینی ځایونه یی مسح پاته شی که زخـم تـه لـونـد لاس زیـان رسـاوو پـه پټی دی مسح وکړی خوا او شا که څه ځای پاته شی کوم درج پکښی نشته لاس دی په ټوله برخه تیروی که څه هم لـه ځیـنـو برخـو سره اوبه نه لګیدلې همدا مسح صحیح ده له پټی تر زخـم زیاته وه او ټوله پټی مسح شوه صحیح ده که د غسل اړتیا وه په زخم دي مسـح وکـړی او نـور بـدن و میـنځی ﴿فتاوی دارالعلوم ص ۲۹۷ ج۱ در المختار په حواله﴾

مسئله:

کـه پـه ذخـم یا پـټی هم مسح نشوای کیدلای بیا تمیم صحیح دی النووی دارالعلوم ص ۲۴۶ ج۱﴾

د زخم په مسح کولو کښې

سړی او میرمن سره برابر دي

مسئله:

په پټي باندې د مسح او ورسره ړوند مسئلو کښې سړې میرمنې څوک چې بې اودسه وی یا غسل وربانډې لازم وی سره برابر دي یعنی دا مسئلې د ټولو دا مسئلې د ټولو معذورانو لپاره دي

په جبیره باندې د مسح

کوونکی امامت

مسئله:

د جبیرې ﴿پټی پلستر د زخم کالی﴾ لپاره د مسح وخت مقرر شوی نه دی ځکه دا مسح د مینځلو په ځای ده تر دې چې په جبیره باندې د مسح کوونکی امامت د روغو کسانو لپاره صحیح دی او د عذر ختمېدل نه دی ﴿در مختار ص۵۰ ج۲﴾ ﴿طهور المسلین، کتاب الفقه﴾

د زخم د روغوالی په حالت

کښې د مسح حکم

مسئله:

که پټی د زخم د روغتیا له کبله ولوید له په خپله مسح باطلیږی او که زخم روغ نه وو او پټی ولویدله بیا مسح نه باطلیږی خو موزه که په هر دول له پښې و خیږی مسح باطلیږی که پټی په لمانځه کښې د روغوالی

له امله ولویدله لمونځ به راګر څوی او که د پټی لویدل مضروو مسح نه باطلیږی ﴿در مختار ص۵۱ ج۲﴾

مسئله:

که ناروغ پټی بدله کړه یا بر سیرنه پټی ولویدله په دوهمه پټی مسح کول واجب نه ده البته مستحب ده ﴿در مختار ص۴۹ ج۲﴾

مسئله:

که زخم روغ نه وو او پټی ولویدله که په لمانځه کښی وه که بهر مسح یی نه باطلیږی .

مسئله:

که په لمانځه کښی د زخم د روغوالی له امله پټی ولویدله او د وروستنی د تشهد د لوستلو تر اندازې وړاندی ولویدله لمونځ ونه شو په دې صورت کښی به پټی ځای مینځی او لمونځ به دوهم ځلی کوی خو که په وروستنی قعده کښی د تشهد د لوستلو تر اندازې کښینا ستلو وروسته ولویدله نو د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله رایه دا ده چی لمونځ یی ونشو خو صاحبین رحمهما الله وایی چی لمونځ وشو ځکه دا مهال لمونځ ختم شوی دی او پټی وروسته لویدلې ده ﴿کتاب الفقه ص ۲۷۲ ج ۱ عالمګیری ص۶۹ ج۱﴾ خو په دې موضوع کښی فتوی د صاحبینو په قول ده ﴿عالمګیری ص۱۷ ج۱﴾

په جبیره باندی د مسح لپاره اودس ضرور نه دي

مسئله:

په جبیره ﴿پټی پلستر﴾ یا په زخم باندی په کومه ټوټه مسح کول د لاندینی برخی له مینځلو سره برابر دي د هغه بدل نه دي آن که په یوه پښه پټی وه هغه مسح کیږی او بله پښه مینځل کیږی ددې مسح لپاره کومه موده معلومه نه ده او نه دا فرق لری چی پټی په اودس تړلی شوی ده او که په بې اودسه حالت کښی .

مسئله:

په کوچنی او ستره بې اودسی کښی په جبیره ﴿پټی پلستر﴾ مسح کیدلای شي ﴿کوچنی حدث بې اودسی او له ستری بې اودسی څخه مطلب غسل لازم والی دي

له دې مسح کښی یو ځل په اتفاقی خبره سره نیت شرط نه دي ﴿بحر الرائق﴾

مسئله:

مسح یو ځل کفایت کوي او دا صحیح ده ﴿محیط﴾

مسئله:

پښې مینځل او مسح کول نه سره یو ځای کیږی ﴿کافی فتاوی عالمکیری ص ٦٩ ج ١﴾

په زخمی نو کانو مسح کول

مسئله:

که نوک مات یا زخموي او دوا ورباندی کښیښنودل شي که هغه ترې لیری کیږی نو زیانمن وي مسح دی ورباندی کړی که مسح هم ورته زیان رساوو پرې دې ایږدی د زخمی اندامونو په هکله هم که ممکن وو

او به دی وربانـدی و بهـوې او کـه نـه مسـح دی کـړی او که هغه زیان ورته رساوو پرې دی ایږدی خو روغه برخه دی و مینځی .

مسئله:

کـه د چـا کـوتـه زخـم وه پـه هغې یی ملهم کښیښوول او هغه تر زخم زیاته برخه ونیـولـه له اودس کولو په وخت کښی که په ټوله پټی مسح وکړی جائز ده ﴿عالمګیری﴾

پـوښتنه: که چا په کوم خوږ من ځای پلستر لګولی وي که یی په اودس یا غسـل کښـی وارِوی کوم زیان نلري خو کومه دوا چی یی لګولی ده هغه د پـلستر په اړولو لیری کیږی یا بیا د پلستر نه موندل کیږی یا یی بیه لوړه ده نو په داسي صورتونه کښی د هغه اندام مینځل ضروری دي او دې ادبی لوړوالی کوم چا او اندازه لري .

جـواب: ددرمـختـار د لومړی توک په ۲٦ مخ کښـی راځی چی که د پلـستک خلاصـول زخـم تـه زیـان رسـاوو نو پرانستـل یی ضروری نه دی وربـاندی مسـح کـول کـفـایت کـوي او هـغـه پلسـتر د جبیری ﴿پټی﴾ حکم لری که لیـری کول زیانمن نه وو قیمت یی هم لوړ نه وي خو تش لاسی وی بیا هم وربـاندی مسـح جواز لري ﴿احسن الفاوی،عالمګیری﴾

که پټی تر مسح وروسته واوښتله

پـوښتـنه:چا د زخم په پټی مسح وکړه او هغه واوښتله بله پټی یی ورکړه ایا بیا مسح وربـاندی کیږئ .

جـواب:د پـټـی پـه لویدلو سره مسح نه باطلیږی خو که زخم جوړ شوی وو نـو مسـح مـاتـیـږی او دهـغـه ځای میـنځـل ضروری دي ﴿احسن الفتاوی ص

۶۳ ج۲﴾ رد المحتار په حواله﴿

مسئله:

که سر بیرنه پټی واو ښتله په لاندینی باندی بیا مسح ضروری نه ده خو مستحب ده ﴿تیر ماخذ﴾

پوښتنه: که د چامخ باندی ټپ وو ملهم یی ورباندی کښیښودل ورباندی ټوټه یی ولګوله داودس کولو په وخت کښی به هغه ټوټه لیری کوي او که به په هغې مسح کوي

جواب: که زخم ته اوبو زیان رساوو او د ټوټې لیری کول تکلیف وو نو هغه ټوټه دی نه لیری کوي او ورباندی مسح دی وکړی ﴿احسن الفتاوی ص۶۴ ج۲﴾

مسئله:

د زخم په ځای دی مسح کیږی که مسح هم زیان رساوو بیا معاف ده مسح دي هم نه کوي ﴿تیر ماخذ﴾

د پښو په زخم مسح کول

مسئله:

که چانوک مات شوی وو دوایی ورباندی ولګوله یا په پښه کښی زخم وو او دوایی ورباندی وو هله حکم یی دادي چی په اودس کښی هغه ځای و مینځی که د اوبو بهیدل ورته زیان رساوو په هغه ځای دي مسح کوي او که هغه هم زیانمنه وه بیا دی پریږدی یعنی نه دی مینځی او نه دی ورباندی مسح کوی دواړه د شرعی عذر له امله ساقطیږی ﴿در مختار ص ۵۱ ج۳﴾

يادونه: كه په زخمځاى لوندلاس تيرول رساوو نو په پټى د پاسه دي مسح وكړى ﴿محمد رفعت﴾

د سر درد په مهال مسح كول

مسئله:

كـه د چا سـر دومـره درد كاوو چې اودس په مهال يې وربانديٰ مسح كولاى نشـى او نـه يې د غسـل پـه وخت كنبـى مينځلاى شواى هغه شخص دى اودس او غسـل پـه ځـاى تـميم ووهـى هـمدا شيـان د سر د مسح فرضيت ورڅخـه سـاقـطيږى كه په سر باندى پټى لګيدلى وه د سر مسح فرضيت ور څخـه سـاقـطيږى كـه پـه سر باندى پټى لګيدلې وه پر مـسح كول لازم دي .

مسئله:

هـمدا شيـان د سـر مينـځل هم ساقطيږى هغه دي مسح كړي كه مسح هم زيـانْ رساوو ساقيـطيږى ددې شـخـص حكم داسي كيږى لكه سر چې نه لـري او دا مسـح داسـى سـاقـطيږى لـكـه اصلا چې هغـه عضو نـه وي ﴿در مختار ص ۲۲ ج ۳﴾

په دانو باندیٰ مسح كول

كـه د چـا پـه مـخ بـانـدى دانې وي وينـى او نو ترې بهيدل د اودس كولو پـه وخت كښـى يې په مخ وينى بهيدلې نو په داسى حالت كښـى به هر وخت تميم وهى او لمونځ به كړي

جـواب: كـه رښتيـا هـم تـكليف دومره ډير وو چې نه وربانديٰ او به بهدلاى شواى او نه يې مسح وربانديٰ كولاى شواى تميم دى وهى

مسئله:
که په دواړو لاسونو دانې وی او هغوی ته او زیان رساوو نو تمیم ورته صحیح دی که یی د اودس کولو لپاره بل چا مرسته کوله نو د تمیم په جواز کښې اختلاف دي غوره او احوطه خبره عدم جواز دي .

که په زخم پټی تړلې او ترې وینه وه

پوښتنه: له زخم څخه وینه بهیدله پټی یی ورباندی ولګوله ترې لاندی وینه راوتله خو تر پټی نه راوتله آیا په دې وینه اودس ماتیږی
جواب: که دومره وینه راتله چې نه بندیدله او بهر راوتله اودس ماتوی
﴿فتاوی رحیمه ص۲٦۹ ج۴﴾

په پلستر باندی د مسح کولو مسئلې

۱: که د کومی ناروغتیا له امله یوه حاذق ډاکټر د چا د کوم غړی له مینځلو ممانعت وکړ د هغه ځای مینځل فرض نه دي که مسح ورته زیانمنه نه وه مسح دي کړی او که هغې هم زیان درلود مسح هم ورته معاف ده .
۲: په اوداسه کښې چې د کومو غړو مینځل فرض دي که په هغوی کښې زخم وو یا درد یا بل تکلیف وو که اوبه ورته زیانمنی نه وي مینځل یی فرض دي او کنه مسح دی ورباندی وکړی که مسح هم ورته نقص رساوو هغه دي هم نه کوي ﴿در مختار﴾
۳: که لاسونه زخم وو یا ورباندی پټی لګیدلې وي او لاسونه یا یی په

لاسونو نور اندامونو مينځلاى نشواى تميم دي وكړي كه يې كولاى شواى .

۴:كه د كومې ناروغتيا له امله چا په لاس پښو يا مخ باندى دوا وهلې وه كه يې زيان نه رساوو نو مينځل يې فرض دي كه هغه دوا تر مينځلو وروسته ليرى شوه كه د روغوالي له امله ليرى شوى وه نوره مسح ورباندى نه كيږى او هغه ځاى به مينځي .

۵:كه د چا لاسونه له څنګلو او پښې له بيډيو سره غوڅې شوى وې په داسې حالت د لاس او پښو مينځل ورباندى فرض نه دي كه مخ هر څرنګه مينځلاى شي او د سر مسح كولاى شي خو ښه كنه هغه هم فرض نه دي مخ دى د تميم په نيت په ديوال يا بل څه پسې و مښي .

٦:كه د چا لاس يا پښه غوڅه شوې وه څنګله يا څه زياته برخه يا بيډى يا څه زياته برخه پاته وه مينځل يې لازم دي ځكه تر هغوى لاندى برخه او د هغوى مينځل فرض دي .

۷: كه لاسونه له څنګلو او پښې له بيډيو سره غوڅې شوې وې مخ زخمي وو مينځل او يا مسح يې ممكن نه وه په داسې صورت كښې او دس كول فرض نه دي .

۸:كه چا له څه امله دواړه غوږونه يو ځاى مسح كولاى نه شواى يا بې يو لاس وو يا يې يو لاس بيكاره وو هغه دې لومړى ښى او بيا كيڼ غوږ مسح كړى .

۹:په اودس كولو كښې چې كوم غړى مينځل كيږى كه هغه مات وو زخمي يا ورباندى پټى تړلې شوې وه هغه درې صورتونه لري .

لومړۍ صورت: د پټۍ خلاصول مضر وو او به که مضرې وی او که نه وي په دې صورت کښې که په پټۍ مسح کول زيانمن نه وو په ټوله پټۍ به مسح کوي که هغه به زخم ځای او که په روغ ځای که د زخم روغی برخی ته زيان رسيده هغه دي هم پريږدي .

دوهم صورت: د پټۍ خلاصول مضر نه وو خو تر پرانسلتو وروسته يې نه په خپله تړلای شوای او نه بل څوک وو مسح دی کړی که مسح هم ضرر رساوو هغه هم ورته معاف ده .

دريم صورت: د پټۍ پرانيستل مضر ته ه وو او بيا يې تړلو هم ستونزو نه درلودنو که اوبه ورته زيان نه رساوو مسح دی کړی او کنه پټۍ دی ورباندی وی که زخمی برخی ته مسح زيان رساوو مسح دی کړی او که نه پټی دی ورباندی وتړی بيا دي مسح کړی که بيا هم ضرر رسيده هغه هم ورته معاف ده .

۱۰: که پټۍ داسي تړله کيدله چی په مينځ کښی يی د جسم روغه برخه هم راتلله په ټوله پټۍ دی مسح وکړی دا په هغه صورت کښی چی که د پټۍ پرانستلو او د هغې ځای مينځلو زيان درلود .

۱۱: که د پټۍ د پاسه بله پټۍ تړله شوې وه په هغې هم مسح جائز ده ﴿علم الفقه ص۶۴ ج۱﴾

د موزو او پلستر د مسح تر مينځ توپير

مسئله:

که کومې دانې يا زخم وی او هغه يی مينځلای نشوای يا يی مسح هم ورباندی کولای نه شوای يعنی همدغو مره کمو اوبو هم ورباندی بده

اغیزه کوله یا د پټی په لیری کولو کښی تکلیف ډیر یده نو په پټی او پلستر مسح جایزه ده که څه هم ترې لاندی ملهم ناپاکه وو په همدې مسح اودس کیږی خو د ناپاکی له امله لمونځ نه کیږی .

مسئله:

که ناپاکه ملهم دیوه ﴿درې میاشتی﴾ څخه زیات نه وو لمونځ هم ورسره کیږی ﴿هدایة﴾

مسئله:

که په سرو اوبو مسح نقصان رساوو په تودو اوبو دي مسح وکړی که ددو پټیو تر مینځ څه اندازه لوڅه وه که یی مینځلو پټی ته تاوان رساوو هغه دي هم مسح کړی .

مسئله:

که یی تر پټی لاندی په زخم مسح کولای شی خو په اړولو یی بیا بله پټی پیدا کولای شوای نو په پټی مسح صحیح ده

په موزه باندی کوتی مسح صحیح ده خو په پټی باندی شرط داده چی په ټوله به مسح کوی یعنی کوم چی نشی مینځلای په هغه ټول به لونه لاس راکاږی .

مسئله:

په پټی کښی دا شرط نه ده چی او داسه باندی وتړله شي بلکی چی ضرورت پیښ شو تړله کیږی او اودس کولو په مهال ورباندی مسح کیږی په پټی هغه مهال مسح جایزه ده چی زخم مسح کیدلای شي

مسئله:

که زخم تر روغتيا وړاندي پټۍ ولويدله يا يې پرانستله مسح نه باطليږي لومړنى مسح كافي ده بيا مسح ضرور نه ده ﴿داد موزي خلاف ده﴾

مسئله:

كه لومړنى پټۍ بدله شي بله وروباندي وتړي بيا مسح ورباندې ضروري نه ده خو مستحب ده چې بيا مسح شي .

مسئله:

د زخم يا پټۍ د مسح لپاره كومه موده مقرره نه ده بلكي تر څو ضرورت وي تر هغه دى ورباندي مسح كوي

مسئله:

د اودس له ماتيدلو سره مسح هم باطليږي چې نور اودس كوي همدا مسح به هم ورسره كوي

مسئله:

د اودس له ماتيدلو سره مسح هم باطليږي چې نور اودس كوي همدا مسح به هم ورسره كوي

مسئله:

كه زخم روغ شي مسح هم باطليږي كه ى اودس وو او زخم روغ شو يوازې هغه ځاى مينځل كافي دي ټول اودس كول ضرور نه دى .

مسئله:

لكه څرنګه چې په اوداسه كښي په زخمي ځاى مسح وكل جائز دي همدا سي په غسل كښي هم په زخم مسح كول روا ده مثلا كه په سر ملا يا مټ

زخم وي په هغه دي مسح کوي او نور بدن دي مینځی که یی په زخم مسح کولای نه شوای پټی دي ورباندی و تړی په هغې دي مسح وکړی د غسل په ځای مسح هغه وخت باطلیږی چی بیا غسل واجب شی او یا زخم روغ شی .

مسئله:

که ترنیم بدن زیات زخمی وو په زخمو به مسح کوي د نور بدن مینځل ضرور نه دی تمیم ورته کافی دي که په پټی مسح کولو زیان درلود یا یی روغتیا ځنډوله هم مسح معاف ده

مسئله:

تر څو چی ضرورت وو خوا اوشادي مینځی او د پلستر ځای دی پریږدی .

مسئله:

که لاس یا پښه زخم شوّل موم وازکه او واسلین یا بله دوائی ورباندی ووهله که د هغې په لیری کولو او مینځلو کښی تکلیف نه وو په هغوی د پاسه دي اوبه تیری کړی همدا کافي ده ﴿طهور المسلمین فتاوی دارالعلوم او عالمګیری﴾

یادونه: په جبیره ﴿پټی پلستر یا بل څه﴾ باندی مسح د موزو له مسح څلور توپیره لري

اول: که پټی د روغتیا له امله ولویدله یوازی هغه ځای مینځل کیږی خو موزه که یوه هم وایستله شي ددواړو پښو مینځل ضروری دی

دوهم: که پټی پرته د زخم له رووغتیا څخه ولویدله بیا دي بندی شي د مسح اعاده ضرور نه ده

دریم: د جبیري د مسح د وخت حد معلوم نه دي
څلورم: په زخم د پټۍ تړل په اوداسه سره شرط نه دي که پرته له اودس څخه وتړله شي مسح وربانذې صحیح ده اودس ورته شرط نه دي

دحیض او استحاضې بیان

سوال﴾

مسئله د مضالة یا مسئله د المحیرة چې دیوې ښځې څخه د خپل د حیض د ورځو شمار څنې ورک دی او دوهم ئې مکان څنې ورک دی دریم دواړه څنې ورک دی نو دا ښځه به اوس په خپلو لمنځو کی او ورځو کی څه عمل اجراء کوی؟

جواب﴾ حیض او استحاضہ

مسئلة المضالة وتسمی بالمحیرة و فیها وثلاثة فصول الخ .

أما الاول وهو ما اذا نسیت عدد أیا مهابعد ما نقطع الدم عنها أشهر او استمر عملت أن حیضها فی کل شهر مرة فا نها تدع الصلواة ثلاثة أیام من أول الا ستمرار لتیقنها بالحیض فیها ثم تغتسل سبعة أیام لکل صلاة . لتردد حالها فیها بین الحیض و الطهر والخروج من الحیض ثم تتوضأ عشرین یوما لوقت کل صلاة لتیقنها فیها بالطهور یأتیها زوجها و أما اذا لم تعلم أنه فیها کل شهر مرة فهو علی ثلاثة أوجه أحدها ما اذا لم تعلم عدد حیضها و طهرها فانها تدع الصلاة ثلاثة أیام من أول الا ستمرار ثم تصلی سبعة بالا غسال لوقت کل صلاة ثم تصلی ثمانیة بالوضوء لوقت کل صلاة لتیقنها بالطهر فیها و یأتیها زوجها فیها ثم تصلی ثلاثة بالوضوء لوقت کل صلاة

لتردد بین الطهر و الحيض ثم تصلى بالاغتسال لكل صلاة كما قدمناه و ثانيها اذا علمت أن طهر ها خمسه عشر و لم تعلم عدد حيضها فانها تدع الصلاة ثلاثة أيام ثم تصلى سبعة بالغسل ثم تصلى ثمانيه بالوضوء باليقين ثم تصلى ثلاثة أيا م بالوضو ء بالشك فبلغ ذلک أحد و عشرين يوما فا ن كان حيضها ثلاثة فابتداء طهرما الثانى بعد احد و عشرين يوما و ان كان حيضها عشرة فابتداء طهرها الثانى بعد خمسه و ثلاثين فتصلى فى هذا الاربعة عشر التى بعد الاحد و العشرين بالاغتسال لكل صلاة للتردد بين الثلاثة ثم تصى يو ما بالوضوء لوقت كل صلاة بيقين لتيقنها بالطهر لانه اليوم الخامس عشر منه الذى هو السادس والثلاثو ن ثم تصلى ثلاثة بالو ضوء لوقت كل صلاة للترد د فيها بين الحيض والطهر ثم تغتسل لكل صلاة أبدا لانه ما من ساعة الا و يتو هم أنه وقت خرو جها من الحيض و ثالثها اذا علمت أن حيضها ثلاثة ولا تعلم عد د طهر ها فا نها تدع الصلاة ثلاثة أيام من أول الا ستمرار ثم تصلى خمسة عشر يو ما بالوضو ء لوقت كل صلاة لتيقنها بالطهر فيه ثم تصلى ثلا ثة بالوضو ء للتردد بين الحيض والطهر ثم تغسل كل صلاة أبد التو هم خرو جها عن الحيض كل ساعة و ان علمت انها كانت تحيض فى كل شهر مرة من أوله و آخره و لا تدرى العدد تتو ضأ ثلاثة أيام فى اول الشهر لتردد حاليها فيهاأيام ثم تتو ضأ الى اخر الشهر و تغسل مرة واحدة لتمام الشهر لجواز خروجها من الحيض ان الشک فى العشرة الاولى والا خيرة لا فى الوسطى و اما الثانى و هو الا ضلال بالمكان فاصله انها متى أضلت أيا مها فى

ضـعـفهـا مـن الـعـدد أو اكثـر من الضعف فلا تتيقن بالحيض في شيء منـه كـمـا لـو أضلت ثلاثه في سنة أو اكثر و متى اضلت ايا ما في دون ضـعـفهـا مـن الـعـدد فـانهـا تـتـيـقـن بـالحيض في اليوم الثالث فانه أول الـحـيـض أو آخـره فـان عـلـمت ان أيا مها كانت ثلاثة ولا تعلم موضعها مـن الشـهـر تـصـلـى ثلاثة آيام من اول الشهر بالوضوء لوقت كل صلاة للتـرد بيـن الـحـيـض والـطهـر ثـم تـغـتسـل سبعة و عشرين لكل صلاة لتـوهـم خروجها من الحيض في كل ساعة وان علمت أن أيا مها أربعة تـوضـأت فـى الاربعة ثـم اغتسلت لكل صلاة الى آخر العشر و كذا لو عـلـمت ان أيا مهـا خـمسة تـوضـات خمسه ثم اغستلت الى آخر العشر ولـو عـلـمت ان أيا مهاستة توضأت أربعة من أول العشر و تدع الصلاة والـصـوم يـو ميـن لتيـقـنهـا بـالـحـيـض فيهـا لـمـا قد مناه من الاصل ثم تـغـتسـل أربـعـة لـكـل صـلاة لتوهم خروجها من الحيض في كل ساعة وان عـلـمـت ان أيا مها سبعة صلت بالوضوء ثلاثه أيام من اولها و تدع أربـعـة أيـام لتيـقـنهـا بالحيض فيها ثم تغتسل لكل صلاة أيام و على هذا الـقـيـاس الـثـمـانيـه والتسعة و أما الثالث و هو الاضلال بهما كما اذا استـحـيـضـت و نسيت عدد أيا مها و مكا نها فا نها تتحرى و ان لم يكن لهـا رأى اغـسـلـت لـكـل صلاة على الصحيح البحر الرائق/ جلد١/ صفحه ٢٠٨/ والى صـفـحة ٢١٠/ وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نور الايضاح/ جلد١/ صفحة/ ٢٠٣/ والى صفحة ٢٠٤/ و فتاوى الهندية / جلد١/ صفحة ٤٠/ فان لم يستقررائها على شي بل تر ددت بين الحيض والـطهـر تـوضـأت لـكـل صـلاة و هو الاصح و صلت الواجبات والسنن

الموکدة و قرأت القدر المفروض والواجب علی الرابع و فی الاخیر تین علی الصحیح ولا تدخل مسجدا ولا تمس مصحفا ولا توضأ بالتحری علی الراجح حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار/ جلد۱/ صفحة۱۴۶/ والمخله و تسمی الضالة والتحیرة الخ رد المحتار/ جلد۱/ صفحه۲۰۹/ و الی صفحة/۲۱۰/

﴿اول فصل﴾

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چی د کومی ښځی څخه دی د خپل عادت د ورځو شمیر ځنی هیر سو او دا ښه پوهیږی چی ماته په هر میاشت کی یوار حیض راځی نو اوس حکم دا دی د دی په شان کی چی دا ښځه به دری ورځی لمونځونه پریږدی لمونځونه به نه کوی دا اول استمرار دی ځکه چی د دی یقین دی په داغه درو ورځو کی د حیض چی دا دری ورځی تیری سوی بیا به دا ښځه ﴿۷﴾ او وه ورځی غسل کوی د هر لمانځه د پاره ځکه دا حال د شکمن دی په مابین کی د حیض او د پاکوالی چی دا ﴿۷﴾ اوه ورځی تیری سوی بیا به دا ښځه ﴿۲۰﴾ شل ورځی د هر لمانځه د پاره او د س کوی ځکه چی د دی یقین سی په پاکوالی سره او په داغه وخت کی ئی خاوند د دی و دی ته راتک کولای سی په جماعو سره.

﴿دوهم فصل﴾ هغه ښځه ده چی په یو ځای کی لمونځ وکی او بیا و دی ته علم حاصل سو چی زما خو دری ورځی د حیض پکښی کی دی خو ودی ته په میاشت کی هغه ورځی نه دی ور معلومی چی هغه کومی ورځی دی نو اوس به دا ښځه د میاشتی اولی دری ورځی لمونځونه به

دا کوي او د هر لمانځه د پاره به او دس کوی ځکه د وجی دشک په مابین کی د حیـض او د پـاکوالی بیا چی دادری ورځی ختم سوی بیا به ﴿۲۷﴾ و ویشـت ورځـی غسـل کـوی د هر لـمـانځه د پاره ځکه تو هم ئی سته د حیض څخه د پاکوالی په هر ساعت کی ۔

﴿دریم فصل﴾

هغه ښځه ده چی ځای او شمیر د واړه ځنی ورک وی نه په میاشت کی هغـه ځای ور مـعلوم وی او شمیر ور معلوم وی نو اصلی خبره په دی کی دا ده چی کوم وخت د دی یـقیـن سو پـه پـاکوالی سره خپل په وخت نو په هغه وخت کی لمونځونه او هر لمانځه ته به اودس کوی او روژې بـه نسـی او جـمـاع ورسره جائز دی او کوم وخت چی بیا یقین سو پـه حیـض سره چی دا حیـض دی بیا دی لمونځ پریږدی او روژی دی هم پـریـږ دی او وطـی دی هم نـه ورسـره کیږی او بیا چیری شکمنه سوه په حیـض او پـه پـاکـوالـی کـی چی دا به حیض وی او که به طهر وی نو دی خپـلـه فـکـر و وهـی کـه بیا چیری د دی دپاره فکر نه وی نو دا به لمونځ کوی او د هر لمانځه د پاره به غسـل کوی د پاره د ریوا ښت تر هغه وخت پـوری بـه دا غسـل کـوی تـر څـو چـی دا د حیض څخـه پاکیږی او کـه بیا چیری دا هـمیشـه شـکـمـنـه وی او د دی د پـاره فکر هم نـه وی نو دا بـه هـمیشه غسل کوی د هر لمانځه د پاره پر صحیح روایت باندی . ولا تو طا بـالـتـحری عـلی الا ر جح ولا یحکم لها بشی من حیض أو طهر علی التـعیـن بـل تـأ خـذ بـالا حوط فی حق الأ حکام/ حاشیـة الطحطاوی علی مـراقـی الـفـلا ح شـر ح نـور الا یضا ح ولا توطأ بالـتحری علی الأ ر جح

ولا یحکم لها بشی من حیض أو طهر علی التعیین بل تأخذ بالاحوط فی حق الأحکام/حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح شرح نور الایضام/جلد۱/صفحه ۲۰۴/

نو د دغه تحرا په صورت کی به خاوند جماع هم نه ورسره کوی ځکه دا راجح قول دی او نه به دې ته حکم ورکوي نه دحیض او نه د پاکوالی نو په احکامو کی احتیاط کول دی نو دی مسئلی ته د المضالة یا د ضالة یا د المحیرة مسئله وائی نو باید دا مسئله ښه ایز ده سی ځکه ډیری داسی خوندی او مندی به چی دا مسئله به ورته پیښه وی خو څوک به نه وی چی ورته وائی.

﴿سوال﴾

آیا د هغه ښځې چی د مخ او د شا لاره سره ګډه وی د دی ښځی چی د مخ د اندامه څخه باد را وو ځی دا اودس ئی مات دی او که نه.

جواب﴾

اما المفضاة و هی التی صار مسلک البول والغائط منها واحد أو التی صار مسلک بولها و وطئها واحداً فستحیب لها الوضوء من الریح ولا یجب لان الیقین لا یزول بالشک و هو راجح.

البحر الرائق/جلد۱/صفحه ۳۰/

والریح الخارجة من الدبر و جب الوضوء والریح الخارجة من الذکر و فرج المرائة لا تنقض الوضو علی الصحیح الا ان تکون المراة مضفاة فانه یستحب لها الوضوء کذا فی الجوهر النیرة/فتاوی الهندیة/جلد۱/صفحه ﴿۹﴾ غیر مفضاة أما هی فیندب لها الوضوء﴾

قوله فیندب لها الوضو ولا یجب لان یقین لا یزول بالشک . حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار / جلد۱/ صفحه ۷۸/

و لو کان مضفاة و هی التی صار سبیلها واحدا یستحب لها الوضوء العنایة علی هامش فتح القدیر / جلد۱/ صفحه ۴۷/

سوی ریح الفرج و لذکر لأنه لا ینبعث عن محل نجاسة قبل هذا فی غیر المفضاة و هی من صار مسلکها و احدا فانه یستحب لها الوضوء مجموع الأنمر / جلد۱/ صفحه ۳۰/

لمفضاة و هی التی اختلة سبیلا ها أی مسلک البول و الغائط فیندب لها الوضوء من الریح رد المحتار / جلد۱/ صفحه ۱۰۰/

نو له مزکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چی د مفضاتی ښځی د مخ دعورة څخه چی کوم باد راووځی نو ددی د پاره او دس کول مستحب دی او پر واجب نه دی نو مفضاة ښځه هغه ښځه ته وائی چی و غټو بولو او د کو چنیو بولو لارئی سره ګډه وی .

و د سره د حیض راتلله ممکن نه دی نو که هر څنګه وینه وه خو حیض نه دی او د پنځه پنځوس کالو نه بعد خو عام عادت دا دی چی حیض نه راځی لیکن راتلله ممکن دی نو که سوریا تور رنګ وینه وه حیض دی ورنه ندی)

مسئله (۴) مخکی یی د حیض عادت درې یا څلور ورځی وو بیا په یوه میاشت کی زیاته راغله لیکن د لسو ورځو نه زیاته نشوه نو دا ټول حیض دی او که د لسو ورځو نه زیاته شوه . نو چی څو ورځی مخکی عادت وو هغه حیض دی او باقی استحاضه ده .د دې مثال دا دی چی یوه میاشت

کنبـی زیـات اتـه یا لس ورځی وینه راغله نو دا ټول حیض دی او که د لسو شپـو ورځـو نه یوه لحظه هم وینه زیاته شوه نو هغه درې ورځې حیض دی او باقـی ورځی ټـولـی د استـحـاضـې دی د دې ورځو مونځو نه به قضاء را کرځوی واجب دی .

مسـئـلـه (٦) یـوه ښـځـه ده چـې د هغې مقرر عـادت نشـتـه کله څلور ورځې وینـه راځي کله اوه ورځې دغه رنګ بد لیګی را بد لیګی کله پکښـی لس ورځـی هـم راشـيَ نـو دا ټول حیض دی دا سی ښځې له کچرې یو میاشت د لسو شپو ورځو نه زیاته وینه را غلې وه بس هغه ورځې د حیض دی باقی استحاضه ده .

مسـئـلـه (۷) یـوې ښـځـی لـه همیشـه څلور ورځی وینـه راتلـه او بیا یوه میاشـت ورلـه پـنـځـه ورځـې داخـلـه او بیـا ور پسـې پـه بله میاشت کنبـی پنځلس ورځی وینه راغله نو په دې پنځه ورځی د حیض دی او باقی لس دا استـحـاضـې دی د مـخـکـینـی عـادت اعتبار بـه ئې اوس نه کیګی او دا به کنړلې شی چې عادت اوس بدل شو او پنځه ورځی عادت یی شو نو په دې صـورت کنبـی بـه لـس ورځـی انتـظـار کـوی کـه په لسمه ور ځ وینه بنده نشـوه نـو لا مبی به او ددې پنځه ورځو مونځ به قضا راوړی او نور مونځو نه به قضاء کوی .

مسـئـلـه (۸) چـالـه د لسـو ورځو نه زیاته وینه راغله او خپل ورمبې عادت ورته نه دې معلوم نو دا مسئلې ډیری باریکی وی په دې باره کنبی دې بیا ځـان و عـالـم نـه پـوهـه کـوی دا اتـفـاق هـم ډیـر کـم پیښیږی ځکه یی مونږ مسئلې بیان نه کړې .

مسـئـلـه (۹) يـو جينـي پـه اول وار ويـنـه اوليده نو كه لس ورځې يا څه كم راشي نو حيض دى او كه د لسو نه زياته شوه نو پوره لس ورځې يې حيض دى او باقي د استحاضې دى .
